ځرک

شپاړسم کال، پنځمه، پرلپسې ۱۱۸مه ګڼه،
سرطان – اسد ۱۳۹۹ل، ذي القعدة ۱۴۴۱هـ ق، جولای ۲۰۲۰م

- هو! دخالص بابا رحمه الله یاد پرلمانځلو ارزي!
- د بندیانو پروسه باید تکمیل شي!
- جنګي جرمونه جنایت که اتلولي ده ؟!
- ترکیه د خپل اصالت پر خوا ستنیږي





د نیکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله) د مبارکې پیغام

د دوحې د تړون له مخې د امریکایي اډو تخلیه روانه ده !!

بدر الفتاوی دریم جلد...!

آیا صوفیا پر جومات بدلیدل د کفارو غندنه او د مسلمانانو چو پتیا !



له شیخ الحدیث مولوي محمد عمر جان او پیاوړي لیکوال مولوي شمس الله کمالزاده سره د ځرک ځانګړې مرکې

ځرک

علمي، فرهنګي، ټولنیزه اسلامي خپرونه

شپارسم کال، پنځمه، پرلپسې ۱۱۸مه گڼه، سرطان-اسد ۱۳۹۹ل،
ذي القعده۱۴۴۱هـ ق، جولای۲۰۲۰م

امتياز :

دا متيازخاوند : دافغانستان اسلامي امارت دفرهنګي چارو کميسيون

مسؤل مدير : عبيد تنوير

ليکوال پلاوی : ډاکټر صابر ، حميد ، جميل مېړنی او افضل محمد تراب

ګډون :

افغانستان :	۳۵۰ افغانۍ
پاکستان :	۵۰۰ کلداري
امريکا :	۷۰ ډالره
اروپا :	۷۰ يورو
يوه ګڼه :	۳۰ افغانۍ ۶۰ کلداري

يادونه

حتمي نه ده چې په ځرک کې خپرې شوې مقالې داداري دپاليسي ترجماني وکړي هره ليکنه دليکوال خپل نظر دی.

تخنيکي چارې: تخنيکي څانګه


پتې :

srak_111@yahoo.com

لړليک

بسم الله الرحمن الرحیم

سرمقاله





د دوحې د تړون له مخې

د امریکایي اډو تخلیه روانه ده !!

له څو محدودو او د خدای په وعده باور لرونکو مؤمنانو پرته بل چا ګومان نه کاوه چې یو وخت به پـر افغانسـتان بریـد کـوونکی نړیوال ایتلاف په ګونډو کیږي او د مخکینیو یرغلګرو په څېر به پښې سپکوي .

نولس کاله وروسته، هغه خلک اوسویني چې انګېرنه یې ناسمه وه. له څو ناخلفو پرته، ربښتینو افغانانو د تسلیمۍ لاسونه پورتـه نه کړل او د یرغلګرو یاران نه شول، بلکې د مقاومت د بیرغ په پورته کولو سره یې د خپلو پلرونو او اجدادو پر پلونو پـل کېښـود. وسـله واله مبارزه له شکه پرته له درنو قربانیو سره مل وه، خو همدا قرباني وې چې نن موږ له خپلې خاورې په ځوړنـدو سرونـو د یرغلګـرو د وتلو شاهدان یو .

لله الحمد، وینو چې اشغالګر په چټکۍ سره خپلې اډې تخلیه کوي او په تخرګونـو کـې د بیرغونـو پـه نیولـو سره مـخ پـر خپلـو هېوادونو درومي .

په دې ورستیو دو اونیو کې دهیواد په کچه امریکایانو څلور مستحکمې اډې تخلیه او جنرالانو یې څرګنده کړه چـې دا کـار یـې د دوحې دتاریخي تړون سره د وفادارۍ او ژمنتیا له مخې کړی .

له ویاړمن افغانستان څخه دامریکایي قواوو په دغه ډول وتل دکابل رژیم اوهغو لپاره چې دامریکا دغلامۍ ځنځیرونه یـې پـه غـاړه کې اچولي وو حتی تصور یې هم نه وو کړی ؛ ځکه دوي وئیل چې امریکا چیرته ولاړه شي بیرته یې وتل نشته !!

خو مؤمنان هغه وخت هم وو چې د خدای جل جلاله د نصرت په وعده یې پوره ایمان و او د ذرې برابر شک یې پکې نـه و. دا د خدای په نصرت د دوی باور و چې د نړدې دوو لسیزو سترې مزل ستومانه نه کړل. د افغانستان مقاومت یوځـل بیـا د نـړۍ ولسـونو تـه الهام ورکړ چې حق به تل بریالی وي – ولوکه تېوله نړۍ یې پر ضد ودرېږي. ان شاء الله تعالی

د نېکمرغه لوی اختر په مناسبت د عالیقدر امیر المؤمنین

شيخ الحديث مولوي هبة الله اخندزاده (حفظه الله)

د مبارکۍ پیغام

بسم الله الرحمن الرحیم

الله أكبر الله أكبر، لآ إله إلا الله والله أكبر، الله أكبر ولله الحمد

إن الحمد لله نحمده ونستعينه ونستغفره، ونعوذ بالله من شرور أنفسنا ومن سيئات أعمالنا من يهده الله فلا مضل له، ومن يضلل فلا هادي له، وأشهد ألا إله إلا الله وحده لا شريك له،وأشهد أن محمدا عبده ورسوله صلى الله وسلم عليه وعلى آله وصحبه أجمعين، أما بعد:

قال الله عزوجل: قُلْ إِنَّ صَلَاتِي وَنُسُكِي وَمَحْيَايَ وَمَمَاتِي لِلَّهِ رَبِّ الْعٰلَمِينَ. [سُورَةُ الاٴنعَام : ۱۶۲]

د افغانستان مسلمان ولس، مجاهدینو، د شهیدانو کورنیو، معلولینو، بندیانو او ټول اسلامي امت ته!

السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

تر هرڅه وړاندې تاسو ټولو ته د لوي اختر په مناسبت مبارکي وایم، له الله تعالی څخه سوال کوم چې ټولې قرباني، جهادونه، هجرتونه او د اسلام لپاره ستړیاوې مو په خپل در بار کې قبولې کړي، د شهیدانو دې الله تعالی شهادتونه قبول کړي، بندیان دې الله تعالی له بنده را آزاد کړي، د غمجنو کورنیو دې الله تعالی غمونه په خوشحالۍ بدل کړي او د یتیمانو دې ښې پالنې او روزنې لپاره دې الله تعالی ښه زمینه مساعده کړي. آمین یارب العلمین

مجاهدینو وروڼو!

د هېوادوالو امنیت، د هغو له ځان، مال، عزت او ګټو څخه دفاع د خپل ځان عملي وجیبه وګڼئ، د ملکي خلکو له ژوند سره نهایت ډېر احتیاط وکړئ، د خلکو ترمنځ د دعوو او جنجالونو د حل او فصل لپاره د محاکمو او ذي صلاح اداروسره په مرسته کې خپله ټوله سعې وکړئ، د لویو لارو د امنیت ساتلو، د تجارانو

لپاره د اموالو د انتقال په وخت کې د سهولتونو رامنځته کولو او له هغوی سره د ښه چلند لرلو په برخه کې جدي پاملرنه وکړئ.

څرنګه چې د الله تعالی په نصرت او ستاسې په بې دریغه سرښندنو او قربانیوسره د اسلامي نظام د راوستلو په درشل کې یو (ان شاءالله العزیز وماذالک علی الله بعزیز)، نوخپل صفونه لاقوي او منظم کړئ، خپل منځي یو والی مو لا پیاوړی کړئ، ځکه دا هرڅه د یو والي او اتفاق نتیجه ده، اطاعت او تقوا ته لاهم ډیره توجه وکړئ او د الله تعالی شکر اداء کړئ او له هر ډول هغه حرکت او ویناوو څخه چې الله تعالي پرې ناراضه کیږي ډډه وکړئ، ځکه چې دا کامیابي په ناکامي بدلوي.

افغان مجاهد ولسه!

زموږ جهاد د اشغال د خاتمې او د سوچه اسلامي نظام د اقامې لپاره وو او دی، ځکه نو خپل مجاهد او کړیدلي ولس ته ډاډ ورکوو چې د دوی له آرمانونو سره به جفا نه کیږي ان شاءالله تعالی، واضح پیغام مو دا دی چې د قدرت انحصار نه غواړو، د افغانانو ټول قومونه او پرګنې یوه او بل ته ضرورت لري؛ بلکې د اسلامي نظام تکامل، خپلواکي او قوت دافغانانو په اتحاد او اتفاق پورې تړلی دی، اسلام موږ ټولوته د اسلامي ورور ولی، امانت داری او کار اهل کار ته د سپارلو امر کوي، د ولس هر وګړی حق لري چې د ژوند دټولو حقوقو او امتیازاتو څخه ګټه واخلي او سیاسي او ټولنیز حیثیت یې د اهلیت او تقوا پر بنسټ وټاکل شي.

افغانستان د ټولو افغانانو ګډ کور دی د دغه کور ابادول، د دیني او ملي ارزښتونو ساتل، او له خپلواکۍ او ځمکنۍ بشپړتیا څخه یې دفاع کول د هر افغان مسؤولیت دی.

زموږ او ستاسو روانه مبارزه د پورته اهدافو لپاره یوه وسیله ده، که دغه ستر هدفونه په خبرو او مفاهمې سره تر لاسه شي، موږ یې پلوي یو او صادقانه او جدي خبرې اترې د ستونزو د حل یوه اساسي لاره بولو.

موږ له چا سره ذاتي دښمني نه لرو، بلکې د هېواد د خپلواکۍ اویوه سوچه اسلامي نظام د قیام لپاره مو وسله پورته کړې ده، د پورتنیو اهدافو د پوره کیدو په صورت کې له ټولو سره سوله ایز ژوند غواړو.

د بین الافغاني مذاکراتو په اړه:

له امریکایانو سره په دوحه کې د تړون لاسلیک، بیا وروسته د بین الافغاني مذاکراتو لپاره کوښښونه هغه څه دي چې اسلامي امارت یې په اړه خپل مسئولیت ادا کړی دی.

اوس په نورو جهتونو پورې اړه لري چې څومره له دې مهیا شوي فرصت څخه سمه استفاده کولای شي.

د بندیانو تبادله چې د زرګونو هیوادوالو او غمځپلو کورنیو د خوشالۍ او ډاډ سبب شوه، یو مهم پرمختګ و چې باید مقابل لوري ځنډ نه وای په کې را وستی، داچې موږ د سولې په لور قدمونه اخلو د بندیانو خلاصون یې یوه لویه برخه ده چې هم اعتماد رامنځ ته کوي او هم د سولې لار لنډوي.

داخلي جهتونه دې د بین الافغاني خبرو په وړاندې پراته خنډونه بې له ځنډه لرې کړي، د لنډ مهاله ګټو د تقسیم پرځای دې د هېواد علیا مصالحو ته ترجیح ورکړي، تر څو افغانان په خپله د جګړې د داخلي موجودو او بالقوه عواملو د له منځه وړلو، هېواد ته د دائمي سولې د راګرځولو او د راتلونکي اسلامي نظام په اړه یوه ګډ تفاهم ته سره ورسیږي.

د بهرنیو ځواکونو په اړه:

دا یو ښه انکشاف دی چې د دوحې تړون د عملي کیدو په لاره کې امریکایانو او متحدینو یې له افغانستان څخه د خپلو عسکرو د بیرته ایستلو لړۍ پیل کړې.،



پنځه اډې یې تخلیه کړې او له لاسلیک کړي تړون سره سم به امریکایان او بهرني متحدین یې له افغانستان څخه خپل ټول نظامي ځواکونه او غیر دیپلوماتیک پرسونل وباسي.

اسلامي امارت له امریکا سره لاسلیک کړي تړون ته ژمنتیا لري، د امریکا د حکومت اړوند ملکي او پوځي ارګانونه او متحدین یې هم باید له اسلامي امارت سره کړي تړون ته په ژمنتیا سره، په ناموجهو څرګندونو او تبلیغاتو د امریکا د دې اوږدې جګړې ختمولو په لاره کې موانع ایجاد نه کړي.

د امریکا متحده ایالات د تړون د تطبیق غوندې لویه او مهمه پروسه کې باید له ډېر جدیت، سرعت او تدبیر څخه کار واخلي، د تیرو نولسو کلونو څخه زده شوې تجربې باید مخې ته کېږدي، بیا خپل مسئولیت په ښه ډول ادا کړي، مثلا د توافقنامې خلاف د بندیانو د خلاصون لس ورځنۍ پروسه څلورو میاشتوته غزول، لا هم د تورو لستونو په خپل حال پاته کېدل، وخت په وخت ډروند، بمبارد، چاپې او توغندیز بریدونه کول او بیا په ناموجهو دلایلو توجیه کول د هیچا په ګټه نه دي او نه هم دا ډول حرکات نور د جنګ په ګټلو کې رول لري؛ بلکې برعکس ستونزې ځیږوي، په دې اړه هم باید امریکا او هم نوره نړیواله ټولنه جدي واوسي او نور مشکلاتو ته د پای ټکی کېږدي.

لویه ستونزه داده چې د افغانستان په اقتصادي منابعو او ذخایرو او چوکیو د ټولنې له درد او غوښتنو ناخبره یوه داسې وړه ډله تحمیل شوې چې هغوی د افغانستان د علیا ګټو او ملي مصالحو په غم کې نه دي، د لنډمهاله ګټو او اقتدار په کشمکش مصروف دي، د هېواد اوږد مهاله کامیابي او ښیرازه اهمیت نه ورته لري، ملي او مهمې پروسې له ځند او خند سره مخ کوي، لوړ مصالح په خطر کې اچوي، چې نړیواله ټولنه باید همدې ستونزې ته متوجه واوسي.

د نړیوالو سره د اړیکو په اړه:

په افغانستان کې سوله او امن راتلل د ګاونډیو او سیمیزو هیوادونو په شمول د ټولې نړۍ په ګټه ده.

اسلامي امارت د نړۍ له ټولو هېوادونو سره د ښه چلند پلوی دی، له اسلامي هېوادونو سره د ورورۍ په چوکاټ کې ژوند کول او یو له بل سره په همکاریو بناء اړیکې غواړي، له ګاونډیو هېوادونو سره د حسن همجوارۍ او د اعتماد وړ فضا رامنځته کولو باندې تاکید کوي، د هیڅ هېواد په کورنیو چارو کې مداخله نه کوي او له نورو هېوادونو څخه هم غواړي چې زموږ په کورنیو چارو کې مداخله ونه لري، څکه همدا ډول مثبت تعامل کولای شي هم موږ او هم نورو هېوادونو ته په امنیتي، اقتصادي او اجتماعي برخو کې ګټور ثابت شي.

د بیا رغونې په اړه:

له افغانستانه د بهرنیو ځواکونو له وتلو څخه وروسته اسلامي امارت غواړي چې د یوه سوچه اسلامي

نظام تر چتر لاندې د هېواد د بیا رغونې او پرمختګ لپاره جدي ګامونه واخیستل شي.

له بیت المال څخه سالمه او په پوره امانتدارۍ سره استفاده وشي، د ویجاړ وطن د بنسټونو د احیا لپاره ښه پلانونه وسنجول شي، د هېواد د علیا ګټو په نظر کې نیولو سره د نړیوالو اقتصادي پانګونو لپاره زمینه مساعده شي، ترڅو مو ویجاړ او جنګ ځپلی وطن د بیا رغونې او هر اړخیز پرمختګ په لور ګړندي ګامونه واخلي، اقتصاد مو په پښو ودرېږي، ښارونه او کلي مو آباد شي، هېوادوالوته مو کار پیدا شي، له فقر، تنګ لاسۍ، مسافرۍ او په نورو هېوادونو کې له کړاوګاللو څخه را وګرځول شي، داسلامي شرعي نظام تر سیوري لاندې روښانه، خوشحاله او بې احتیاجه ژوند ولري، له سعادت څخه برخمن او د سولې په فضا کې دآرام ساه واخلي.

د تعلیم اوتربیې په اړه:

تعلم او زده کړه د ژوند له مهمو اړتیاو څخه ده، نوی نسل او ځوان کهول باید د علم او پوهې په ګېڼه ځانونه ښایسته کړي، د علم او پوهې حاصلولو ته متوجه شي او خپل قیمتيوخت ضائع نکړي.

د هېواد هرې برخې ته د تعلیمي بهیر رسول زموږ له مهمو هدفونو څخه دي، له همدې امله د اسلاميامارت مسؤلینو او ټولو مجاهدینو ته لارښونه شوې چې د ولس د بچیانو د تعلیم او تربیې په برخه کې ډېره توجه وکړي، د تعلیميمراکزو، مدارسو او ښوونځیو د جوړولو په برخه کې زمینه مساعده کړي او پوره همکاري ورسره ولري.

په مخالف صف کې د جنګېدونکو په اړه:

په مقابل جانب کې جنګېدونکو افرادو او مخالفینو ته یوځل بیا پیغام ورکوو چې له جنګ او مخالفت څخه لاس واخلي، د اسلامي امارت د عفوې غېږه یې په مخ کې خلاصه ده، موږ نه غواړو چې د دوی کورنۍ بې سرپرسته شي، کوښښ به مو دا وي چې دوی ته قناعت ورکړو، ترڅو له مجاهدینو سره یوځای او ژوند یې وژغورل شي، د همدې هدف لپاره موږ په خپلو تشکیلاتو کې د ارشاد او دعوت، جلب او جذب کمیسیون جوړ کړی دی.

د لوائحو او اصولو د ښه تطبیق په اړه:

د اسلامي امارت ټول مسئولین، مجاهدین او کارکونکي دې د خپل نظام د لا پیاوړتیا او قوت، اداري نظم او د صف د وحدت ټینګ ساتلو لپاره د اسلامي امارت د لوائحو، طرزالعملونو او په مختلفو ساحو کې د امارت د مقام د فرامینو او هدایاتو د عملي کولو په برخه کې خپله ډېره سعیه او کوښښ وکړي، څکه په دې کار سره زموږ د هېوادوالو حقوق تأمین کیږي، امنیت ټینګیږي، د هیواد یو والی مضبوطیږي او ملي ګټې مو خوندي کیږي.

دا چې د لوی اختر دا مبارکې ورځې د خوښۍ او له اړو خلګو سره د همدردۍ ورځې دي باید شتمن او وس لرونکي هېواد وال له اړو، په تېره د هېواد له یتیمانو، کونډو او محتاجه کورنیو سره مرسته وکړي او د خپل توان په اندازه د هغوی لاسنیوی وکړي تر څو هغوی هم کم ترکمه د اختر په شپو ورځو کې له محتاجي او اړتیا څخه خلاص وي.

په اخیر کې یو ځل بیا ټولو ته د نېکمرغه لوی اختر مبارکي وایم، ټول طاعات اوعبادات مو قبول شه. والسلام

د اسلامي امارت زعیم امیرالمؤمنین

شیخ الحدیث مولوي هبة الله اخندزاده

۱۴۴۱/۱۲/۷هـ ق

/ ۱۳۹۹/۵/۷هـ ش ـ ۲۰۲۰/۷/۲۸م



عابد

جنګي جرمونه جنايت که اتلولي ده ؟!

داسې ښکاري چې نيمه پېړۍ په دې خاوره ارام حرام دی اوله نيمې پېړۍ ناورينونو او ناکراريو وروسته ګوندې داخاوره دارام ساه واخلي . دثور د (۷مې) منحوسې کودتا پر ۴۲ کال ور ګډ یو اوله هغې ورځې ترننه مو پرخاوره کراري نه ده راغلې، اوس دامريکايانو له وتو سره که په بين الافغانی مذاکراتو کې دافغانانو ترمنځ پر يوه خبره يووالي ته رسيږو او له نورو خطرونوهم ژغورل کيږو، نو شايد چې ۸ کلونه نور هم واخلي چې په دې سره به زمونږ دغميزو نيمه پېړۍ پوره شي .

زمونږ د دې اوږدو غميزو کورني لاملونه به هم ډېر وي، خو پر کورنيو لاملونو سربېره يې بهرني دا ډېر مؤثر اوعمده بلل کېدای شي او تربل هر چا رومبی دلته پخپله دبشر او انساني حقوقو نړيوالو مدافعينو له خپلو معيارونو پښې اړولې او تول هغه څه يې دلته تر پښو لاندې کړي، چې نړۍ ته يې دانساني خواخوږۍ اوبشريت دحقوقو په نامه ور پېژندلي وو، همدا مو دغميزو دتسلسل دنه قطع کېدو سترلامل دی.که د دوی ګتې ورسره خوندي کيږي نو د هررنګه جنايتونو جاني به مبراء وي، خو که يوڅوک بيا دخپلو حقوقو لپاره غږ پورته کوي، نو هر ډول باطلې ټاپې پرې لګوي او د بشر دښمنان يې بولي .

کله د يوه شخص پرمذهبي کردار خبره دومره نړيواله کړي چې پرهيواديې اقتصادي بنديزونو ته خبره ورسوي او کله بيا په رڼو سترګو وينې چې د رزګونو انسانانو قاتل وي، نه يوازې داچې پرهغه کوم نړيوال بنديز او دبشر ـ ضد کړنو دوسيه نه راپورته کوي، بلکې له ډېرو نړيوالو مراعتونو يې برخمن وي !!

نوره ټوله لرې موده به پرېږدو دڅونې په ډول به دا دپرون کړنه را واخلو، عبدالرشيد دوستم په افغانستان کې ښکاره او د ټولو افغانانو په حکم او رايه جنګي مجرم ، دسلګونو نه! بلکې د زرګونو افغانانو قاتل دی، پرون چې دلته يوه لاسپوڅي حکومت ديوه سياسي سازش اومجبوريت له مخې هغه ته دمارشالۍ رتبه ورکوله او په دې توګه يې د ده هرډول کړنې مجاز کړې؛ هيڅ يوه بشري نهاد غږ پورته نه کړ، په داسې حال کې چې له دوی سره يې هم د ډېرو سرغړونو دوسيې ثبت دي، هسې خو چې يوه وړه حقوقي مسله وي بې ځايه دومره وپړسول شي چې تر ورځو ورځو يې په رسنيو کې دبشر ـ دخواخوږو رسمی او غير رسمي ادارو له لوري تسلسل نه قطع کيږي، خو که يوڅوک بيا دانسانانو د نورو حقوقو تر څنګ دانسان ژوند اخلي په شکنجه او وحشت يې وژني، په وړاندې يې د دغو مؤسساتو له لوري ترهغو غبرګون نه ښودل کيږي ترڅو پکې بهرني او کورني مصلحتونه نه وي خوندي شوي .

که دافغانستان په اړه د دغو سازمانونو راپورونـه وڅېړل شي، نو وبه کتل شي چې تر ډېره دانسانانو په مرگ او وژنو نه، بلکې له دې په راښـکته درجـه کـې بـه پـه نـورو موضـوعاتو راڅرخېږي، او سره له دې چې پـه دې هيـواد کـې تـر بـل هـر انساني حق دانسان دژوند حق ډېـر پـه خطـر کـې وي، او هـره ورځ په درځنو درځنـو انسـانان پـه بېلابېلـو لارو وژل کيـږي، چې ډېره برخه يې په بمباريو او عملياتو وي، خو که وکتـل شي په دې اړه به دوی څومره غږ پورتـه کـړی وي ؟ شـايد د نـورو مسئلو په پرتله کم وي او که وي هم انصاف بـه پکـې نـه وي مراعت شوی .

دستم ته دمارشالۍ د رتبې له ورکولوسره ډېـر اميـد کېـده چې که سيمه اييز بشري سازمانونه غږ نه پورته کوي، نو شـايد چې (I C C) نړيواله محکمه خو به خپل مسؤليت ترسره کړي اوله اوږدې مودې د ده جنگي جرمونو ته په کتـو سره بـه اواز اوچت کړي چې له بده مرغه په خپل دغه مزبون سکوت سره هغوی هم د ده دغه جرمونه مجاز کـړل، نـو ځکـه وايـو چـې زمونږ دغميزو ترکورنيو لاملونو بهرني دا ډېر عمده دي .

پرهيواد دننه هم په دې اړه ډېـر څـه شـته، خـو کـه هـر څومره په دې او ورته نورو کورنيـو بـدبختيو وغږيـږو سريـې بېرته هماغو بهرنيانو ته ورځي چې دعوه يې په ټوله نـړۍ کـې دانساني حقوقو دفاع ده، خـو پـه افغانسـتان کـې بيـا پرډېرڅـه سترگې پټوي، سره له دې چې تر بل هر وخـت يـې دلتـه خبره ډېره حاکمه ده او په افغانستان کې دحکومت پرنـوم اداره کـه څـه هـم دوی تـه اوس پېغـور گرځېـدلې، خـو د دوی د هڅـو ارمغان ده .

نو که جنگي جرمونه په نوره دنيا کې جنايت وي اوجاني يې بايد محکوم وي، خو دلتـه جنايـت نـه! بلکـې اتلـولي ده او ترسره کوونکی يې دمارشالۍ مستحق دی !!؟

دملابرادراخند پاسپورت !!



دا وگورئ طالب مشر مـلا بـرادر اخونـد صـاحب تـه افغـاني پاسپورټ د قطر تر دفتر رسول شـوی آن هـيڅ د تـگ زحمـت هـم ندی کړی په سلامي يې ورته سپارلی.

مـوږ پخـوا ويلـي وو چـې ددې خـاورې رښـتيني مـالکين پـه غرونو او زندانونو کې د سپينو او تورو پگړيـو والا دي، د ازادۍ د مبارزينو پر ضد افواهات ،جعلکاري او تبليغات د بشر د تاريخ يو بدرنگ تسلسل دی چې هېڅکله پرې نتيجه نده مرتب شوې.

غربي گوډاگيانو به ددې ولس د نبض د تشخيص په دائره کې د پاکستان ضد کاذبې ژبې چلولې او د هېواد ارزښتونو تـه تـر هـر چا مقدم او ژمن طالب به يې پرې متهم کړ او خپلې جاسوسې او معاملگرې څهرې به يې د تقدس تـر حـده ورسـولې دا هـر څـه او ددوی شل کلنې کاذبې ادعاوې له دې تصويره قياس کړئ.



له بین الافغاني مذاکراتو دتېښتې پلمې به

کابل اداري ته څه ګټه ورسوي؟

حسن مومند

دقطـر پـه پلازمېنـې دوحـې کـې داسـلامي امـارت او امريکـا تـر مـنځ درامنځتـه شـوي تـاريخي تـړون د۱۳۵ ورځو ړومبی پړاو پوره شو.

پـدې مـوده کـې لـه ۴ زرو زيـات مجاهدين لـه زنـدانونو آزاد شـول اوهـم رسماً امريکا اعلان وکـړ چـې ۵ اډې يـې خالي کړي اوخپل ټول فوځيان يـې تـرې ويستلي دي.

کلـــه چـــې امريکايــــانو دا اډې جوړولې او ورته راتلل دا تصور بـه يـې هم نه کاوه چې بيابـه ګينـې دوئ دا اډې خـــالي کــړي ؛ دنـــړۍ زيـــاتره عـــامو مسلمانانوهم له افغانستان نـه ددوئ وتـل او ددوئ زنــدانونو تـــه پـــه وړل شـــويو مجاهدينو کې دکوم يو ببرته خپل کورته راتلل ډېره ګرانه خبره ګڼله خو دافغانانو دسترو قربـانيو پـه برکـت او پـه سـياسي ډګـر کــې داسـلامي امــارت دباتــدبيره مشرانو دهلو ځلـو، معقـول دريـځ اوپـر ځای پرېکړوپه نتيجه کې اوس دادی هم له هېواده اشغالګروځي ؛ اشغال پـای تـه رسېږي او هم مويو ، دوه ، لس يا سل نـه بلکې په زرونو مجاهدين په ابرومندانـه ډول له زندانونو آزادېږي.

يقينا دا ډېـر زيـات دخوښـۍ ځـای دی اودځينوهغواسلام دښمنو پرمخ ډېـره درنـده څپېـړه ده چـې داشـغال دپيـل پـه ورځوکې به يـې ويـل :طالبـان ليـوني دي چې دامريکا په مقابل کې دجنـګ ډګـر تـه راوتي دي اوتمـه لـري چـې دامريکـا مقابله به وکړای شي او په جنګ بـه يـې له هېواده وباسي.

داهغـو خلکـو تـه هـم ښـه غـاښ ماتونکی جواب دی چې ددوحې دتړون په هکله به يې ويل:طالبان وغولېدل ؛لـه دې تړون به دوئ څه تر لاسه نکړي.

اوس دې دوئ راشي ودې وايي چې اسلامي امارت څه ترلاسه کړل که نه ؟

څوک چـې لـه اسـلامي لاربښـوونو خبر وي هغه پدې پوهېږي چـې دکفـارو له قبضې نه يوه لوېشت ځمکه راويستل او له قيده يې يو اسـير آزادول هـم ډېـره لويه خبره ده.

دتـړون د۱۳۵ ورځـو ړومبـی پـړاو دپوره کېدو پـه اړه دامريکـا ځـانګړي اسـتازي زلمـي خليلـزاد ويـلي دي چـې دهوکړې د لاسليک د۱۳۵ ورځو تېرېدل د امريکا اوطالبانولپاره دپام وړ موضوع ده؛ امريکا ټوله هڅه وکړه چې پـه دغـه وخــت کــې خپلــې ژمنــې عمـلي کــړي دسرتېرو کمول او له ۵ اډو نـه دسرتېـرو ويستل يې مهمې برخې وې ؛ناټو هـم پـه همدغه تناسب خپل سرتېري کم کړيـدي ؛هغه ويلي دي دزندانيانو په خوشې کولو کې هم دپام وړ پرمختګ شوی.

خليلـــزاد د ســـمنګانو ولايـــت د استخباراتو په مرکـز داسـلامي امـارت د مجاهدينو بريد وغندلو او ويې ويل چې

د ولایت پـه مرکـز کـې داسـې چـاودنې دمنلو وړ ندي؛ دا هغو ډلو ته فرصت پـه لاس ورکوي چـې دسـولې سره مخالفـت کوي؛ له دې وروسته بـه زمـوږ دسـولې دهوکړې راتلونکې مراحل دشرایطـو پـه اســاس عمـــلي کېـــږي؛ دتــاوتریخوالې دکموالي، دبندیانو ازادۍ او د بین الافغاني خبرو دژر پیل لپاره بـه فشارونه زیـات کړي ؛ زلمی خلیلـزاد همـدا راز دبنـدیانو دخوشـې کېـدو پـه برخـه کـې پـه ورو پرمختګ اندېښنه ښکاره کړه او ددغـه بهیر دګړندیتوب غوښتنه یې وکړه.

داچې دسرتېرو کمول او د ۵ اډو نه یـې ویسـتل دتوافقنـامې حکـم دی او امریکا ورته خپلـه ژمنتیـا ښـکاره کـوي ټول افغان مسلمان ملـت ورتـه دیـو ښـه اومثبـت ګـام پـه نظـر ګـوري ؛همـدا دامریکـا سره ښـایې خـو امریکـا چـې یواځې همدا یو کار دسولې ټول تړون ته ژمنتیا بولي داسمه خبره نده.

په غیر جنګي سیمو نه بمبار دتعهد مهمه برخه وه خو پـه تېرو ۱۳۵ ورځـو کې امریکـا پـه خپلې کـړې ژمنـې نـده ودرېـدلې ؛ پخپلـه امریکـا هـم پـه غیـر جنګي سیمو بمبارونه کړیـدي او د ولـس پر ضد کابل ادارې دروان وحشت نه یـې هـم حمایـت کـړی ؛ دهمـدې ړومبـۍ مرحلې پـه وروسـتیو لسوورځوکې پـه لوګر،بادغیس ، میدان وردګـو ، غـزني ، ارزګـان ، زابـل ، هلمنـد اوکنـدهار کـې امریکـا ډرون بریدونـــه او بمبارونـــه کړیـدي چـې دا دتوافقنـامې نـه ښـکاره مخالفت دی.

سره لـه دې چـې پـه سـمنګانو اود هېواد پـه نـورو برخـو کـې دمجاهـدینو بریدونه دسنګین دپېښې په څېـر دکابـل ادارې د وحشـــت نـــه ډکـــو حملـــو او دامریکایې ځواکونو دبمبار عکس العمل دی خوبیا یـې هـم زلمـی خلیلـزاد غنـدي اودسولې مخـالفینو تـه پـه لاس فرصـت ورکول یې بولي ؛ خلیلزاد په سنګین کـې دکابل ادارې په لاس رامنځته شـوی لـوی وحشت ولې نه غندي او ولې یې دسـولې دپروسې دسبوتاژ کولو هڅه نه بولي ؟

دهېـواد د مختلفـو برخـو پـه غیـر جنګي سیمو کې خپـل هـوایي بریدونـه ولې له پامه غورځوي او دتوافقنـامې نـه یې مخالفت نه ګڼي؟

په لسـو ورځـو کـې د۵زره طالـب بنــدیانو ازادول او ورپســـې سمدســـتي وروسـته د بـین الافغـاني مـذاکراتو پیـل کېـــدل د توافقنـــامې ړومبـــی شرط و؛ توافقنامې ته دپوره ژمنتیا دعوی به هغـه وخت صحیح وای چـې اوس د۵ زرو نـه علاوه نـور بنـدیان هـم ازاد شـوي ، بـین الافغاني مذاکرات پیل او ډېر پړاونـه یـې وهلي وای، خو ټولـه نـړۍ وینـي چـې د دوحـې تـړون د غوښـتنې خـلاف دکابـل ادارې له لورې دا پروسـه پـه بـې بنسـته پلمـو اوبهانوځنـډېږي خـو امریکـا یـې مخه نه نیسي چـې دا دامریکایـانو پربـد نیتۍ دلالت کوي کنه نو څنګـه کېـدای شي چې د دوئ په لاس رامنځتـه ، د دوئ پـه پیسـو چلېـدونکې اوددوئ ګـوډاګۍ اداره دې د دوئ د ارادو پـــه وړانـــدې ودرېږي او د ورسپارل شوي کار په عملي کولو کې دې پلمې ولټوي؟!

له هیچا داخبره پټه نده چې دکابـل اداره، په هېواد کې د اشـغال شـتون کـې خپله بقا ویني نوځکه له پیلـه تـر نـنـه د دې مهـم تـاریخي تـړون مخالفـه ده او د هـوکړې د عمـلي کېـدو پـه مـخ کـې د خنـډونو ایجـادولو هڅـې کـوي چـې د بندیانو په خلاصون کې بهانې یې ښکاره دلیل دی .

د کابـل رژیـم کلـه ځـان د توافـق لوری نـه بـولي، کلـه د توافـق پـرخلاف اوږده وختونـــه غـــواړي او اوس یـــې لا دباندنیو چارو وزیر اول داوویل چې پـه لسـت کـې شـامل ۶ سـوه طالـب بنـدیان دجنایي اوحقـوقي جرمونـو لـه املـه نـه خوشي کـوي پـه سبا یـې پـه ډېـرې بـې شرمۍ دا خبره بدله کړه او ویې ویل چې هغه ۶ سوه کسـان چـې یـې نـه پرېـږدو نړیوال راته وایي چـې مـه یـې پرېـږدئ ځکه چې زموږ عسکر یې وژلي دي.

داڅومره لوی دروغ دي؟! اسلامي امـارت چـې دوئ ټـول دخپـل صـف مجاهدین بولي نو دامني چې زموږ دملت دبچیـانو دقـاتلینو اشـغالګرو سره یـې

مخامخ جنګونه کړيدي او په جنګ کې طبعاً مړي کېږي

دبهرني اتحاد مشري خو امریکا کوي چې امریکا دترون له مخې ددې مجاهدينو آزادی ته غاړه ګدي نو بل ځوک دي چې دکابل اداري نه يې ددوئ دنه خوشې کېدو غوښتنه کړیده؟ دا بهرنيان ځوک دي حنيف اتمر يې نوم ولې نه شي اخستی ؟

اومهمه دا چې دا بهرنيان هغه آزاد شوي له ۴ زرو زيات مجاهدين ولې دخپلو فوځيانو قاتلين نه بولي؟ ځنګه دوئ پوهېږي چې هغوئ قاتلين ندي او دا پاتې قاتلين دي؟

اشرف غني او دحنيف اتمر په خبر دده دفکر ملګري دې پدې پوه شي چې نور په بربنډو دروغو ولس نه شي غولولی اودغه حربه به ورته کومه ګټه ونه رسوي ، نه به پدې چال د ډېرې مودې لپاره په قدرت کې پاتې شي او نه به بهرنی نړۍ ورته کوم ارزښت ورکړي؛

په هېواد کې سوله او امن راتلل حتمي دي، سوله شايد وځنډېږي خوځو پردي پالي يې دخپل قدرت دبقا لپاره مخه نه شي نيولای.

دوئ چې ملت ته يې په شلو کلونو کې د مليياردونو ډالرو له راتلو سره سره یوه اقتصادي زېربنا جوړه نه کړه او نه يې دنورو له احتياج نه خلاص کړل بلکې دخپلو مادي ګټو لپاره ولس ته داشغال بقا او ورسره ترلې تولې بدبختۍ غواړي چې له امله يې د دوئ په وړاندې اوس ولسي کرکه اوج ته رسېدلې او په ولس کې داسلامی امارت محبوبيت ډېر زيات شوی.

په ولس کې داسلامي امارت همدا محبوبيت اودنظامي قوت پراختيا يې پرکابل اداري ورځ ترېلې حلقه راتنګوي ؛ دکابل اداري حالت ورځ تربلې بدترېږي .

امريکا اومتحدين يې چې په خپل ټول قوت خپلو استعماري اهدافو ته ونه رسېدل او ددوحې ترون لاسليک ته اړ شول ؛ دهغوئ دنه شتون په صورت کې به يې دلته لاسپوځې اداره ځرنګه دولس له ارادې خلاف په خپل نامشروع قدرت کې پاتې شي اوپه هېواد کې به دسولې اواسلامي نظام دراتلو مخه ونيسي؟!

ددوحې توافقنامې ټولو برخو ته ژمنتيا او عملي کول يې دافغانستان او امریکا دواړو په ګټه ده ؛اسلامي امارت چې پخپله د توافقنامې ټولو برخوته ژمن دی او تر اوسه يې په يوبهرني عسکر هم ډز ندی کړی له امريکا هم همداسې عملي ژمنتيا غواړي او ترې هيله لري چې تر خپل لاس لاندې دکابل رژيم به هم، د دې تاريخي ترون د بريا لپاره ژمنتياته اړ کړي ترڅو ژر بين الافغاني مذاکراتو ته لار برابره او دټل لپاره دا ستره ستونزه حل شي.



نړيوال مفسدين او غله وپيژنئ !!

د کابل اداري مفسدو چارواکو بنديانو ته د کرايي په نوم جعلي افغانۍ ورکړيدي او اصلي يې د خپلې فحاشۍ لپاره ذخيره کړې.

بې سرنوشته عسکرو تنخواوې يې غلا کړې، صابون غله، وچې ډوډۍ غله ،غنمو او په کُل کې د نړيوالو مرستو غلاوې ددوی د کړنو عمده لاسته راوړنې دي.

لنډه دا چې دې مفسدينو داسې څه پرېښودل چې خپلو شرابو او فحاشۍ لپاره يې ترې برخه نه وي بيله کړې.



د کابل اداري د ښځو له ګومارنو موخې څه دي

لیکوال: احمد عزام

په هېواد کې د لاسپوڅو ادارو په سر شمېرنه کې به اوسنۍ واحده اداره وي چې له نورو زیات د خپل بادار تم کولو ته لیواله ده همدا ډول پردۍ کلتور او رواجو پلي کولو هڅې یې د یاد ولو دي همدا ډول د غرب تول فرهنګ غواړي را کاپي کړي سینماګانې ، ډانس کلپونه جوړول یې له سترو اهدافو څخه دي ښځو ته د اسلامي دین او افغاني کلتور بر خلاف آزادي ورکول ښځې ته دا حق ورکول تر څو هر وخت وغواړي خاوند ته طلاق ورکړي همدا ډول حکومتي دندې ورکول او په هغو غټو دندو یې ګومارل چې اهل یې نه دي نه اسلامي دین له مخې جواز لري نه افغاني کلتور سره اړخ لګوي او نه افغانان دا ډول آزادي خپلو ښځو، خویندو او لورګانو ته غواړي

د اسلام ستر پیغبر حضرت محمد(صلی الله علیه وسلم) مسلمانان منعه کړي او هغه قوم یې ګمرا بللی چې ښځو ته مشري ورکوي .

نبي علیه السلام ته چا خبر ورکړو چې د فاریس خلکو خپله مشره ښځه مقرره کړې ده.

رسول الله صلي الله علیه وسلم ورته وفرمایل: لَنْ يُفْلَحَ قَوْمٌ وَلَّوْا أَمْرَهُمْ امْرَأَةً.

ژباړه: هېڅکله به بریالی نشي هغه قوم چې ښځو ته یې خپل کارونه سپارلي وي. (رواه البخاري)

ډېر خلک به دا اعتراض کوي چې ښځه خو د ټولنې نیمه حصه تشکیلوي بیا ولې د دندو ورکولو مخالف یاست؟ دغه وګړي دې بیا اسلام مطالعه کړي وبه پوهیږي چې اسلام ښځې ته دومره حقوق ورکړي چې بل دین نه دي ورکړي اسلام ښځې ته د تجارت ، زده کړې حق ورکړی خو دا هغه مهال چې د دې عزت محفوظ وي خوکه د عزت خطره یې وه چې انساني لېوان به یې وداړي نو بیا له تجارت او زده کړو کولو یې په کور ناستی ښه ده

راځی وپوهیږو چې اسلام ولې خاوند ته دا حق ورکړی چې ښځې ته طلاق ورکوی شي خو ښځې ته یې دا حق نه ده ورکړی چې خاوند ته طلاق ورکړي په همدې اړه علماء داسې فرمایې : چې ښځه زر خفه کیږي او زر غوصه کیږي که اسلام ښځې ته د طلاق حق ورکړی وی نو ښځه به له دې خپلو دوه کمزوریانو له امله خپل د ژوند داسې ملګری له لاسه ورکړی وی چې شاید بیا یې هغه ډول بل نه وی پیدا کړی

دا چې نکاح او بیا د طلاق په باب کې دومره حق نه ده ورکړل شوی نو په یو قوم او هېواد یې ګومارل له شک پرته چې ستره بې عقلي ګمراهي ده .

په دې نېږدې ورځو کې د کابل اداري مشر د هر ولایت د والیانو ته یې یوه یوه مرستیاله منظوره کړې چې څه ولایاتو ته یې ګومارلي او دغه پروسه لا په درز کې

روانه ده د دې شل کالو په موده کې امریکا او د کرزي او غني ادارو د ښځو آزادۍ له کورو څخه د را ویستو مختلف وزارتونه ، ټولنې او رسنۍ جوړې کړې

دا چې د کابل ادارې له روستیو ګومارنو یې موخې او اهدف څه دي؟ په راتلونکو کرښو کې به یې ولولی

۱ - کابل اداره غواړي نړیوالو خصوصا امریکا ته وښایې چې تر اندازې زیات د ښځو آزاۍ ته مونږ ژمن یو

۲ - غواړي چې په دې طریقه هغه افغانې مېرمنې له کوره را وباسي چې لا تر اوسه یې چا د لوپټې څنډه هم نه ده لیدلې

۳ - د ښځو را پارول او هغوي ته داسې ور ښودل چې ستاسو حقوق پایمال شوي او باید چې د خپلو حقوقو غوښتنه وکړی.

۴ - دوه سري اداره په دې پوه شوې چې نور یې د زوال وخت رانږدې شوی دا چې راتلونکي اسلامي حکومت به ښځو ته هغه حقوق ورکړي کوم چې اسلامي دین ورکړي خو دا ډول لوړې دندې ورکول به زما په آند ور نه کړي ځکه چې اهل یې نه دي خو د کابل اداره غواړي چې ښځینه طبقې ته راتلونکی اسلامي حکومت د یو بلا په شکل ور معرفي کړي او دا ور وانګیري چې راتلونکي حکومت کې به ستاسو حقوق پایمال وي .

۵- ستر هدف یې غربي آزادي د ښځو دلته مروجول دي .

دا ډول اعمال تر سره کول نه افغانانو ته د منلو دي بلکې د سولې مخ ته د خنډو ایجادولو په طالبانو د یو ډول فشارو واردولو لپاره انجامیږي کابل اداره دې په دې وپوهیږي چې دا افغانستان ده د دې ځاي وګړي عزتمند خلک دي دلته د غرب په څېر ښځو ته آزادي ورکول خیال ده ځکه دا اولس لوړه تنده برداشت کوی شي خو دا ورته هیڅ کله ورته دې منلو نه ده چې د دوي خویندې او لورګانې دې له نامحرمو سره په یو دفتر کې ناستې وي البته مسلمانان دي د ښځو هغو حقوقو ته ژمن دي چې اسلام ورکړي دلته نه د غرب او نه د شرق آزادي غواړي.

زه مُلا یم ماته یې ارزانه کړه!!

ابراهیم بن ادهم رحمه الله لوی ولي الله ؤ ، په لاره روان ؤ چې یوه سړي منې (سېبان) په ریړۍ کې خرڅول ، ابراهیم بن ادهم رحمه الله ترې وپښتل په څو دي؟ هغه وویل: په ۸۰ روپۍ کیلو ده ، ابراهیم بن ادهم رحمه الله ورته وویل: په ۶۰ یې راته ولګوه. هغه وویل: نه په دومره نه کیږي.

ابراهیم بن ادهم ترې روان سو، دغه دکاندار سره بل سړی ولاړ ؤ نو دکاندار ته یې وویل دا سړی دې وپیژانده، دکاندار ورته وویل: نه

وایې دا خو هغه لوی بزرګ دی ابراهیم بن ادهم رحمه الله! ، نو له دې سره دکاندار پسې منډې کړې او هغه یې بیرته راووست او ورته وویل چې راشه منې یوسه، ابراهیم بن ادهم پوښتنه ترې وکړه وایې مخکې د ولې نه راکولې؟

دکاندار ورته وویل چې ما نه پیژندې اوس دغه سړي راته وویل چې دا خو ابراهیم بن ادهم هغه لوی بزرګ دی نو ځکه .... ابراهیم بن ادهم ورته وویل چې اوس یې په شل روپۍ هم نه غواړم ځکه ما دا طاعات عبادات د الله لپاره کړي نه دې دنیا دګټو لپاره . نن سبا هم علماء طبقې ته او خصوصا د جوماتو امامانو ته دا پکار دی چې له دکانداره په په دې نظر شی وانخستل سي چې زه امام یم نو ماته یې ارزانه کړه .

دې سره یې حیثیت لوړیږی قدر یې زیاتیږي!



ابوظهير

هو! دخالص بابا رحمه الله یاد پرلمانځلو ارزي!

رښتيا هم خالص بابا يواځې دګفتارغازي نه!
دګفتار غازي هم و!کوم څه به يې په خوله ويل هغه به يې عمل کې هم ښودل،قراره له اوريدوچې دشوروي سرولښکرو پخلاف دجهاد په دوران کې به نورو جهادي مشرانو دپيښور خوندونه اخيستل اوخالص بابا به په سپينه ږيره دتوري بوږې په سختوسنګرونوکې له مجاهدينوسره يوځاى په مياشتو،مياشتو پروت و او پيښورته به نه ته

اوريدلي موهم دي اولوستلي موهم، چې خالص بابا د جهادي رهبرانو له منځه په دې سربيره چې يومعتبر، ثقه اوجيد ديني عالم و،پياوړى ليکوال، اديب، شاعر اونقاد هم و، هغه كه يولورته دشوروي سره ښکېلاک پرضد توپک په اوږه کړى و او سنګرېې نيولى وبل پلوته دسترخوشال پشان دقلمي مورچل نوميالى مجاهد اومبارز هم و،هغه مهال چې افغانستان كې دكمونزم الحادي ايډيا ريښو غځونې كولې اودهيواد دباسواده قشريوه لويه برخه ځوانان يې په مختلفولالچونو اوهوسونوسره پخپلو لوموكې ښكېلول دهيواد په سطحه څو په شمارقلموال مبارزين اومجاهدين وو چې هغوى په رسنيوكې داسلامي ارزښتونونه په دفاع او دكمونستي افكاروپخلاف ليكنې او مضامين ليكل چې يو مخكښ اودځواكمن علمي استعدادنه برخمن ليكوال مولوي محمديونس خالص رحمه الله و چې دكمونستانوله پټو اوښكاره سازشونوڅخه يې افغانان خبرول اوهم به يې په اشتراكي اندونو باندې په ډيرجرئت سره عالمانه اوفاضلانه نيوكې كولې اوپه قوي استدلال سره يې دهغوى الحادي انګېرنې ردولې.

له شک پرته هغه مهال دا يوترټولومؤثر جهاد اويوه ننګونكې درنده مبارزه وه،چې په محدود شمير قلموالو پرمخ وړله اوپكې دخالص بابا كردار ترنورو ډېر روڼ، بارز او مؤثرو .

كله چې په ۱۳۵۷ ل كې دكمونزم پلويانو له خپل اثرورسوخ نه په ګټه دثوربدمرغه كودتاه رامنځته كړه،اودخپلې ايډيا سره سم يې داسلامي ارزښتونو او ديني شعايرودلمنځه وړلو لپاره ګامونه پورته كړل،مقابل كې يې دهيوادو دجيدوعلماووپه فتوا عملاً جهادپيل شو، مولوي محمديونس خالص هم دجهاد فتوا وركوونكوعلماووله مخكښانوڅخه و،چې د خپلې قلمي مبارزې اودعوتي جهاد ترڅنګ يې وسلوال جهادته هم ملا وتړله اوپه سپينه ږيره يې دتورې بوږې په غرونو كې دجهاد لپاره سنګر تاسيس كړاوهم هلته دنورومجاهدينو سره يوځاى دېره شو، هرډول تودې وسړې په لوړهمت وزغملې غرض داچې ارواښاد مولوي صيب خالص يواځې «قوال مجاهد» نه وبلكې« فعال مجاهد» دمعركو اوسنګرونو مجاهد هم و.


تركومه چې موږ لوستي اوياخبريو مولوي صيب خالص يوساده اودنرم ظريفانه طبعيت خاوند و، له غرور

او تفاخرڅخه یې نفرت کاوه، اوپخپل ملاتوب یې فخرکاوه،همیشه یې دنوروړهبرانوپه مخکې تورته،تور اوسپین ته سپین ویل او دحق په معامله کې یې دهیڅ ملامت کونکي دملامتیا یا خفګان پروا نه کوله.

مجاهدین چې کله کابل ته ننوتل،اودهغه وروسته هلته دحزب وجمعیت ترمنځ داقتدارپه سرجنګونه شروع شول،هزارګان اوسیاف هم د یوبل سره اړم شول،په ولایتونوکې ورته جنګونه اوپاټکسالاري رامنځته شوه، درهبرانوله منځه یوائې دیني عالمان وو لکه مولوي صیب خالص،مولوي محمدنبي اومولوي جلال الدین حقاني چې هغوی ځانونه له خپلمنځي جنګونو لري وساتل او دخپلمنځي جګړو عاملین یې وغندل،خپل ملګري او مجاهدین تري لري وساتل او قطعاً یې دځوکۍ پخاطر دحزب وجمعیت پشان مسلمان وژنه او افغان وژنه حلاله ونه ګڼله، بلکې ببانګ دهن یې ورته حرام وویل،یقیناً ددې یادو اکابروعلماوودافراست اوهوښیارۍ ددرناوي وړده اونن یې په برکت دهرعالم اوهرطالب شمله له دې پلوه هسکه ده چې علماوو ځانونه دکورنیو جنګونو څخه لري وساتل، اوپه جرئت سره ویلی شي چې د هیواد ورانولو «په جګړه کې دیني علماء شریک نه وو» چاچې دهیواد ورانولوجګړه رهبري کوله «هغوی له آراه ددیني مدرسوفاضلان اوعالمان نه ول» خلک او تاریخ دواړه «هغوی پیژني او ورته معلوم دي» کنه دا نه چې علماوو سره نظامي ځواک اودجنګیدوقوت نه و، یوائې په ټول هیوادکې دمولوي جلال الدین حقاني رحمه الله پشان ځواکمن او مجهزقومندان نه و،خوهغه ترپایه ددې پر ځای چې خپله کابل ته ننوځي ویل یې: کابل دي دکابل ولایت اړوندجهادي قومندانان اداره کړي،هیڅوک دي ورته دننوتلو کوښښ نکوي، خومسعود په پټه دکمونستانو سره معامله وکړه اوهم دهغوی په مټ کابل ته ننوت او دهیواد ورانولو جګړې یونه پای لرونکی تهداب یې کیښود، لیکن علماوو داکار ونکړ هغوی هرڅه وزغمل خو پخپلمنځي جنګونوکې یې دمسلمانانوپه وینو لاسونه سره نکړل.

کله چې دشروفساد اوملوک الطوایفۍ په خلاف له کندهارڅخه دامیر المؤمنین ملامحمد مجاهد رحمه الله په مشرۍ دعلماوو په فتوا ددیني مدرسوطالبانوپاڅون وکړ اوپه لنډوخت کې یې دکابل پورې ولایتونه هغوی ونیول مولوي صیب خالص له لږ ځنډ وروسته دهغوی ملاتړ وکړ او هم یې مولوي جلال الدین حقاني ته مشوره ورکړه چې طالبانوسره ملګرتیا وکړه،هغه وچې حقاني صیب مرحوم په بشپړه توګه دطالبانو داسلامي تحریک څخه ملاتړوکړاود ډیرتواده هرکلي په بدرګه یې هغوی ته ترخپل نفوذ لاندې ولایتونو واک وسپاره

کله چې دطالبانو داسلامي تحریک لخوا دهیواد ختیځ ولایتونه ونیول شول، مولوي صیب خالص هم دطالبانو بشپړ ملاتړ وکړ او ورسره یې همکارۍ وکړې ،دکابل له فتح وروسته دافغانستان اسلامي امارت په رامنځته کیدو مولوي صیب خالص اوملګرو یې ترې ننګه اوملاتړ وکړ،دغه زمانه کې دنړۍ مغرضو هیوادونو ډیر کوښښونه وکړل چې دطالبانو په وړاندې مخالفتونوته هوا ورکړي اوورته ستونزې اومشکلات پیداکړي،ممکن په مولوي صیب خالص او دهغه په ملګروبه یې هم کوښښونه کړي وي،ډیرشنه باغونه به یې ورته ښودلي وي، لیکن خالص بابا ترپایه ونه ښویېده اوپخپل عزم او دریځ باندې ولاړ پاته شو کله چې دیوولسم ستمبر پیښې په پلمه امریکا په افغانستان دیرغل تابیا ونیوه، تردې چې دمولوي صیب خالص ډیرنیږدې ملګري او قومندانان هم دشنو ډالرولپاره له هغه نه جلاشول، لیکن مولوي صیب خالص بیا هم خپل مسیرته تغیر ورنکړ او هرډول لالچونه او مادیات یې په لغته ووهل د امریکادتیرۍ په وړاندې یې داسلامي امارت بیرغ لاندې دجهاد کولو قوي هوډ څرګند



خلاص کړبلکې دافغانانو او نړۍ په تاریخ کې یې دعلماوو او طالبانو دعزت اووقار شمله هم هسکه کړه،دجومات اومدرسې توغ یې هم پورته وساته،تکلیفونه او زحمتونه یې وزغمل خودعلماوواو دینې قشرله تاریخ سره یې جفا ونکړه،بلکې هغه یې نورهم ځلاندکړ،کنه نن به دعلماوو، طالبانو، مدرسو او جوماتونو حاسدینوته دخولوچول کولو موقع وه چې ووایي: علماووهم دامریکا په وړاندې سرونه ټیټ کړل او ترې وډارشول !نن الحمد الله موږ په جرئت سره وایو چې د عالم رهبر او دغیرعالم رهبر! ترمنځ توپیردادی چې عالم رهبر څنګه پرون دشوروي پخلاف جهادفرض ګاڼه او ورته یې ملا تړلې وه نن هغسې دامریکایې یرغل په خلاف یې هم دجهادبیرغ پورته نیولی اوورسره په مقابله بوخت دی او هر چې غیرعلماء رهبران ول هغوی پرون دشوروي خلاف دامریکاپه غوښتنه جهادکاوه خو نن چې کله دامریکا په وړاندې دجهاد نوبت راغلی ټول دامریکاپه پلوی لاړدي اوپه افغان ولس دامریکا بري ته منتظردي، نن چې امریکادخپل یرغل تراخه وڅکل اوبیرته دوتلو په حال کې ده دا دهمدې ملنګ ملا اوفقیرطالب دقربانۍ او کردار مرهون منت ده چې مات نشو او له خپل مسیره په شانشو .

مختصر دا چې له مبالغې پرته خالص بابا یوله هغو سرلارو علماوو څخه وچې موږته یې له ځان وروسته ښه سرلوړی او دننګ اوقربانیو څخه ډک تاریخ په میراث پرې ایښی، موږ یې باید منت باراووسواو روح ته یې له خلوص نه ډکې پیروزینې اودعاګانې ولیږو اوپه لیکنواونشراتوکې یې ژوند اوتاریخ ژوندی وساتو په همدې هیله

کړ،داچې له نیکه مرغه مولوي صیب خالص دعلمي او فکري پلوه دجومات اومدرسې سړی و، ټول عمریې پر ځان کوم بل رنګ ونه خېږاوه اودامریکایانو دیرغل په وړاندې د مجرمانه مصلحت په پلمه له جهاده ستون نشو اوپه نره دصلیبي یرغل په وړاندې دجهاد بیرغ پورته کړی و .

که څه هم دغه مهال نوموړی دخپل عمر په یوه داسې مرحله یاحالت کې و، چې دناګارصیب په قول: پرولاړه دلمانځه کولواوپه ژبه دعظیم الشان قرآن دروان تلاوت ارمانجن و، بیا یې هم دامریکایانو دتیرې په وړاندې ناسته یاخاموشي دمصلحت په فتوا روا ونه ګڼله اوخپلوټولوپیروانواوملګروته یې دجهاد په لارکې دخروج اوپاڅون حکم وکړ

رښتیا! چې په دې عزم او جرئت یې دسلفو صالحینو یاد او دامت اولوالعزم ایمه وو تاریخ ژوندی کړ،دکفرپه وړاندې یې تسلیمې او سرټیټې ونه منله، او نه یوازې په دې سره یې ځان د اخروي مسؤلیتونوڅخه

آیا صوفیا پر جومات بدلیدل،

د کفارو غندنه او د مسلمانانو چوپتیا!

لیکنه: همایون عیسی خېل

آیا صوفیا جومات په نړۍ کې یواځینی هغه مسجد دی چې، مخې ته یې بیت المقدس (د مسلمانانو لومړنۍ قبله) او بیت الله شریف (اوسنۍ قبله) راځي!

د جغرافیې نقشې په اساس د دغه تاریخي جومات قبلې لور ته لومړی بیت المقدس موقعیت لري، ورپسې بیت الله شریف راځي. چې په یوه وخت کې د دغه جومات لمونځ کونکي دواړو قبلو لور ته مخ کوي.

د نړۍ دغه کلتوري میراث، په شپږمه پېړۍ کې د Byzantine یا ختیځ روم امپراطورۍ یوې کلیسا په ډول جوړ شوی وو، په ۱۵ مه پېړۍ (۱۴۵۳) کې د عثماني خلافت په دوره کې په جومات بدل شو، بیا د شلمې پېړۍ په پیل کې بیا موزیم شو.

د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان څو ورځې وړاندې اعلان وکړ چې د «آیا صوفیه» لرغونی موزیم، چې یو وخت لویه کلیسا وه، په جومات بدلوي او لومړی لمونځ به په کې د جولای په ۲۴ مه وشي.

دا پرېکړه له هغه وروسته اعلان شوه چې په ترکیې کې یوې محکمې پرېکړه وکړه چې «ایا صوفیه» دې نور موزیم نه وي.

ښاغلي اردوغان ویلي دي چې «ایا صوفیه» به د مسلمانانو، مسیحیانو او نورو بهرنیانو لپاره پرانیستې وي. «ایا صوفیه» ۱۵۰۰ کاله لرغونتوب لري او یو مهال د مسیحیانو لویه کلیسا وه.

خو نن ورځ دغه کلیسا د ولسمشر اردوغان له لوري په جومات بدلیږي!

۸۶ کاله وروسته په لومړي ځل (اسلامي شعار) آذان پکې تر غوږو کیږي!

او د تکبیر نعره پکې بدرګه کیږي...!

نن پکې په لومړي ځل د جُمعې لمونځ ادا کیږي....!

د جُمعې په خطبه کې د مذهبي امورو وزیر دکتور علي ایرباش لیدل کیږي چې، د منبر په زینو د تورې په واسطه پورته کیږي، کله چې خطبه وایي، نو د عثماني خلافت یادګار او کلتور راتازه کولو په پار په دواړو لاسو کې یې توره هم نیولې ده!

دغه د اردغان اسلامي، اخلاقي، سیاسي او نه هېریدونکي تاریخي لاسته راوړنه بلل کیږي!

غبرګونونه!

ملګرو ملتونو او اروپایي ټولنې د ترکیې پر دغې پرېکړې نیوکه وکړه چې، ولې د نړۍ یوه تر ټولو لرغونې ودانۍ، ایا صوفیا بېرته په جومات بدلوي؟

د کاتولیک مسیحیانو مذهبي مشر پاپ فرانسیس هم د ترکیې د ولسمشر رجب طیب اردوغان دغه پرېکړه وغندله چې د آیا صوفیا لرغوني موزیم په جومات بدلوي.

پاپ فرانسیس د یکشنبې په ورځ جولای ۱۲ (چنګاښ۲۲) د واتیکان د سنټ پیټر په څلور لارې کې د دعا په مراسمو کې وویل چې دغې پرېکړې دردولی دی.

هغه وویل: " زه د استانبول په اړه فکر کوم. زه د سانتا صوفیه په اړه فکر کوم. زه ډېر دردېدلی یم."

د نړۍ د کلیساوو ټولنې له ولسمشر اردوغان غوښتي چې په دې اړه دې خپله پرېکړه بېرته واخلي. په استانبول کې د نړۍ د ارتودکس مسیحیانو روحاني مشر دا پرېکړه ډېره خواشینوونکې بللې ده.

یونان هم دا پرېکړه غندلې ده.

د ملګرو ملتونو تعلیمي، علمي او فرهنګي سازمان (یونیسکو) وایي چې د « نړۍ د میراث کمېټه» به یې د «ایا صوفه» حالت ارزوي.

امریکا او ځینو نورو هېوادونو هم ویلي دي چې باید داسې نه وای شوی...

ځواب!

کله چې اروپایي ټولنو، پاپانو او نورو سازمانو لخوا دغه پرېکړه وغندل شوه، نو ځواب ویل یوازې د ترکیې ولسمشر اردوغان ته پاتې شو.

نوموړي د ټولو په ځواب کې یې وویل:

دا زموږ حق دی چې د خپل استقلالیت په اساس پرېکړه وکړو او په دغې پرېکړې انتقاد د ترکیې پر خپلواکۍ برید دی.

په یوه خبري کانفرانس کې یې وویل:

کله چې سلطان محمد رحمه الله په ۲۹ مۍ ۱۴۵۳ م کال استنبول ته فاتح داخل شو، سمدلاسه آیا صوفیا ته ننوت، ټولو اوسیدونکو ته یې امان ورکړ....

محمد الفاتح خپله نېزه د محراب په ځای کې ودروله، د شکر سجدې نه پس یې دوه رکعته لمونځ ادا کړ. همدغه سجده او دوه رکعته لمونځ د آیا صوفیا پر جومات بدلیدو لپاره لومړی اقدام و.

بیا په پنځلسمه پیړۍ(۱۹۳۴م) کال کې د اتاترک او د نوموړي د ګوند له لوري د آیا صوفیا جومات په موزیم بدلولو په پار قانون وضع شو چې، د دوو جوماتونو په مېنځ کې باید ۵۰۰ متره فاصله(لرې والی) شتون ولري، له هغې وروسته یې آیا صوفیا پر موزیم بدل کړ.

ولسمشر په خپلو خبرو کې زیاته کړه چې، د یو ګوند له لوري جومات په موزیم بدلیدل نه یوازې تاریخي خیانت دی، بلکې د قانون ضد پرېکړه هم ده؛ ځکه چې آیا صوفیا د یو هېواد او یا د یوې موسسې شخصي ملک نه دی، بلکې د محمد الفاتح وقف شوی ملک دی او د وقف سند په لاس کې لري، خپلو مخاطبینو ته یې د محمدالفاتح د سند متن ولوسته.

د محمد الفاتح له لوري د لیکل شوي سند خلاصه:

که څوک هم دغه وقف شوی (آیا صوفیا) چې اوس په جومات بدل شوی، په بل څه سره بدلوي، یا یې تړي... یا هم کوم فاسق او فاسد د دې پر یو جز تعرض کوي، یا یې مسجد څخه بدلوي، دا به یو غیر قانوني عمل ګڼل کیږي...

...که چاهم دا نا مشروع عمل ترسره کړ، پرده دې د الله جل جلاله، د پیغمبر علیه السلام، د فرښتو، د حاکمانو او د ټولو مسلمانانو لعنت وي....

ولسمشر زیاته کړه، که آیا صوفیا د محمدالفاتح وقف شوی ملک نه وای، نو په جومات یې نه بدلوه.

زیاته یې کړه، مونږ د کلیساګانو ضد نه یو، ځکه چې اوس هم په ټوله ترکیا کې ۴۵۳ کلیساګانې شتون لري...

د مسلمانانو چوپتیا!

لکه څنګه چې پاپانو، اروپایانو او غربیانو له لوري، د ولسمشر دغه پرېکړه وغندل شوه، همداسې باید د اسلامي امت باچایانو، حاکمانو، نورو مخور، عوامو او خواصو د دغې پریکړې تود هرکلی کړی وای، ولسمشر یې هڅولی وای، کلکه د فاع یې ترې کړې وای خو!

په ټوله اسلامي نړۍ کې د یو ولسمشر له لوري هم د دغې پرېکړې هر کلی ونه شو او نه یې مسیحانو ته ځواب ووایه، بلکې ټول چوپه خوله ناست دي. شاید په زړونو او خصوصي مجلسونو کې یې دغه پرېکړه غندلې هم وي....!

امیدونه!

یو لورته د الله جل جلاله په خپل قدرت او طاقت سره د افغان مسلمان او مجاهد ملت په لاس د نړۍ غټ کافر، دجالي او صلیبي لښکر په ګونډو شو، بل لور ته یې د مصطفی اتاترک په لاس جوړ شوی، سیکولرېزم هېواد ته رجب طیب اردوغان په څېر شخصیت راوست...

نوموړی درګرده لګیا دی، د خپلو پلرونو تاریخ راژوندی کوي، پخپلو ځوانانو کې د عثماني خلافت جذبه راژوندۍ کوي....

امید دی چې الله جل جلاله به نور خپله اراده بدله کړې وي او غواړي به چې نور اسلامي امت یو ځل بیا پخپلو پښو ودروي، یو ځل بیا د اسلامي پخوانۍ چرچه او دبدبه تکرار کړي...

حق به راشي او باطل به په ګونډو شي!


(وقل جاء الحق وزهق الباطل) الآية

جنګ خو یوه بوقع ده، کله د یو چا په لاس کې وي او کله د بل چا په لاس کې...


وتلک الایام نداولها بین الناس. الآیة

شاید نور د ظلم، وحشت، او بربریت تور تیارو ته پای ټکی کېښودل شي! د تل لپاره سپین سهار راوخیژي، نور کړیدلی ملت راپورته شي او د اشغال د ظلم کاسه چاپه شي.

وماذلک علی الله بعزیز



ترکیه د خپل اصالت پر خوا ستنیږي



قاري عبدالستار سعید

د ۲۰۲۰ م کال د جولای په لسمه نیټه د ترکیې ولسمشر رجب طیب اردوغان د یوه فرمان په امضاء کولو سره د ایاصوفیا تاریخي ماڼۍ د مسجد په حیث اعلان کړ. دغه ماڼۍ چې د نړۍ له تاریخي آبداتو ګڼل کیږي او یوازې تېر کال تري څه کم څلور میلیونه نړیوالو سیاحانو لیدنه کړې په ترکیه کې د اسلام او سیکولرزم د کشمکش په سمبول بدله شوې ده.

په ۱۴۵۳ میلادي کال کې چې کله عثماني خلیفه محمد الفاتح قسطنطنیه (استانبول) فتحه کړه. نو دغه تاریخي ماڼۍ یې وقفي اعلان او مسجد یې وګرځوله. له هغه وروسته دا ماڼۍ د مسجد په حیث کارېدله. د شلمې پیړۍ په لومړۍ نیمایي کې چې د دوهم نړیوال جنګ په پایله کې عثماني خلافت سقوط وکړ او پر ځای یې د مصطفی کمال اتاترک لخوا د سیکولرزم په اساس ولاړه ترکیه رامنځته شوه. نوموړي په ۱۹۳۵ م کال کې دغه مسجد په موزیم بدل کړه او هلته یې د لمانځه په اداء کولو رسمي بندیز ولګاوه.

مصطفی کمال اتاترک د اسلامي شعائرو پر خلاف نور اقدامات هم وکړل، نوموړي ترکیه د سلطنت په ځای جمهوري اعلان کړه او کرار کرار یې د بې دینۍ سلسله پیل کړه د واکمنۍ له پیل یو کال وروسته یې وویل چې په ترکیه کې دین له له سیاست څخه جلا دی، د اوقافو وزارت او شرعي محاکم یې لغو اعلان کړل. وروسته یې عربي رسم الخط لاتیني ته واړاوه او اعلان یې وکړ چې د عربي قرآن په ځای دې د هغه ترکي ژباړه تلاوت کیږي.

اتاترک د مساجدو په زیاتولو هم محدودیت وضع کړ، په امامانو او خطیبانو یې دولتي امتیازات بند کړل، نوموړي به په ډاګه ویل چې: داسلام ماهیت له تمدن او پرمختګ سره جوړ نه دی(العیاذ بالله) ده به ویل موږ اوس یوازې یو تمدن لرو چې هغه اروپایي تمدن دی د دنیا ملتونه ترقۍ ته د رسیدو لپاره له اروپایي تمدن خپلولو پرته بله لار نلري.

اتاترک د ازمیر د یوه شتمن یهودي له لور (لطیفه خانم) سره واده وکړ او د بې سترۍ د ترویج لپاره له خپلې لوڅې ښځې سره په ټولو ښارونو وګرځید.هغه د ترکي تربوش خولۍ پر ځای د انګریزي پیک دارې خولۍ په سرول ترویج کړل او د استانبول د اسلامي هویت د تضعیف لپاره یې پایتخت انقرې ته نقل کړ. اتاترک په ډیر قوت او وچ زور د بې دینۍ کار شروع کړ او هر چا چې به یې له پروګرام سره مخالفت کاوه په ملي خیانت تورنیدل او د اعدام سزا ورکول کیدله. اتاترک د حزب جمهوري خلق په نوم ګوند جوړ کړ چې له حکومته عبارت و او نظام یې د یو حزب دموکراسۍ په اصولو استوار و . نوموړي په ۱۹۲۸م کې د نوي اساسي قانون په جوړولو سره سیکولرزم رسمي کړ. او د دولتدارۍ لپاره یې شپږ اصول کیښودل چې د ترکیې د حکومت په رسمي نشان کې د شپږو نیزو په شکل ورته اشاره شوې وه. دغه شپږ اصول: ملت پالنه، دموکراسي، خلک، سیکولرزم، انقلاب او د دولت حاکمیت وو. د اتاترک لخوا په ۱۹۳۷ کې د اساسي قانون د تجدید په وخت

اسلام یو مخ له قانون څخه رسما وایستل شو او ولیکل شول چې رئیس جمهور او پارلماني وکیلان به د لوړې په مراسمو کې د الله په نوم د قسم پر ځای په (شرف) قسم خوري.

په ۱۹۳۸ م کې اتاترک له پنځلس کلنې واکمنۍ وروسته د۵۲ کلونو په عمر مړ شو، څه موده په موزیم کې امانت دفن و، وروسته په انقره کې ورته لویه مقبره جوړه او جسد یې ورانتقال شو. خو تر دې وخته نوموړی په ترکیه کې د یوه بلامنازع بت په شان د قدسیت مقام ته پورته کړای شوی و، حتی تر دې چې که به چا د اسلام د پیغمبر او یا د دین د ارکانو سپکاوی کاوه اجازه یې درلوده مګر د اتاترک په سپکاوي او تش نقد یو څوک تر اعدام رسیدلی شوای. د اتاترک له مرګ وروسته یې مشهور شاګرد عصمت اینونو واک په لاس کې واخیست او کټ مټ د اتاترک په شان یې دین ستیزي ته دوام ورکړ او د حزب جمهوري خلق په واسطه یې دولت، پوځ او خلک په قبضه کې وساتل.

اتاترک او شاګرد یې عصمت اینونو د درې لسیزې ځواکمنې او ظالمانه واکمنۍ په ترځ کې ترکیه له بنسټه تغیر کړه. هغه ترکیه چې اوه پیړۍ د اسلامي خلافت مرکز او د سترو مؤمنو فاتحانو، عالمانو، صوفیانو او غازیانو زانګو وه، د سیکولرزم په سرطان مبتلا شوه. نصاب یې د ډاروین د نظریې په اساس عیار او د الحاد د ترویج لپاره پراخ کار پیل شو. د تعلیم، فرهنګ، رسنیو، دولتداري او اجتماع په بیلابیلو برخو کې د بې دینۍ د ترویج او خپرولو لپاره یو اړخیزې هڅې پیل وې تر څو ولس له خپل دین اسلام او خپل متدین فرهنګ او فکر څخه پردی کړي. د سیکولرزم او ګمراهۍ د دې توپان په وړاندې وخت په وخت د دیني مبارزینو لخوا قیامونه کیدل خو د ترکیې د ظالم پوځ او کمالیستو جنرالانو لخوا په ډیره سختۍ ځپل کیدل.

خو د ترکیې مؤمن ولس هیڅکله امید ونه بایله، هغوی پرلپسې خپل ویاړلي اصالت او بایللي دیني هویت ته د ستنیدلو لپاره لاس او پښې وهل. دغه مبارزې کله د دیار بکر د شیخ سعید پیران نقشبندي د مسلح پاڅون په حیث څرګندېدې او کله هم د کردستان د بدیع الزمان سعید نورسي د اصلاحي حرکت په شکل. ترک ولس د نهیلیو په سختو توپانونو کې هم د امید ډیوې بلې ساتلې او په دې یې باور درلود چې یو وخت به دغه امتحاني مرحله پای مومي او دوی به خپلو پاکو هیلو ته رسیږي.

په وروستیو لسیزو کې داسې معلومیږي چې په ترکیه کې د سیکولرزم د غالبیت او اسلامي فکر د محکومیت معادله په سرچپه کیدو وي. څو لسیزې وړاندې انجنیر نجم الدین اربکان په ډیر مهارت په ترکیه کې د اسلامپالو د یووالي او تنظیم کار پیل کړ. تر دې چې د نوموړي ګوند حزب رفاه وتوانید د ۱۹۹۵ پارلماني ټاکنو کې د ۲۱ فیصده په ګټلو سره تر ټولو احزابو مخکې شي. په دې ډول نجم الدین اربکان د لومړني اسلامپال په حیث د ترکیې لومړی وزیر وټاکل شو. اربکان له همدې منصبه په استفاده له پراخو اختیاراتو سره د اسلامي شعائرو د احیاء هڅه پیل کړه. له پراخو اقتصادي اصلاحاتو علاوه یې د استانبول تقسیم سیمه کې د لوی اسلامي پوهنتون د جوړولو کار پیل کړ،.ښځو ته یې اجازه ورکړه چې له حجاب سره دولتي ادارو ته تلای شي، حج او عمرې ته د زمیني تګ اجازه یې هم اعلان کړه تر څو ډیر خلک دا عبادت ترسره کړی شي. په ۱۹۹۷ کال روژه کې یې د تصوف د طریقو ګڼ شمیر مرشدان د افطار دولتي میلمستیا ته وبلل. چې دا کارونه یې د سیکولر جنرالانو په مزاج درانه تمامیدل.

په پای کې اربکان د سیکولر جنرالانو د دسیسو او فشار له امله استعفاء ته اړ او په سیاسي فعالیت یې بندیز ولګېد. له نوموړي وروسته یې تکړه شاګرد رجب طیب

اردوغان د سیاسي مبارزې واګې په لاس کې واخیستې. د ۲۰۰۲ کال دنومبر په دریمه چې د ترکیې پارلماني ټاکنې وشوې، د اردوغان لخوا نوي جوړ شوي عدالت او پراختیا ګوند د پارلمان له ۵۵۰ څوکیو څخه ۳۶۳ وګټلې چې دا یوه نااټکله بریا وه. له دې وخته د ترکیې سیاست د اردوغان او حزب عدالت و پراختیا سره وتړل شو چې تر اوسه ورباندې واکمني لري.

اردوغان د بل هر سیاسي رهبر په شان مخالفین او موافقین دواړه لري. خو دا په ځغرده ویلای شو چې نوموړی په ترکیه غوندې سیکولر هیواد کې د بل هر سیاستوال په نسبت د اسلام او مسلمانانو په خیر او ګټه دی. نوموړي لکه څنګه چې د ترکیې د اقتصاد او سیاسي پرستیژ لپاره مهمې کارنامې کړي،ورسره یې د اسلامي شعائرو د احیاء په برخه کې هم اغیزناک ګامونه اخیستي.

د اردوغان یوه ستره کارنامه د ترکیې د سیکولر کمالیست پوځ تر قبضه لاندې راوستل دي. هغه پوځ چې په تیره پیړۍ کې یې بیا بیا د اسلامپالو سیاسي، نظامي او اصلاحي خوځښتونه ټکولي او له پښو غورځولي وو. له دې علاوه د فلسطین، برما او نورو سیمو د مستضعفو مسلمانانو د دفاع لپاره د نوموړي غبر اوچتول که څه هم د ده مخالفین یې ریاکارانه بولي خو پخپل ځای یوه او د قدر وړ پالیسي ده.

اردوغان د ترکیې د معارف له نصاب څخه د ډاروین نظریه او نور الحادي افکار حذف کړي او په حجاب د بندیز قانون یې لغو اعلان کړی دی. د نوموړي ستر مخالفین په ترکیه کې د آیتي ایستانو ټولنې، فمینستان او نور لیبرالان دي چې اردوغان د ترکیې سیاسي نظریې (سیکولرزم) ته په نه ژمنتیا تورنوي. اردوغان دغه راز د فرهنګ، معارف او نورو برخو کې هم د اسلامي اقدارو او شعائرو د احیاء لپاره د حساب وړ ګامونه اخیستي. په وروستیو کې د ایاصوفیا مانۍ مسجد اعلانول د نوموړي هغه سمبولیک اقدام و چې د ترکیې مؤمن ولس یې له ډیر پخوا څخه هیله درلود.

په دې کې شک نشته چې اردوغان او حاکم ګوند یې لا هم مشکلات لري. ترکیه لا هم د ناټو غړیتوب لري او د افغانستان د اشغال برخواله ده. اردوغان له هرڅو هڅو سره سره نه دی توانیدلی چې د شرابو او زنا په اړه د ترکیې سیکولر قانون تغیر کړي او په دې محرماتو بندیز ولګوي. ترکیې له اسرائیلو سره هم دیپلوماتیک روابط پالي او کله کله خو یې ځینې اقدامات د اسلامپالنې په نسبت د پان ترکیزم نظریې ته ډیر ورته وي. خو له دې ټولو ستونزو سره سره که د نوموړي اسلامي اصلاحات سیاسي ریا ونه ګڼو نو د تشاؤم پر ځای د تفاؤل په غوره بللو سره ویلای شو چې ان شاءالله له نږدې یوه پیړۍ پردیتوب او له خپل اصالت څخه له تیښتې وروسته تاریخي ترکیه یو ځل بیا خپل اسلامي اصالت ته ستنیږي چې دا په نړیواله کچه د ټول اسلامي امت د راتلونکې لپاره ښه زیری ګڼل کیدای شي.



حـــرص

د مصر نامتو شیخ علی طنطاوی په خپل کتاب (لیدلی اوریدلی) کی لیکی چه یو موتر له سورلیو ډک وو خو بیا هم موټروان یو خوا بل خوا کتل چی کوم سپرلی.ووینی او پورته یې کړي، پدې کې ناڅاپه موټروان موټر ودراوه، ناستو کسانو پوښتنه وکړه چی موټر دی ولې ودراوه، موتروان وویل چی دلته یو سپین ږیری ولاړ وو را پورته ته می کړ، خلکو ورته وویل چی کوم سپین ګیری موږ خو یې نه وینو ، دی خبرو په حال کی وو چی موتروان مړ شو.

(دا په اصل کی خپل مرګ یعنی د مرګ ملایکه یی لیدلې او راپورته کړې وه، مرګ فیصله یې شوې وو خو بیا هم د دنیا حرص راخستی وو)

سوځېدلي موټر، چاودلي زړونه

نصیب ځدراڼ

د لوګر ولایت برکي برک ولسوالي نه بابوس ته په لاره یوه دښته ده، که په اوسنیو وختو کې مو پېښه ور وکړه نو هلته د یوه موټر سوځیدلی او زنګ وهلی کباړ پروت دی، دا د فیضان موټر دی چې ډرون ویشتلی ؤ او فیضان پکې شهید تر اوسه په موټر سپین بیرغونه رپاند دي.

سپین بیرغ په سوځیدلي موټر لګول څه مطلب شو؟ مطلب یې دا شو چې طالبان په خپل دریځ دومره کلک دي چې له شهادت نه پس یې هم له خپل بیرغ د لاسه ورنکړ ، په سوځیدلي موټر او په قبر یې هم سپین بیرغ رپاند دی.

کله مو د باګرام او څرخي پله د زندانیانو په لاس جوړې شوې تحفې لیدلې؟ په سپڼسیو، مشکڼیو او زرتارو یې ،راکټ، ټوپک،بای فور موټر، سپین بیرغونه او د خپلو مشرانو نومونه جوړ کړي وي، او زندان ته چې څوک ملاقات ته ورځي هغوی ته یې ډالۍ کوي.

دا به هم دلته پریږدو.تیره ورځ مې د نجیب ننګیال عکس ولید، سپینې مانۍ مخې ته ناست و، ویل یې طالبانو خو په شلو کالو کې ونه نړوله دومره فدایان بیا څه شول؟ بل پوسټ یې کړی و، ویل یې زه او تواب غورځنګ دواړه د تهدیداتو سره مخ وو، د طالبانو په تور لیسټ کې وو،تواب غورځنګ د رواني فشار سره مخ ؤ او زړه یې وچاود (زه روغ امریکا ته ورسیدم او زړه مې هم روغ دی).

دا هم دلته پریږدئ، هلمند کې برتانویانو د خپل پوځي مرکز(باسټن) له منځه وړلو ویډیو نشر کړې ده، سپکې درنې وسلې،تجهیزات هر شی له ځان سره وړي، او کوم څه چې د دوی د کار نه دي هغه ماتوي او ختموي یې، د اردو یو عسکر په دې ویډیو کې خبرې کوي وایې" کنکریټي دیوالونه ډېر دړانده دي ،کنه دا یې هم نه راته پریښودل".

له دې هم تیر شئ، په خوست صحراء باغ کې د (سارلیرنو) په نوم د بهرنیو یوه پوځي مرکز د طالبانو د برید ویډیو نشر شوې ده، یولس تنه طالبان له خپلو وسلو سره پوځي مرکز ته ور داخل شي، یو طالب خپل موټر ته اور ورته کړي، ځکه په دې یقین لري چې موږ به بیرته ژوندي نه راوځو هسې نه دا موټر مو د دوښمن لاس ته ولویږي.بیا جنګ پیل شي او ټول هم هلته شهیدان شي.

په دغو کیسو مې ځکه راو ګرځولئ چې د دوو مخالفو ډلو په سختیو او امتحان کې فرق در معلوم شي.

یو د نجیب ننګیال، تواب غورځنګ او مجید قرار ژوند ته خطر ؤ چې له وطنه وتښتیدل؟ او زړونه یې وچاودل؟ یو دوی له غوښو جوړ دي او طالب له کاڼي جوړ دی؟د طالبانو ژوند ته خطر نشته؟

طالبان ولي وطن نه پریږدي؟ زندانو وربانديې ډک دي، هدیرو کې چې نوي قبرونه جوړ دي ډیری طالبان دي، کورنۍ یې بې سرپرسته پاتي دي، کومه جذبه ده

چې دوی په خپل دریځ ټینګ پاتي شول؟او د دوی ځنو له وارخطایې ړزونو چوي؟

د سپینې ماڼۍ مخې ته ناست نجیب ننګیال وایې طالبانو خو سپینه ماڼۍ ونه نړوله ؟ عجیبه سپین سترګې ده، که امریکا کې سپینې ماڼۍ ته ونه رسیدل خو افغانستان کې صحراء باغ،باګرام،شوراب په شمول ټول لوی پوځي مراکز یې له بریدونو لاندې راوستل، دا هر یو د امریکایې غرور نښه او په خپل ځای سپینه ماڼۍ نه وه؟ امریکایان یې دي ته یې اړ کړ چې اوس لګیا دي د یرغل ټغر ټولوي او باسټن غونډي خپل مراکز خپل نړوي، د دي هر پوځي مرکز نړیدل د سپینې ماڼۍ د غرور نړیدل نه دي؟

ولي یو په امتحان او تکالیفو کې خوشحال دی، په خپله ژمنه دومره کلک دی چې په سوځیدلې موټر ان په خړ قبر هم سپین بیرغ ولاړ دی؟ یو ولي دومره مایوسه دی چې له خپلو بهرنیو ملګرو ګیله کوي چې موږ د نیویارک او واشنګټن د امنیت په خاطر قرباني ورکړې او دوی یوازې کنکریټي دیوالونه پریښودل نو یې هر څه یوړل؟ ولي یو د هغه ټوپک سره ولاړ د کابل دروازه ور ټکوي او د داخلیدلو په درشل کې او مخالف پښې یې په زرهي موټر او کنکریټي دیوالو کې نه ټینګیږي زړونه یې چوي او ځني د سپینې ماڼۍ لمن ته پناه ور وړي؟

د دي سوالو ځواب تاسې راپیدا کړئ خو زه وایم چې د چا ملاتړ یا مخالف کول دومره مهم نه دی لکه دا چې مهم دی چې ته څومره د خپل نظر یا فکر ته وفادار یې، څومره د قربانۍ سړی یې او امتحان کې په خپل دریځ استقامت که له خپلې خبرې په شا کیږي.



مونږ ته د قرانکریم نصیحت !

فَتَبَيَّنُوا

د خبري ښه تحقیق کوی.

په لیږ خبر جنګ جدال بدګماني لانجه مه کوه ښه تحقیق کوه بیا اقدام کوه.

وَ اَقْسِطُوا

له عدل کار واخلی عدل کوی.

د دوو کسانو مابین کې په فیصله کې عدل انصاف کوه،په تول او ترازو کې عدل او انصاف کوه او.....

وَلاَتَلْمِزُوا

یوبل ته پیغور مه ورکوی.

چاته د غریبي،بدرنګي،بد شکلي، او...پیغور مه ورکوه.

وَلاَيَغْتَبْ

یو دبل غیبت مکوی.

یو په بل پسې خبرې مه کوی که په هغه کې هغه عیب وي او که نه وي چاپسې داسې خبرې مه کوی چې هغه یي بده ګني او خپه کیږي.

فَاَصْلِحُوا

خپل مابین کې جوړه او صلحه کوی.

د مسلمان له مسلمان سره لانجه دعوه جنګ وي کوشش وکی صلحه او جوړه وکی د صلح زیات اجر ده.

وَلاَيَسْخَرْ

یو په بل مسخرې مکوی.

یو په بل مسخرې مه کوی دچا په شکل یا لباس یا کور یا خبرو باندې مسخرې او ټوکې مه کوی استهزاء یې مه کوی.

وَلاَتَنَابَزَوْ بِاالأَقَابْ

یوبل په بدو لقبو او نومو مه یادوی.

یو بل په بدو لقبو او نومو مه یادوی ټیټ قد..جګ قد او....

وَلاَتَجَسَّسُوا

جاسوسي او تجسس مه کوی.

یو بل ته خبرې مه نقلوی د شیطانت په نیت د یو خبري بل ته وړل یا دچا پټ حال ښکاره کول ...

اِجْتَنِبُوْ كَثِيْرًا مِنَ الْظَنْ

ځان له ګمان کولو نه اوساتی.

ځان له ګمان نه اوساتی په چا باندې بد ګمان مه کوی تر څو مو چې یقین سوی نه یي تر هغو پوري خبر مه کوی...

م فاروقی



دسمنګان برید دښمن ته کوم پیغام لري؟

خوړمن افغان

د ۲۰۲۰ میلادي کال د جولائي میاشتې په دیارلسمه د سمنګان ولایت مرکز کې د ملي امنیت یوه ستره څاله د اسلامي امارت د استشهادي کنډک د دریو تنو فدایی مجاهدینو له لوري تر برید لاندې راغله، برید تر ډېره دوام وکړ،چې په پایله کې لسګونه د ملي امنیت کارمندان او لوړ پوړي چارواکي مړه او ژوبل سول.

هیره دي نه وي چې د دوحې له توافقنامې څخه را وروسته د طالبانو له لوري په ښارونو کې پر کابل اداره دغه تر ټولو ستر برید و چې لامله یې د ځینو خلکو زړونه ته دا شبهه دننه سوې چې ګنې طالبانو له توافقنامې څخه سرغړونه کړې او د سولې بهیر یې زیانمن کړ!

که حقیقت ووایو نو د سمنګان فدایي برید بالکل د توافقنامې خلاف ندی

په توافقنامه کې هیڅ داسې قید نسته چې دا ډول بریدونه دې نکیږي،د توافقنامې له متنه څخه جوتیږي چې طالبان پر کابل اداره هر ډوله بریدونه کولای سې خو دا چې طالبانو د دوی پر مهمو ځایونو له بریدونو ډډه کړې او د دوی رعایت یې کړي تر څو سیاسي فضا نورماله کړي او د سولې لپاره لار هواره کړي.

خو د کابل اداره نه سولې ته خوشبینه ده او نه ورته جدیت ښیي، همداسې د سولې په وړاندې په هیڅ ډول خنډونو باندې صرفه نکوي، امریکایانو یې هم بشپړ ملاتړ کړی، ډیر ځله په چاپو، بمبارونو او ډرون وارونو کې هم مرسته ورسره کړې چې دغه برید یې سرغړونه څه؛ بلکې له دوی څخه یو غچ او انتقام بې بللای سو.

د سمنګان برید دښمن ته ځانګړی پیغام لري چې کابل اداره دي د مشرانو د انعطاف، ترحم، همدردی، سیاسي او اخلاقي مسؤلیتونو څخه ناوړه استفاده نه کوي چې د غرور پر نیلي سپره وي، سرتمبګی ته یې ملا تړلې وي د سولې پروسه له ځنډ او خنډ سره مخ کوي، بندیان نه ازادوي، پر ملکي خلکو چاپې وهي، وحشتونه ترسره کوي،

او دغه بهیر سبوتاژ کوي، که لاس په سر نسې نو به تل د داسې بریدونو سره مخ کیږي او د سر ماغزه به یې ځای ته راځي.

امریکایانو ته هم یو جوت پیغام پریږدي چې دا برید په داسې حال کې ترسره سو چې د دوحې د موافقتنامه لومړی پړاو(۱۳۵ شپې) پوره سوې، که مقابل لوری موافقتنامه عملي نکړي او خدای مکړه د دغه څورلس میاشتې په موده کې افغانستان تخلیه نکړي نو شونې ده چې تل به د داسې استشهادي او انغماسي بریدونو سره مخ وي او یوه ورځ به د زور له لاري افغانستان پرېږدي.

ان شاء الله



نړیوالو خوځښتونو لپاره

اسلامي امارت د وحدت غوره سمبول!

■ لیکوال: حمادافغان شیرزاد

د یوه خوځښت او صف د کامیابۍ تر ټولو غوره او مهم راز د هغه صف اتحاد او جوړښت دی، که چېرې د یوې ډلې او یا هم خوځښت تر مینځ یووالی او همغږي نه وي هغه خوځښت دوام نشي پیدا کولی ، د مشکلاتو او تکلیفونو پر وخت مقاومت نشي کولی، خپل حیثیت او دبدبه برقراره نشي ساتلی ، د مشرانو د مړینې پر وخت دا خوځښت او صف پر ټوټو ویشل کیږي او په آخر کې بالکل له منځه ځي.

که په تېر تاریخ نظر واچوو نو د ډېرو قوي او منظمو تحریکونو، خلافتونو ، دولتونو او خوځښتونو د ختمېدو او له منځه تللو ستر لامل خپل منځي جګړې وې ، او د خپل منځي جګړو سبب په صفونو کې د یووالي او اتحاد نه شتون و.

افغانستان د نړۍ اوپه خاصه توګه د اسیا یو لرغونې او جګړو ځپلې هیواد دی ،دلته دا څو لسیزې جګړې او بدبینۍ روانې دي . نو کوم هیواد کې چې جګړه وي هلته بیا د ویرانۍ ، قتل او قتال سربیره بې شمیره ګوندونه او خوځښتونه هم پیدا کیږي او وده کوي ، دلته هم هغه شان وشول ډېر ګوندونه او خوځښتونه جوړ شول ځینو یې بیا ډېره ترقي وکړه او پرمخ لاړل ، خو د زیاتره ګوندونو او خوځښتونو اوس تش نوم او نښان پاتې دی دا ځکه چې په هغوی کې جوړښت ، اتحاد او یووالې نه و ، مشران یې خودغرضه او چوکۍ پرسته وو، د کشرانو مینه ، شفقت او د هغوی د قربانیو خیال ساتل یې زړه کې نه و ، بلکې د جګړو ، زور ، زیاتي او ظلم له لارې یې په یوه سیمه او قوم حکومت کولو ، خپله ډله او ټپله یې غټوله چې نن یې تش نوم او نمایش پاتې دی.

اسلامي امارت هم د یو خوځښت په شکل په افغانستان کې د یوه سپیڅلي هدف لپاره هغه وخت راپورته شو کله چې هیواد د شر ، فساد ، پاټکسالارۍ ، خپل منځي جګړو او بدبینیو ښکار و ، هر طرفته د ظلم او زور خبرې روانې وې ، خلکو د کوم عمر او صلاح الدین ایوبي انتظار کولو کوم چې الله تعالی د لوی ملاصیب او اسلامي امارت په شکل کې ورکړ ، چې ډېر ژر یې ټول هیواد کې سرایت وکړ او په لنډه موده کې د افغانستان حاکمان شول ، یو نظام او اداره یې رامنځته کړه د امن یو داسې فضا یې برابره کړه چې د ټولې نړۍ خلکو پرې اقرار وکړ.

کله چې امریکا یرغل وکړ او د اسلامي امارت نظام یې ړنګ کړ ، په ډېر لږ وخت کې دا صفونه بیا منظم شول ځکه چې له اوله دا صف په اتحاد جوړ او روان شوې و ، نو ځکه بیا په ټول هیواد کې د کفر او یرغل په وړاندې وسلواله مبارزه پیل کړه ، کشرانو په خورا اخلاص قربانۍ ورکړې او مشرانو یې ښه رهبري وکړه چې الله تعالی پرې مثبته نتیجه مرتبه کړه او امریکا یې د مذاکراتو میز ته کینوله.

په نظامي ډګر کې د صفونو وحدت او همغږي!

اسلامي امارت په ټول هیواد کې تر دا اوسه په وسلواله مبارزه بوخت دی ، د هیواد په ټولو ولایتونو کې پراخه حضور لري ، پنجشیر چې د طالبانو سرسخته دښمن ولایت و ، اوس په هغه ولایت کې ځایي خلګ د دې صف مسؤلیتونه پر مخ وړي ، د هر ولایت لپاره نظامي مسؤلین ، والیان او ولسوالان پر یو غبر او حکم ټاکل کیدل او کیږي ، د دې صف د څیري کولو لپاره برغلګرو او اجیرو غلامانو یې هر وخت ډول ډول دسیسې رامنځته کولې ، په نظامي ډګر کې یې کله د ډلو او کله بیا د پوره امارت تر مینځ د ډلو او تپلو کاذبې ادعاوې کولې ، کله یې بیا د حقاني شبکې پر نوم غوښتل چې د دې صف نظامي برخه وویشي خو هر وخت دوی په خپلو دسیسو کې ناکامه راغلي ، دا ځکه چې د دې صف جوړښت دا پر اتحاد او یووالي و ، کشران یې د مشرانو مطیع ، فرمانبرداره او پخپلو مشرانو پُراعتماده وه .

د امیرالمؤمنین ملا محمدعمر مجاهد رح د وفات او رحلت پر وخت دښمنانو تر اخیري حده کوښښ وکړ چې دا صف متفرق او د کشرانو حوصلې ماتې کړي او یقینا دا یو ډیر نازک او حساس وخت وي ځکه زیاتره ګوندونه او خوځښتونه د خپلو مشرانو په مړینه متفرق او په ټوټو ویشل کیږي نو له همدې امله د کفارو سترګې دغې ورځې ته وې ،خو لله الحمد د الله په ځانګړي نصرت ، د مشرانو ځراکت ، هوښیارۍ او ویښتیا په دې حساس وخت کې دا صف له ټوټه کیدو وژغورلو او دښمنان یې ټول ناکام او یخ کیناستل .

زمونږ پر نظامي میدان کفارو او غلامانو ډیر زیات او بې بنیاده تورونه لګولي او دلته یې د یوس او شلو ډلو ادعاوې وکړې خو الحمدلله د اوربندونو او اخترونو پر مواقعو اسلامي امارت د دښمنانو دا تور او ادعا هم کاذبه او بې بنیاده ثابته کړه.

یو اخیري کوښښ چې کفارو د نظامي ډګر د ټوټه کولو لپاره وکړ هغه دلته د فتنه ګرو ډلو پیدا کول و، دوی د داعش په نوم یوه ستره فتنه راپیدا کړه او طالبانو ته لوی سرخوږي جوړ کړ خو د تیر په څیر دا ځل هم اسلامي امارت د سختو مقاومتونو او قربانیو وروسته دې فتنې ته د پای ټکی کیښود او اسلامي امارت روغ او سالم راووت.

سیاسي ډګر کې د طالبانو وحدت!

د نظامي مبارزې تر څنګ د طالبانو تحریک سیاسي مبارزه هم پرمخ وړي ، چې الحمدلله اسلام او هیواد ته یې له دې لارې هم مهمې او سترې بریاوې راوړې، تر ټولو غټه بریا د امریکا د زبرځواک ماته منل ، پر هغې لاسلیک کول او له دې ځایه نور د خپل اشغال ختمولو ترون و ،دلته هم کفر او غلامان یې په آرامه ندي ناست بلکې په مختلفو نومونو یې خلګ راپورته کړي او هغوی د طالبانو د نمایندګۍ ادعاوې کړي کله یې د یوې شورا او کله یې دبلې شورا نوم راپورته کړی ، کله یې په ترکیه او کله نورو هیوادونو کې دفترونه خلاص کړي خو تل په خپلو هڅو او کوښښونو کې ناکامه پاتې شوي او داسې یوه تاریخي ماته یې وخوړه چې د همدې لوړپوړو چارواکو له خولو وخت پر وخت د اسلامي امارت د وحدت صفتونه وشول او د خپلو خلکو تورونه یې بې بنسټه او بې بنیاده وباله.

اسلامي امارت په سیاسي ډګر کې چې له اوله کوم پلاوې ټاکلی و، تر ننه همغه پلاوی د دښمن په وړاندې په مبارزه بوخت دی .

په میډیا او ټولنیزو رسنیو کې د طالبانو وحدت!

میډیا او رسنۍ د کفارو په لاس کې دي او تل یې له دې لارې د ځوانانو د بې لارې کولو کوښښ کړی ، همدا رسنۍ د کفارو یو زهرجنه وسیله او د اشغال ژبه یاده شوې او پوره همکاري یې ورسره کړې ، ځکه خو

نړیوالو افغانان یو ترهګر قوم باله رسنیو او کفارو مونږ غلط معرفي کړي و ، نړیوال د افغانستان او نورو اسلامي هیوادونو له حقیقي حاله ناخبره وو خو ټولینزو رسنیو د کفارو دا حال د دنیاوالو پر وړاندې بربنډ کړ ، په ټوله نړۍ خصوصا دلته په افغانستان کې اسلامپالو مبارزینو د کفارو او غلامونو حقیقي څیرې دنیاوالو ته وښودلی.

د اسلامي امارت مینوالو او پخپله د طالبانو تکړه لیکوالانو او تحلیلګرو وخت پر وخت د دښمن هره دسیسه د هغوی استعمار ، اشغال او دیمکراسي خلکو ته ښکاره کړی، او د دښمن هر فر یب او جعل یې رسوا کړی .

په دې ډګر کې هم اسلامپال مبارزین په پوره وحدت او د اسلامي امارت تر پالیسۍ لاندې خپله مبارزه کوي ، هره موضوع او هره خبره په شریکه سره پر مخ وړي ، مشران هر وخت دوی ته توصیې او اعلامیې خپروي چې دوی ورسره لا تشویق کیږي، الحمدلله د کفارو او غلامانو رسنیو د دوی پر پُر اثره فعالیت راپورونه جوړ کړي او دوی یې کامیاب ګڼلي دي.

د اسلامي امارت مشرانو هر وخت د خپلو پیغامونو او نورو لارو د نړیوال خوځښتونه په خاصه توګه د افغانستان حزبونه او ډلې ټپلې وحدت ته رابللي او دا یې د اسلام ، هیواد او ټول امت ګټه بللی.

په آخره کې د اسلامي امارت له مشرانو هیله کوم چې د دې صف وحدت او یووالي لا پیاوړې کړي تر څو دښمن ته هیڅ کومه کمزوري په لاس ورنشي .

نشنلیزم او تغریب!!

له اسلامي نړۍ او افغانستان څخه د معاصرو صلیبي ښکېلاک ګرو تر وتلو وروسته به هم بالواسطه د استعماري موخو د لاس ته راوړلو په برخه کې له دوی سره تر ټولو غوښن رول د نیشنلېستانو یا ملیت پالونکو وي. دا خبره شاید هغه فکري جمود ځپلي ځوانان بیخي ونشي زغملی دکومو له سرونو چې د سترو نیشنلېستانو د کاذبو شعارونو او غوړمالیو په نشه کې کانې جوړ دي او هیڅ بل ښه فکر او خبره پرې اغیز نسي کولی؛ خو هغوی پرې پوهیږي چا چې د اسلامي امت د عظمت د تاریخ پنډ پنډ کتابونه لوستي او هضم کړي وي. اسلامي امت له تعصب او ملیت پالنې ډیرې داسې پخوانۍ تجربې لري چې د تاریخ په پاڼو کې ثبت دي. اندلس (هسپانیه او پرتګال) زموږ ؤ، د یو وجود په څیر د مسلمانانو په نوم ورغلو هلته مو په پیړیو پیړیو راج وکړ؛ خو بیرته د عرب، بربر، سپین پوستي او تور پوستي په نوم د ښځو، واک او ماڼیو په نشه کې ترې راوشړل شوو. هند زموږ دوهم اندلس ؤ، هلته مو د واک او ځواک یو نه هیریدونکی تاریخ پروت دی، هندوان مو د بشریت له نوم سره آشنا کړل، مسلمانان ورغلو خو د هندي، عرب او پټان په نوم تر پاشل کیدو وروسته رانه پاتې شو، داسې چې اوس څوک د خپل مسلمان مظلوم ورور په ننګه سپڼ هم نسي کولی. موږ په ترکیه کې داسې خلافت کړی چې له اوسنۍ روسیې او فرانس به مو قلنګ اخیست، تر هغې چې د خلافت قیصه د مسلمان په نوم د ورورګلوی په خوله کېدله هر څه سم وو؛ خو کله چې د عرب، ترک او کرد په نوم د نشنلېزم ذهر مو په وجود کې وپاشل شول، د عثماني خلافت مضبوتې متې مو کمزورې شوې، د پاکو عقیدو او ټینګو ارادو په وړاندې کمزوری سیکولریزم په دې بریالی شو چې د اسلامي خلافت دا وروستی لړۍ ختمه او تر ننه پورې مړه کړي...

نن سبا نشنلېزم، تغریب او سیکولریزم غاړه غړۍ په دې لاره روان دي، د صلیبي استعمار وروسته به د غرب ډیر حساب هم په همدوی وي... په دې حساس وخت کې ددې خلکو رسوایي او د ملت بیداري ښه زیر دی، موږ به دا ځل له دې سوري نه چیچل کیږو او ان شاء الله چې ددې ښامار زهر به اغیزه نه کوي... نوید افغان

لیکنه: شهامت افغان

د دوحې د توافق نامې په اساس
د مهمو اډو تخلیه او د ګوډاګیانو لوېدلی مورال

د ۲۰۲۰ میلادي کال د فروري میاشتې په ۲۹ نیټه د افغانستان د اسلامي امارت او د امریکا د متحده ایالاتو تر منځ توافق نامه لاسلیک شوه چې په نتیجه کې به یې د ۱۴ میاشتو په موده امریکایي ځواکونه په مکمله توګه له افغانستان څخه وزي او طالبان به هم د وتلو لپاره خوندي لاره ورکوي او په دوی به بریدونه نکوي همدغه راز به دطالبانو ۵۰۰۰ پنځه زره هغه زندانیان ازادیږي چې طالبانو یې له وړاندې لا امریکایانوته نوم لړ سپارلی وو او طالبان به هم د افغان حکومت ۱۰۰۰ زرنفره اسیران ازادوي چې په مجموع کې به ټول ۶۰۰۰شپږ زره بندیان ازادیږي او همدغه راز به د بندیانو تر ازادیدلو وروسته متصل دمارچ په لسمه نیټه به بین الافغاني مذاکرات شروع کیږي یاد تړون په نړیواله کچه له استقبال سره مخ سو اوټولویې هرکلی وکړ د ملګرو ملتونو امنیت شورا او اروپایی ټولنې هم ددې موافقې تاید وکړ خو یوازینۍ اداره چې یاد تړون ته یې غبرګون وښود هغه د کابل کاواکه اداره وه دوی چې دقدرت او ډالرو په نشه مست دي هیڅکله هم نغواړي چې دقدرت واګې دې د دوی له لاسه ووزي ځکه خویې په مستقیم او غیر مستقیم ډول دیاد تړون د مادو په تطبیقولوکې دخنډونو په ایجادولو پیل وکړ.

لومړی یې د بندیانو له ازادولو څخه چورلټ انکار وکړ بیا کله چې د امریکایانو فشار وربانذې راغی نو په خپل سر یې د یو شمیر بندیانو د ازادولو په لړی پیل وکړ خو طالبانو ورسره هغه زندانیان ونه منل او په دې یې ټینګار وکړ چې زندانیان باید زموږ دلیست مطابق او زمونږ تر نظارت لاندې ازاد شي همغه وو چې د طالبانو یو تخنیکی ټیم کابل ته سفر وکړ ار څو دبندیانو دخلاصون پروسه له نږدې وڅاری له لږ وخت تیرولو وروسته یاد ټیم بیرته راستون شو وجه یې هم داوه چې د کابل ادارې یې په مخ کې خنډونه جوړول دڅه وخت لپاره داپروسه کمزورې شوه خو د امریکا د ځانګړی استازی زلمی خلیلزاد کابل ته له سفرنه وروسته یاده پروسه یوځل بیا شروع سوه او لاهم روانه ده د طالبانو تخنیکی ټیم د دوهم ځل لپاره کابل ته سفر وکړ او د زندانیانو د خلاصون لړۍ یو ځل بیا ګړندۍ شوه او په دې توګه د دواړو لوریو زیات شمیر زندانیان ازاد شول د کابل اداره چې نوره له هر څه نه ناهیلی سوه بله بهانه په لاس نه ورتله په دې وروستیو کې یې یوځل بیا شور جوړکړ چې یو شمیر زندانیان به نه ازادیږي ځکه چې هغوی ډیر مهم کسان دي او یا هم په قتلونو متهم دي خو داسې معلومیږي چې هغه شمیر بندیان هم کرار کرار ازادیږي

- داسې ویل کیږي چې د طالبانو په پنځه زره کسیز لیست کې ګڼ شمیر د طالبانو مهم چارواکی او افراد شامل دي چې د کابل اداره نه غواړي هغوی دې ازاد شي ځکه چې د کابل اداره همدا دځان لپاره د امتیاز اخیستلو او په طالبانو د

فشار واردولو لپاره وروستي چانس بولي او که دا زندانیان هم ازاد شي دوی به په تش میدان پاتې شي او بیابه په طالبـانو د فشار واردولو لپاره نور څه په لاس کې نلري.

• خودوی له دې نه ناخبر دي چې په طالبانو یې ترننه پورې کوم فشار داسي ندی ثابت شوی چې دوی دې له خپلې خبرې او مسیر څخه تیر کړي نو آیا د دوی دا حربه به کار ورکړي؟ آیا دوی به وتوانیږي چې له دې لارې په طالبـانو فشـار وارد کړي؟ کلّا وحاشاَ ! هیڅکله هم نه بلکه داحربه به یې هم د نورو حربو په څیر ناکامیږي او دطالبانو دریـځ بـه د دوی په خلاف لا پیاوړی کیږي.

• همدغه راز د دوحې د تړون د مادو دعملي کولو په لړکې بل مهم ګام چې د امریکایانو بشپړ وتـل او د فـوځی اډو تخلیه ده دالړۍ هم په چټکۍ سره په مخ روانه ده تېره ورځ رسنیو راپور ورکړ چې امریکایانو خپلې ۵پنځـه مهمې پـوځی اډې تخلیه کړي دي په دې اډو کې د هلمند کمپ بیستن یابنوراب په څېر مهمې اډې هم شاملې دي بنوراب چې یو وخت په نړۍ کې د برطانوی ځواکونو تر ټولو لویه اوځواکمنه فوځی اډه وه خو اوس مهال په یوه دښته بدلېدونکې ده.

• برطانوی صدر اعظم ټونی بلیر د بنوراب فوځی اډې نه د لیدلنې په مهال په ډیر غرور سره وو یل چې مـوږ بـه لـه دې ځای نه د نړۍ د یویشتمې پیړۍ پربکړې کـوو خـو نـن یـې هغـه خبرې هسې تـش خیالونـه ورتـه ثابـت شـول اوبس! امریکایان او س مهال د بنوراب فوځی اډې په تخلیه بوخت دي هر څه چې د وړلـو وی دوی یـې بیرتـه لـه ځانـه سـره وړی اوکوم څه چې د وړلو لائق نه وی هغه به افغان ځواکونوته پریږدي تیره ورځ یوه ویډیو ټولنیزو رسنیو کې خپره شـوه چې امریکایان د بنوراب اډې په تخلیه بوخت دي او افغان عسـکر یـې پـه خـورا نـا امیـدی سـره تشـه ننداره کـوی او پـه خـورا لویدلی او بایللی مورال سره وایی چې : هرڅه چې د وړلو وی دوی یې له ځان سره وړی دا سمیټې دیوالونه ډیر درانه دي کنه دایې هم له ځان سره وړل.

• همدا راز څو ورځی مخکې د فاریـاب مـر کـز میمنې ښـار او سـیدونکو پـه مسلسـل ډول د چـاودنو او انفجـاراتو اوازونه اوریدل او خلک هم په تشویش کی وو وروسته معلومـه شـوه چې چـاودنې د امریکایـانو پـه ببس کې وی او خپـل محکم هستوګنځي یې په بمونو ورانول.

• د امریکایانو دې کړنو د کابل ادارې چار واکی له سختې مایوسی سره مخ کړي دي او لاره ورنـه ورکـه ده چې څـه وکړي او کومې خواته لاس واچوي؟ همدغه راز د امریکـا د ولسمشـرۍ د ټـاکنو لپـاره کاندیـد "جوبایـډن" د اشـرف غني ادارې ته حال ورکړی چې نور "خپلې ښځې او حقوق یې خپله وساتي، موږ پخپلو پسې سرګردانه ګرځو! او زیاته کړې یـې ده چې موږ په دې کیسه کې هم نه یو چې راتلونکي کې به طالبان بیا واک ته رسیږي...

• اشرف غني د سولې په لاره کې خنډونه جـوړول او دا طمـع یـې لرلـه چې ټرمـپ خـو لاس رانـه واخیسـت ممکـن راتلونکي کې که جوبایډن انتخابات وکټل او د امریکا ولسمشر شو نو هغه سـره بـه لاس یـو کـړو او خپـل واک تـه بـه دوام ورکړو. خو جوبایډن یې وار له مخې په امیدونو خاورې ور واړولې او د کابل کاواکه اداره یې له سختې مایوسی سـره مـخ کړه .

• دامریکایانو خروج او د کابل ادارې دې حالت ته په کتو سره وئیلی شو چې نور هغه ورځ لرې نده چې ان شاء الله العزیز د ګران هیواد د ویاړلی تاریخ په تقویم کې د انګریزی او روسی یرغلګرو په څېر د صلیبی یر غلګرو د تیښتې ویاړلې ورځ هم ور اضافه ، د زرګونو شهیدانو ارمانونه مو پوره او یو سپیڅلی همه شموله سپین اسلامی نظام حاکم سی ان شـاء الله العزیز



د مخامخ خبرو چارې چا له ځنډ سره مخ کړې؟!

لیکنه: همایون عیسی خېل

د اسلامي امارت او امریکایانو ترمنځ په لومړي ځل په ۲۰۱۸ د اکتوبر دمیاشتې په ۱۲ دولسمه نېټه د سولې خبرې پیل شوې.

له کله چې خبرې پیل شوې د کابل ادارې او د واک مین اشرف غني لخوا ډول، ډول دسیسې او خنډونه جوړ شول.

۱: څو ځله یې ټرمپ ته پټ خطونه واستول او زارۍ یې و کړې چې، مونږ به لګښتونه کم کړو خو ټول سرتېري له افغانستانه مه باسه!

دا لیک د نیویارک ټایمز لخوا رسنیز شو.

عراقي مشرانو د امریکي ځواکونو د وتلو تود هر کلی وکړ، بل لور ته اشرف غني چې ځانته مسلمان وایي، د امریکې ځواکونو پر وتلو یې خپګان وښود، شاید د افغانانو پر وژلو یې زړه نه وي یخ شوی.

۲: د امریکې سنا مجلس غړو ته یې پټ خطونه واستول چې د خلیلزاد د پیل کړې پروسې سره مخالفت وکړي، ترڅو د سولې بهیر ټکانی او زیانمن کړي.

۳: یو ځل یې د طالبانو دامارت د وخت پخوانی منشور خپور کړ، په دې سره یې موخه دا وه چې نړیوالو او بالخصوص ټرمپ ته طالبان سخت دریزه معرفي کړي او دوی له طالبانو سره پیل کړې خبرې ودروي ...

۴: اخر یې د خلیلزاد د وژلو دسیسه هم جوړه کړه، خو دوی پخپلو شومو اعمالو کې خپل هدف ترلاسه نه کړ.

له توافقنامې وروسته:

کله چې د ۲۰۲۰م کال د فرورۍ د میاشتې په ۲۹ نېټه سوله نهایي شوه، د دواړو خواوو یوه لوظنامه امضا شوه، په نړیوال کانفراس کې د تکبیر صدا پورته شوه، د ټول اسلامي امت په ځانګړې ډول د افغان مظلوم ملت په خوله مسکا خپره شوه، یو بل ته یې مبارکیانې ورکولې او مړاوې هیلې یې راژوندۍ شوې... خو دا هر څه د کابل ادارې او د واک مینانو ته د زغملو وړ نه وو.

لوظنامه په ډېرو مادو مشتمله وه ، دا هم پکې لیکل شوي و چې، له مادو پلې کولو وروسته به بین الافغاني مخامخ خبرې پیلیږي، خو په دې کې د طالبانو لپاره سره کرښه دا وه، ترڅو زمونږ ۵۰۰۰۰ بندیان د لېست له مخې خوشې نه شي، د کابل ادارې سره خبرو ته نه کېنو... طالبانو سره دا سره کرښه منلې او امضا شوې هم وه.

خو د کابل ادارې په ډېرې بې شرمۍ سره لومړی د بندیانو د آزادولو څخه انکار وکړ، بیا د خلیلزاد په امر سره د بندیانو د ازادولو لړۍ پیل کړه خو د میږي د تګ په څېر...

افسوس صد افسوس!

اوس اشرف غني د خپلو شخصي ګټو او په څوکۍ د واک غځولو په خاطر نه سوله کوي، نه یې زړه دی چې سوله وکړي، خو برملا انکار هم نه شي کولی، ځکه چې په سوشل میډیا او رسنیو کې ځان د دې وطن بچی او خواخوږی بولي او ځان

سولې ته تړې ښکاره کوي، په دري کې متل دی، وايي: نه انکار مي کنم ونه اين کار مي کنم.

له دې امله اوس کوښښ کوي چې لمر په دوو ګوتو پټ کړي، او د ولس په سترګو کې خاورې وشيندي. د خپلې ځوکۍ او مفادو په خاطر د سولې بهير ځنډوي او د دې لپاره ډول، ډول بهانې لټوي.

کله وايي:

۱: طالبانو تاوتريخوالی زيات کړی!

۲: طالبان له القاعدې سره اوس هم ژورې اړيکې لري!

۳: کله دملکي تلفاتو پړه پرطالبانو وراچوي!

۴: کله وايي ۵۹۷ بنديان نه آزادوم، ځکه چې دوی په جنايي جرمونو کې لاس لري...

۵:کله د دولتي عسکرو د تلفاتو ارقام په څو چنده زيات خپروي...

٦: کله د ولس په عامو ځايونو لکه روغتون او بازارونو کې چاودنې کوي او پړه يې پر طالبانو اچوي، تر څو خپل بادار امريکې نړيوالو ته وښيي، که تاسو له افغانستان څخه خپل ټول ځواکونه وباسئ! دلته به بيا اور بل شي.

۷ : کله په ډېرې قهريدلې لهجه وايي: ولس تحملي سوله نه غواړي.... متل دی، چې ستا مڼه په کار ده او که کابل؟ که کابل ته دې زړه کيږي هغه ځانته موضوع ده، او که مڼه غواړې، نو مڼه دغه ده، نوشې جان يې کړه!

موږ افغانانو ته سوله پکار ده هغه، که تحملي وي او که رضايي....

۸: کله داسې راپورونو ته هوا ورکوي چې، ګواکې روسانو طالبانو ته د امريکايانو په وژلو جايزې ورکړې دي!

۹: کله راپور خپور کړي چې، د امريکا سره د ترون په ضد د طالبانو نوې ډله جوړه شوې!

خو د دې ټولو پروپاګنډو او تبليغاتو په بدل کې ټرمپ او ناټو هېوادونه همدا يو ځواب تکراروي: (موږ ته له هر څه دخپلو ځواکونو ويستل مهم دي).

بل لوري ته طالبان:

۱: همدا نارې وهي، چې بنديان ژر آزاد کړئ، تر څو بين الافغاني خبرو ته لار هواره شي،

۲: کله په نړيوالو غږ کوي چې د لاسليک مادو ته بايد دواړه خواوې ژمن واوسي او ژر پلې شي.

۳: پخپلو عملياتو کې يې ۷۰ سلنه کمښت راوستلی دی.

خو:

دا دی د لاسليک نږدې ٦ مياشتې پوره کيږي، خو د مقابل له لوري تر اوسه لومړۍ ماده نه ده عملي شوې. که په دې پروسه باندې کار په چټکۍ ترسره شوی وای، شايد اوس بين الافغاني خبرې يوې نتيجې ته رسيدلې وې او يا هم اخرني پړاو ته نږدې شوې وې...

که په ځوکۍ مين اشرف غني رښتيا هم سولې ته لېواله وي، بايد د بنديانو پروسه زر نهايي کړي.

د بين الافغاني مذاکراتو ځنډولو پايله:

په دې شپږ مياشتو کې دواړو لورو او يا بې ګناه ولس ته څومره تلفات اوښتي دي، مسؤول يې د کابل اداره ده، همدوی به يې حساب ورکوي.....

هيله:

بايد ولس ويښ او ځيرک واوسي، د دښمن په دروغجنو تبليغاتو ونه غوليږي، د دې بدمرغيو علت دولت وګڼي او راپورته شي، له واک ترو څخه وپوښتي چې ولې سوله نه کوئ؟

ولې اور ته لمنه وهئ؟

ولې مو د افغانانو په وژلو زړونه نه يخيږي؟

ولې په بيچاره ملت ترحم نه کوئ؟


ولې له سولې دومره وېره لرئ؟

ولې د ولس سترګو ته خاورې شيندئ؟

ولې په لوی لاس کړې سوله زيانمنوئ؟

پای

د يوې تلپاتې سولې په هيله!



زه ولې طالب شوم؟

که اشغال نه وای زه به مسلکي انجنیر او ډاکتر وم

زه هم ځوان وم ما هم هیلې درلودلې !!!

■ لیکوال :شهاب لیوال

جهاد الهي فریضه ده !

په هر مومن او مسلمان فرض کړای شوی!

مخصوصاً په هغه ولس چې، مستقیماً د کفري ځواکونو لخوا حریت آزادۍ او عزت یې یرغمل شوی وي.

ستاسو په آند ! آیا افغانستان اشغال نه دی ! ؟

آیا دلته زمونږ د مظلومو هیوادوالو عزتونه لوټ شوی ندي؟

آیا دلته کفري نظام حاکم نه دی؟

زما په نظر ستاسو ځواب هو دی!

افغانستان څلور لسیزې په تحمیلي جګړو کې ښکیل پاتې شوی، سیاسي مغرضو څېرو د افغان اولس له غیرت او همت نه ناولې ګټه پورته کړې او د جګړې لمن یې غځولې ده .

د نړۍ هر زبرځواک قدرت د دې په لټه کې دی چې زمونږ ستراتیژیک هیواد خپل شومو او استعماري موخو لپاره خپل دایمي اډه وګرځوي، روسانو کوښښ وکړ خو د افغان ولس تند غبرګون سره مخ شول چې، پایله یې د روسي او متحده جماهرو په ماته تمامه شوه.

سیاسي احزابو یاده پرتمینه بریا په سین لاهو کړه او خپل منځي جګړه یې شروع کړه.

د قدرت او مادیاتو په دې خونړۍ جګړه کې، زما دردیلی ولس شهید ، زخمي مهاجر او در په دره شو.

طالب د افغان اولس د نجات فرښته !

کله چې جهادي احزاب له خپل سپیڅلي مسیره بې لارې شول د مدرسې طالب چې په ملا محمد عمر۔ مجاهد (رحمه الله) مشهور دی لاس په کار شو له کندهار یې یون شروع کړ او د احزابو شومې لومې یې ورټولې او په لنډ وخت کې یې کابل هم فتح کړ، اسلامي نظام حاکم شوو، هغه نظام چې یو میلیون افغان ځوانانو ورته وینه تویه کړې وه.

له جهاده منحرفه ډلې او څېرې غلې پاتې نشوې، له اسلامي امارت نه د غچ او کسات په لټه د اروپا تر پارلمانونو یې سفرونه وکړل، د افغانستان د اشغال او اسلامي نظام د له منځه وړلو لپاره یې د امریکا د وخت حاکم جورج بوش نه د مرستې غوښته وکړه.

امریکا طالب ځواکونو ته ډیر په غوصه وه، هغه زکه چې طالبانو یې سل کلن پلان هغه پلان چې د افغانستان اشغال او له دې ځایه د منځنۍ آسیا باندې دایمي تسلط وه

په سین لاهو کړی و، کله چې د احزابو لخوا یاد وړاندیز ورته وشو امریکایان لاس په کار شول او زمونږ هیواد یې اشغال زمونږ د ولس وینې، عزتونه ،مال او آزادۍ ترننه لوټ او تالان کړه .

زه(شهاب لیوال) ولې د کابل له چاپیریاله د عصري علومو له ماحوله د ژوندونو له خونده غرونو ته راپورته شوم.

ما نه مدرسه ویلې وه او نه طالب وم نه له هیواده بهر وتلی وم، زما جهاد او د طالب کیدو لامل څه و !

کابل کې د نادرېي مشهوره ښونځي نه فارغ شوم په کانکور آزموینه کې دري ادبیاتو ته بریالی شوم، خو لکه څنګه چې په هغه وخت کې زما ورونو شخصي ساخت ساز شرکت درلود له مامشر وروړمې چې اوس هم زمونږ د جهادي چارو مسئول دی(انجنیر خالد غوربندي حفظه الله) تشویق یې کړم چې په شخصي پوهنتون کې د انجنیرۍ په څانګه کې نوم لیکنه وکړم.

کاردان شخصي پوهنتون د کابل کارت پروان سیمه کې خپل فعالیت برمخ وړي ما هم په همدې پوهنتون کې انجنیري شروع کړه.

دوه کاله مې درسونه ویلي وه چې زمونږ پر کور چاپه راغله زما ورورنه د امریکایانو لخوا ونیول شول.

له یو کلن بند وروسته بیا آزاد شول، خو امریکا او لاسپوڅو یې یووار بیا زمونږ پر کور چاپه ووهله دا وار یې زما مور په لغتو ووهله زما د خور له سره یې لوپټه لیرې کړه.

بیا یې زما ورونه له څانه سره یوړل څلور میاشتې تري تم ول .

کله چې ریاست نود ته ملاقتي ورغلم خپل ورور مې ونه پیژنده، ما ورته حیران کتل چې غبر یې راباندې وکړ ورور مې خبرې کولې او ما ژړل اوښکې نه دریدلې، پوهیږې ولې زکه چې زما ورور یې دومره شکنجه کړی وه چې څهره یې بدله شوې وه.

د بیرته راستنیدو په وخت کې انجنیر خالد راته وویل وایي لیواله که راخلاص نشوو کلي ته لاړ شه او د اسلامي امارت له قهرمانو اتلانو سره یوځای شه.

زمونږ د خور او مور غیږ به هرو مرو اخلې!

د کابل له رنګینیو د پروان تر غرونو !

زه هم راغلم له طالبانو سره یوځای شوم الحمدلله ثم الحمدلله چې نن مجاهد یم پوره دولس کاله مې اسلامي امارت ته خدمت کړی او ویاړم چې د داسې نظام غړی یم.

نوی ځوان شوی وم او روزګار مو هم الحمدلله ډیر ښه وه تر څلویښتو زیاد کارګر، موټر او کاربار مو وه.

خو اشغال مې د ځوانۍ په هیلو خاورې وشیندلې !

که اشغال نه وای زه به مسلکي انجنیر او ډاګتر وم د انګلسي ژبې ښونکی وم خو نن مې هرڅه هیر دي.

مونږ د تعلیم خلاف نه یو بلکه هغه تعلیم چې اسلامي او دیني احساسات وژني نه یې منو.

د پرون شازدګی نن په غرونو کې ډبرې ماتوم او خپل روزګار کومه کله کله داسې هم راشي چې میاشتو میاشتو لپاره پیسې نلرم کور کې اولاد مې مریض شي دوا ته یې حیران شم.

زه هم ځوان وم ما هم هیلې درلودلې!

خو اشغال هرڅه رانه واخیستل .

ما له خپل رب متعال سره تعهد کړی ترهغه به جهاد ته دوام ورکوم ترڅو چې اسلامي نظام نوي حاکم شوی.

چې بیا مې افغان بچی له تحصیل، تعلیم او د ځوانۍ له هیلو محرومه نشي .

زه هم ځوان وم ما هم هیلې درلودلې.



احمد مختار

د بندیانو پروسه باید تکمیل شي!

د اسلامي امارت او طالبانو ترمنځ د سولې تړون له لاسلیکولو څخه تر څه کم پنځو میاشتو تیریدو وروسته هم لا د یاد تړون لومړنۍ ماده د امریکایي جانب د ناغیړي له وجې ځنډیدلې پاتې ده.

د جانبینو ترمنځ د سولې تړون په مندرجاتو کې یوه مهمه ماده پر امریکایي جانب د ۵۰۰۰ هغو طالب بندیانو خلاصول و چې په تیرو ۱۸ کلونو کې د امریکایي ځواکونو لخوا د عملیاتو او شپنیو بریدونو په ترځ کې نیول شوي دي.

که څه هم چې د کابل رژیم خپل ټول توان په کار واچاو چې د سولې تړون د ناکامي په غرض د بندیانو د خلاصون پروسه شنډه کړي.

مګر امریکایانو له اسلامي امارت سره د خپلې کړې ژمنې له مخې رژیم مجبور کړ چې په متعددو جوپو کې (۴۵۰۰) بندیان له قیده خوشي کړي.

د اسلامي امارت اړوند د (۵۰۰۰) بندیانو آزادول د سولې تړون د عملي کیدو یو تر ټولو بنسټیزګام دی.

ځکه د یاد تړون ټول مندرجات د یوه ځنځیر د حلقاتو حیثیت لري، د ځنځیر که یوه حلقه هم له بلې شکیدلې وي نو د ټول ځنځیر افادیت په نشت حساب وي.

د (۵۰۰۰) بندیانو خلاصون بین الافغاني مذاکراتو ته د ور داخلیدو لومړنۍ دروازه ده او تر څو چې هغه خلاصه نه شي د بین الافغاني مذاکراتو پیل ناشونی دی.

د بین الافغاني مذاکراتو نه پیلیدل په مجموع کې د ټول تړون موثریت تر پوښتنې لاندې راولي او ولس ورباندې بې باوره کوي.

لهذا اسلامي امارت پر دې خبره جدي ټینګار لري چې په هرشکل وي باید د (۵۰۰۰) طالب بندیانو پروسه ژر تر ژره نهایي او بین الافغاني مذاکراتو ته لار پرانیستل شي.

اوس پوښتنه دا ده چې د بندیانو د خلاصون په پروسه کې امریکایي جانب ولي ناغیړي کوي؟

دا خو ښکاره خبره ده چې امریکایان د کابل رژیم تر صلاحیت لاندې ساحه کې څه وغواړي هغه تر سره کولای شي.

تر دې واندې هم د ځینو لوړ پوړو طالب بندیانو د خلاصون په اړه رژیم ډیر ټینګ مخالفت درلود، خو داچې امریکایان د هغوی د خلاصون په اړه جدي وو ، هماغه بندیان د رژیم له مخالفت سره سره خلاص شول.

په اوسنۍ مرحله کې هم که واقعا امریکایان د سولې تړون ته ژمن وي باید په دې اړه هم پر کابل رژیم له خپل نفوذ او بالادستي څخه کار واخلي او هغوی مجبور کړي چې پاتي طالب بندیان هم ژر تر ژره آزاد کړي تر څو د سولې تړون بعدي مراحلو ته لاره پرانیستل شي.

د حسن خان کړنه د ډېرو د درد کړیکه ده!

صارم

په رسنیوکې د بغلان ولایت دیو قومي مشر یوه ویدیوښکته پورته کیږي، ډېر یې ستایي او ځینې بیا نیوکه پرې کوي، هغه چې داعتراض په ډول په یوه غونډه کې د وینا پرمهال خپله لنګۍ پرځمکه ولي او دتن جامې وباسي وایي : نور دلته په دې هیواد کې مسلمان، افغان، باعزته او عام ولسي شخص ته هیڅ عزت پاته نه دی، نو له زغمه یې ووته،" تنګ آمد به جنګ آمد" دیمکراسي، دبیان ازادي! مساوات! ... هرڅه یې ورسره ومنل، خو چې پوه شو نتیجه غصب، وژنې، دحقوقو تلف، داقلیتونو راپارول او تعصب ته لمن وهل دي، نو یې په لویه غونډه کې دتن جامې ووېستې اوخپله لنګۍ یې په ځمکه وویشته ګواکې دعزت نور څه راپاته نه دي او جامې مو وتې دي . دا د داسې چاکړنه اوعمل نه دی چې دحکومت مخالف اوله حکومته دباندې سړی وي یایې برخه کمه او څه مادي غوښتنه کوي، بلکې په اداره کې دننه ښه وسي او تر وکالته رسیدلی سړی دی، خو دحکومت دبې کفایتۍ او په حکومت کې دننه غدر، خیانت، ظلم، رشوت اونه انصاف مجبور کړ چې دخپل زړه براس وباسي اوهرڅه په جار سره ووایي په نظام کې دننه دیمکراسي او دبیان آزادي! ورته همدومره لاره پرې ایښې وه چې په دې ډول خپل ډډی تش کړي .

دحسن خان داکړنه به په بېلابېلو اړخونو ارزول کیږي، خو یو څه چې ډېر په واضح ډول ترې ښکاره کیږي داچې اوس په نظام کې د داسې خلکو سلنه زیاته شوې اودحسن خان داکړنه د ډېرو د درد کړیکه ده،دومره ده چې ده خپل حال دخلکو په مخ کې برالا ووایه او هغوی به یادومره وس نه لري او یابه د موقع په انتظار وي، مونږ وینو چې دې نظام ته ډېر وفاداره اوس ډېر ګیله من دي اوپه حقیقت کې ډېر ورته پاخه هم دي چې په راپرځولو کې به یې له مخالفینو سره له هیڅ راز همکارۍ نه ډډه هم ونه کړي، دوی ټول اوس په یوه خوله دي او وایي چې له مونږ ټولو جامې وتې دخپلواکۍ او افغانیت هیڅ راز عزت او عفت راپاته نه دی، او په بېلابېلو مواقعو او خواله رسنیوکې د زړه غوټې پرانیزي .

شاید د دې خلکو په باب وویل شي چې دوی په قدرت کې وو، نو داهیڅ نه وو او اوس چې له قدرته لرې شوي اویاپرې د ډالرو اوربښت کم شوی، نو ځکه دغه ډول کړنو ته لاس اچوي او بد تبلیغات کوي، مونږ وایو همدا دغوټې سر دی او زمونږ اوستاسو داختلاف او نه جوړښت عمده لامل همدا ټکی دی چې زمونږ کړنه دعقیدې او فکر له مخې ده او ستاسو ټول حساب، هڅې،کاري زیار، جګړه او هرڅه پرمادیاتو او پردي فکر بنا دي، مونږ وایو زمونږ د سعادت او بري لار اسلام او اسلامي اساسات دي، خو تاسو پرته له دې چې مخکې او وروسته ابعاد یې ځان ته معلوم کړئ د دیمکراسۍ په پردي فکر پسې روان یاست، په داسې حال کې چې زمونږ ټولنه او چاپیریال هیڅکله ورته جوړ نه دي اوپه دې خاوره د اسلام لپاره دومره وینې بهیدلې چې څو نسلونه به یې داحسان پوروړي وي .

حسن خان او دحسن خان د فکر لارویوته په کار ده چې تور او سپین سره جلا کړي دلته دحق او باطل لارې معلومې دي، نور دې په دیمکراسۍ نه غولیږي او لکه څنګه چې د دې غولوونکو شعارونو نتیجه اوپای ورته روښانه شول، په واضح او پوره جرئت سره دې عمل وکړي او هغه طرف دې ونیسي چې مدعا یې اسلام او اسلامي نظام پلې کول دي .

د انګریز قومندان وروستۍ خبره

انګریز قومندان مارټ راډنر د وروستي ځل لپاره خپل بیرغ له باستهن کمپ نه را ښکته کړ، څو يې بېرته خپل وطن ته يوسي.

هو چرت به يې وهلی وي که موږ انګريزان بدل شوي نه یو او خپلو نیکونو پڅېر مو یوځل بیا د افغانانو په کور يرغل ور وړ نو افغانان هم بدل شوي ندي او هماغه د نیکونو په رسم يې خپل وطن په نره له موږ وګټه.

حتما به يې ویلي وو چې پخوا هم یو څه افغانان؟! زموږ نیکونو څنګ ته ودرېدل او په کاذب ملاتړ يې دوکه شول نو زموږ څنګ ته هم ځیني ودرېدل او په دغه تش ځګ موږ هم خطاوتو او خپلو نیکونو پڅېر مات لښکرې مخ په بریټانیا روان یو.

د بیرغ کوزولو پر مهال به يې ذهن کې هغه ورځې لکه د فلم ترخې صحنې مجسم شوې وي چې دوې څرنګ نولس کاله وړاندې دغه کمپ کی په خندا او خوښۍ د ملیارد ډالرو او پونډو پر مټ تاسیسات جوړول. دوی فکر کاوه چې پخوا مو نیکونه افغانانو مات کړل نو دواړو تقريبا ورته وسلې او امکانات په لږ توپیر درلودې او اوس خو افغانان په هیڅ برابر دي نو کم له کمه یوه پیړۍ، څو نسلونه به د میوندي زمرو پر هديرو د انګلینډ پوځي بیرغ رپانده وي.

خو خبره سر چپه شوه. تېرو شلو کالو کې دا زمکه په پردیو لښکرو داسې سور تنور شوه چې د تېښتې پېل کاناډايي عسکرو وکړ، پسې هالنډ، استرالیا، جرمن او نورو یو په یو ماتې خوړلې لښکرې مات سرونه له افغانستان نه وتې او اوس ورځ راغله چې انګریز او امریکا هم یو په یو خپلې بار بسترې را غونډوي.

یویشتمې پېړۍ کې د افغانانو سرښندونکې مبارزې یو درس بهرنیانو ته دا وو چې افغانان به وسلې او اوچت اقتصاد نلري خو دا وړتیا هر وخت لري چې په وسلو او پیسو سمبال د نړۍ هر وسله وال پوځ نه خپله خاوره وګټي.

بل درس خپلو داخلي افغانانو ته دی. لکه څرنګ چې پخوا د انګریز او روس افغان ملاتړي تاریخ ته کوز ګوري دي نو داسې يې اوسني ملګري هم له مور افغانستان سره خیانت په تور کور ګوري دي.

دا درس باید هر افغان واخلي چې سبا په هیڅ صورت او تر هیڅ عنوان لاندې له هیڅ بهرني سره د خپلو افغانانو خلاف ایتلاف ونکړي.

افغانانو خپلو منځو کې پخوا هم اختلاف درلود او راتلونکي کی به يې هم لري او دا د بشر خاصیت دی، خو هیڅوک حق نلري چې کله پردی لښکرې راشي نو دوی د عقدې او حسد له وجې پردو لښکرو سره اوږه په

اوږه په خپل ښار او کليو کې د خپل افغان په سر او مال تالا ګډه کړي.

د شهادت په ګوته څنګه د باطل خبره وليکم؟

کله چې عمر مختار رحمه الله د ايټالويانو له خوا څخه اسير شو؛ قاضی ته يی په محکمه کې د ٢٠ کلن جهاد، او د ايټالويانو پر ضد يی د ټولو هغو سلګونو بريدونو دفاع وکړه چی د ايټالويانو پر ضد يی ترسره کړی وو؛ او په ترخ کښی په زرګونو ايټالوی عسکر وژل شوی وو.

او په ډير فخر يی په خپل ځان ومنل؛ قاضی ورته وويل: ته خپه نه يې چې اعدام کيږې؟ او ژوند دې ختميږی؟ عمر ورته وويل: ما همداسی غوښتل چی ژوند می د فخر په مرګ تمام شی

؛ قاضی بيا ورته وويل: خوشي به دې کړو، خو ته هغو خپلو مجاهدينو ته چې اوس هم زمونږ پر ضد جګړه کوي؛ خط وليکه! چې نور د ايټالويانو په ضد جګړه ودره وی؛ عمر ورته وويل:

زه څنګه په هغې ګوتي چی پنځه وخت لمانځه کښی په کلمه داشهد ان لااله الا الله وان محمدا عبده ورسوله ګواهی ورکړی؛ باطل او حرام وليکم؛ نو هماغه وو چی اعدام يی کړ.

تقبله الله وجعل الجنة الفردوس مثواه! ...

أحقر: عبد القوي



طالب دفکر نوم ده !!

مصلح افغان

طالب د اشخاصو او افرادو نوم نه بلکې د يو فکر او عقيدې نوم ده. اشخاص او افراد په وژلو ختمېدلی شي.خو فکر او عقيده هېڅکله هم نه شي ختمېدلی. د طالب دښمنان دې طالب ته د ښکنځلو په ځای حقيقت درک کړي. او د طالب د ختمولو خوبونه دې نهويني. دغه فکر او عقيدې نولس کاله د الله تعالی په مرسته د نړۍ له سترو طاقتونو سره په خالي لاس ډغرې ووهلې. هغوی يې له ختمولو عاجز شول. يو وخت به د دې فکر پلويان يواځې طالبان، او ملايان، ووو. خو اوس مونږ ګورو چې د هر مسلک با احساسه افغانان د دې فکر او عقيدې په دفاع کې د باطل په وړاندې د مبارزې سپېڅلي ډګر ته راوتلي. دوی پخپله مبارزه دا ثابته کړه چې دغه فکر او عقيده د ملت تر يو ځانګړي قشر پورې محدوده نه ده.
بلکې د هر فن او مسلک هغه باحساسه ځوانان چې اسلام، هېواد او ملت ته صادقانه خدمت خپل مکلفيت بولي. د دې فکر لارويان دي. او په شريکه به دغه مبارزه په مخ بيايي.





د دعا لپې

م منصور درمان

درتــه نېــولي مــو دعـــذر او ژړا لپـــې
اللـــه! راډکـــې کــړه لــهٔ عفــوې او رضــا لپــې

يــوه مثمــره نتيجــه پــرې مرتبــه کانــدې!
درتــه ډالــۍ کړلــې غازيــانوو دغــزا لپــې


تانـدې سـلګۍ او تـودې اوښـکې بدرګـه ورسره
خــالي مــو مکــرې د تــوبې او د دعــا لپــې

درحمـت تـرې، لـهٔ عذابـه پـهٔ لـړزه رپېـږي
تاتــه کچکــول دي بــين الخــوف والرجــا لپــې

غـواړي چې وڅيښـي يـو جـام دمغفـرت لـهٔ نـوره
درتـــه ولاړې تـــور مخونـــه دګنـــاه لپـــې

دګنـاهونو لـهٔ پنـډونو نـه پـهٔ مـلاؤو خـم يـوو
راکـړې توفيـق چې کـړو نـور ډکې لـهٔ تقوی لپې

څيـرې ګرېـوان لکـه ملنـګ، غـواړي قلنـګ الهـي!
منصـور درمـان دي غځـولي يـو ځـل بيـا لپـې



مــن از روئيــدن خــار بــر سر ديــوار دانســتم
کـه نـاکس کـس نمـی گـردد از ایـن بـالا نشینی هـا

مــن از افتــادن سوســن بــه روی خــاک دانســتم
که کس ،ناکس نمی گردد از این افتـان و خیـزان هـا

آهـن و فـولاد هـر دو از یـک کـوره مـی آینـد بـرون
آن یـک شمشـیر بـران وان دگـر نعـل خـر اسـت .

شسـت و شـاهد هـر دو دعـوی بزرگـی مـی کننـد
پـس چـرا انگشـت کوچـک لایـق انگشـتر اسـت .

کــره اســب از نجابــت در تعاقــب مــی رود
کــره خــر از خریــت پیشــاپیش مــادر اســت .

کاکــل از بــالا نشــینی رتبــه ای پیــدا نکــرد
زلـف از افتـادگی همسـان مشـک و عنبر اسـت .

نـا کسـی گـر از کسـی بـالا نشـیند عیـب نیسـت
روی دریـا خـس نشـیند قعـر دریـا گـوهر اسـت .

دود گــر بــالا رود کسرــ شــان شــعله نیســت
جـای چشـم ابـرو نگیـرد گرچـه او بـالاتر اسـت

مــن از روییــدن خــار بــر سر دیــوار فهمیــدم
کـه نـا کـس!کـس نمیگـردد از ایـن بـالا نشـینی هـا

(صائب تبریزی)

غزل

د هیواد غېرته به د امن سپینې وراوي راځي
چې د یتیم په خوله ورېږي، ورېږي دعاوي راځي

دلته به ماتې شي او پرې به یاغي مرۍ شي
که په مادي طاقت سپرې، وحشي بلاوي راځي

هر ځل پرا او د انقلاب لومړی خواری زېږوي
او ورپسې د ازادۍ شال کې بریاوي راځي

د شپو څادر به شي رانجهٔ د سباؤن د سترګو
د هر قدم په بدرګه به یې رڼاوي راځي

نفرت به مړ وي او هو مینه به پېغلوټې ښکاري
د بدرنګۍ ځاله به رنګه وي، ښکلاوي راځي

د سپرلي وږم به ګلونه په ځوانۍ راولي
او په نڅا به ورسره مستي هواوي راځي

د چا له سترګو شفاعته! دروند ازار راپسې
په ژوندانهٔ چې راته سر په سر سزاوي راځي

مباش

ای دل مرو سوی خطر گر میروی لرزان مباش
از رهزنان غافل مشو از دشمنان ترسان مباش

چون باکسی همراه شدی ازنیمه راه برنگرد
چون ازپی مردان روی دیگر زنامردان مباش

دشمن اگرجانب دهد بااو دم یاری مزن
در دوستی گرجان دهی از دوست روی گردان مباش

همدست ماگر شوی پای کسی دیگرنگیر
بادوست چون پیمان کنی باغیرهم پیمان مباش

قانون به کیش عاشقان درفکرخود بودن خطاست
یا از سروجان درگذر یاعاشق جانان مباش

#شعر/ نِجات أفغان

زه دې قلم په ژبه درد راټولوم ده ملت
زخم پرهر یی هر بچي ته ښکاروم ده ملت

سوي آهونه او وړې سلګۍ یې هم ده ارمان
ده ارمان غږ یې تر هر چا نن درسوم ده ملت

که یې زخمونو ته ملحم جوړیدی نشمه زه
د سر په بیه مې یو څو زخمه ګنډم ده ملت

یا په ټوپک یا په قلم او یا په توره باندې
د عبرت درس هر یو دښمن ته ورکوم د ملت

ده امن سپین بیرغ به بیاپه لوړو غرونوباندې
هم په درو په لوړو څوکو رپوم ده ملت

تور تم تیارې او تورو شپو زرین لمر به راځي
دغه بدرنګ حالات به نور زه بدلوم د ملت

ځان به قربان کړم ترې(نِجات افغان)وعده درکوم
خو هر یو ټپ ته به پټۍ زه جوړوم ده ملت

د عزم خاوندان

#حسان_ضعیف

د عزم خاوندان په زولنو کله ماتیږي
محکمه عقیده یې په شکنجوکله ماتیږي
چې تږي وي د مینې زندګي ورته لیلا شي
هدف چې وي رضا په نفرتو کله ماتیږي
زندان پسې غمجن وي ځنځیرونه پسي ژاړي
د عشق قاصدان دي په دردو کله ماتیږي
محبس شي مدرسه ورته مرکز شي د علومو
د علم مشالونه په تیارو کله ماتیږي
قوت یې اخوت دی له عناده څخه پاک دي
ازاد خلک په منځ کې د پردو کله ماتیږي
خلیل غوندې لمبو ته په خندا خندا وردرومي
غلیمه ستا د مکر په لومو کله ماتیږي
حسان ضعیفه تل به بریالي وي هسکه غاړه
سرونه چې ټیټ نه شي په جنګو کله ماتیږي



د هیواد له نامتو جید عالم او لیکوال محترم

مولوي شمس الله کمالزاده

سره د څرک ځانګړې مرکه

مرکه کوونکی: م فرهاد

درنو لوستونکو! د هیواد له نومیالیو علماء کرامو او مشایخو سره د علمي، جهادي، ټولنیزو او شخصي مسایلو په اړه د مرکو په لړ کې مو دا ځل له وتلي لیکوال، علمي او جهادي شخصیت مولوي شمس الله کمال زاده صاحب سره مرکه کړې چې لوستلو ته یې تاسو رابولو.

جناب محترم کمالزاده صاحب! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

۱- پوښتنه: ستاسو شهرت، علمي مقام او جهادي ژوند سره ترډېره حده لوستونکي اشنا دي، خو بیا هم د مرکې د دود او دستور مطابق، که لطف وکړئ او د څرک مجلې لوستونکو ته ځان پخپله معرفي کړئ؛ مهرباني به مو وي.؟

کمال زاده صاحب: الحمد لأهله والصلاة على أهلها وبعد :

د فرهنګي کمېسیون درنو کارکوونکو او د «څرک» مجلې محترم چلونکی او لیکوالو ورونړو!

ستاسو له پیرزوینې ډېره مننه کوم چې له ما څخه مو د لویو خلکو په کتارکې د مرکې غوښتنه کړي، که څه هم زه خو ځان هغومره وړ او لوړ نه وینم، دغه ستاسو نیک ګومان دی.

الله تعالی مو دي ستاسو له حسن ظن سره سم کړي او تاسی ته دي له خپله درباره په دغه باور او پیرزوینه زیات اجرونه درکړي.

محترمو! زما مختصر تعارف په دې ډول دی: زه د غزنی ولایت اندړو ولسوالی د شلګر سیمي کنصف د کلي اوسیدونکی او لومړنی زدکړې مې د ملا مشک عالم په ابتدایي ښونځي کي ترسره کړې، وروسته په ۱۳۴۶ لمریز هجری کال کې د نورالمدارس فاروقیه مدرسې دریېم ټولګي ته شامل شوم.

۲- پوښتنه: د خپلو زده کړو په باب که لږ نوره رڼا هم واچوئ، یوازي دیني زدکړې مو کړې او که عصري هغه هم لرئ، او مروجه دودیز فنون مو چیرته لوستي، په ځانګړې توګه لوړي زده کړي (وړې او لویې دورې) مو چیرته او له کومو استادانو سره کړې؟

کمالزاده صاحب: لوړي زده کړي مي هلته په نور المدارس کې سرته رسولي دي، هلته وړه دوره تر دولسم ټولګي پوري او دري کاله بیا د کلیې دورې په نامه لویه دوره لوستل کیده چې ما له دوو ارتقایي ازموینو تیرولو وروسته په ۱۳۵۶ لمریز هجری کال په بریالیتوب سره

دواړه دورې سرته ورسولې او د فراغت سند مې ترلاسه کړ او په همدغه کال پسرلي کې مې د عسکري خدمت د امتحان او ازمويني دوره هم طې کړه او ترخيص مې واخيست.

هلته په نور المدارس کې د وخت نامتو، وتلې، اوځار او مهربانه استاذانو لکه د لاغرو اخندزاده صاحب، صدرالمدرسين سيدعبدالمنان د دوکوهی مولوی صاحب مولوي عبدالغفور د کندر مولوي صاحب مولوی عمرخان د سليمانزو حاجي صاحب د قبرغې اخند زاده صاحب د رستم ملا صاحب د ميانجو مولوی صاحب او د فنا خليفه صاحب رحمهم الله تعالی رحمة واسعة او نورو مبارکو برجسته علمای کرامو چې تر نامه يي خلک له هستوګنځې سره ډير آشناوو او د کُلی په نامه به پيژندل کيدو خلکو يي نوم اخيستل هم نامناسبه بلل دغسی سپين روبوعالمانو تدريسی چارې پرمخ وړلي هر يو يي دعلم ځپاند سمندر او د سپيڅلي عمل اوچت منار وو.

مرت سنون بالسعود وبالهناء
فكأنها من قصرها أيام
ثم انثنت أيام هجر بعدها
فكأنها من طولها أعوام
ثم انقضت تلك السنون وأهلها
فكأنها وكأنهم أحلام

د خوښۍ او نيکمرغۍ کلونه وو داسې تېر شول لکه له لنډوالي چې ورځې وي بيا د خواشينۍ او بيلتون شپې او ورځې راغبرګې شوي، ته به وايي له اوږدوالي کلونه دي بيا دا کلونه او خلک يي داسي تير او هير شول لکه چې د خيال خوبونه وو.

۳- پوښتنه: د خپل تدريسي او تأليفي بوختيا په هکله که معلومات راکړئ او دا راته ووایاست چې د يوه فارغ عالم لپاره تدريس او تأليف څومره اړين دی، او ستاسې له انده يو مدرس عالم بايد کومې ځانګړتياوي ولري؟ همدارنګه طالب العلمانو ته مو توصيه څه ده؟

کمالزاده صاحب: ما د زدکړي په وخت کې لا هم له مطبوعاتو سره يو څه قلمي همکاري لرله او په ظاهرشاهي دور کې مي د ندای حق جريدې په اداره کې د ژمي د رخصتۍ په وخت کې او بيا څه نوره موده هم خدمت وکړ هغه مهال په هيواد کې کمونستانو د دموکراسی په برکت فعاليتونه پيل کړی وو او ځينو دين دوستو مسلمانانو يي د مخنيوي هڅې کولي، ندای حق جريده هم د خدام الفرقان عالي جمعيت غږ وو چې د کمونستي افکارو سره يی مبارزه کوله، بله د ګهيځ جريده وه چې د وخت بې دينانو سره يي په فکري سنګر کې کلکه مقابله روانه وه، هلته د ندای حق په اداره کې زما محترمو استاذانو هر يو مرحوم مولوي عبدالستارصديقي او مرحوم محترم مولوي رحيم الله زرمتي صاحب چې لومړی د جريدې د امتياز خاوند او دوهم مسئول چلونکي وو؛ دوی په ډيره مهرباني زما لارښونه کوله او ما کله ناکله د خيبر، ګهيځ، اتحاد ملي او سنايي جريدو ته مقالې ور استولي، له فراغت څخه څو مياشتې وروسته د ثور کرغيړنه کودتا وشوه او زه هغه وخت د عمرې په سفر سعودي عربستان کې وم وروسته کويټ ته ولاړم او دا هغه وخت و چې د مجاهدينو ګرد تنظيمونه د حرکت اسلامي تر بيرغ لاندي راټول شوي وو ما يي هم ملګرتيا وکړه.

او چې تاسو پوښتنه کړي، د يو عالم لپاره تدريس او تأليف څومره اړين دي، زما په آند دغه له هغو دريو څيزونو څخه يو دي کوم چې وروسته له مړينې سړي ته په ښمر (ګټه) ورځي چې رسول الله فرمايي : (اذا مات الانسان انقطع عنه عمله الا من ثلاث: علم ينتفع به او....) دغه تلپاتي ګټه ده او لکه چې وايي : قدمات قوم وهم فی الناس أحياء .

دغه د سړي د نوم ژوندي پاتي کيدلو سبب هم ګرځي نو د فراغت څخه وروسته يواځي په امامت بسنه

کول په کار نه ده او د دین د خدمت لپاره د تدریس تألیف او تبلیغ رسالت ته اوږه ورکول ضروري دي .

او د طالب العلمانو لپاره ښه توصیه داګڼم چې خپل وخت بیځایه ضائع نه کړي او د ژوند له هرې شیبې څخه ګټه پورته کړي هغه کتابونه ډیر ولولي چې د وخت ارزښت یې ښودلی، بیا به نو خپل وخت په فیس بوک، واتساپ، مسینجر او... نه وژني، له عبدالله بن مسعود رضی الله عنه څخه روایت شوی، هغه وایي، زه په هیڅ شي دومره پښیمانه شوی نه یم لکه په دې چې ورځ مي تیره شي خو په عمل کې مي زیاتوالی نه وي راغلي .

۴- پوښتنه: ګاونډي هیواد پاکستان ته مو په کوم کال هجرت وکړ او چیرته مو استوګنه غوره کړه او د هجرت له دیار څخه مو څنګه خپل علمي، فرهنګي او جهادي سفر پیل کړ؟ تنظیمي اړیکي، او بیا له امارت سره مو ملګرتیا کله وشوه؟

کمالزاده صاحب: په ۱۹۸۰ میلادي کال کې پاکستان ته را مهاجرشوم لکه چې ومي ویل له حرکت انقلاب اسلامي سره مي د وفاداری عهد وو په لومړي پیل کې مي ورکوټی کتاب (د مجاهد لوړه) چاپ شوه په حرکت کې مي په مختلفو عهدو خدمت کاوو.

په جنوب غرب حوزه کې کله د سیاسی دفتر او کله د فرهنګي غړیتوب یا مشرتوب را په غاړه وو او چې کله حرکت وویشل شو، زه د محترم شهید مولوی نصرالله منصورصاحب له ملګرو څخه وم .

نیمه خوا ژوند هلته نور بی خونده شو چې هیلي مو په ناهیلۍ واوښتي او د اسلامي انقلاب له بري سره جوخت هیواد ته ګردېښي راغله هره ترخه یو باچا پیدا شو او بیا څه وخت وروسته د طالبانو اسلامی تحریک را وټوکیدو موږ هم په هجرت کې په یوه لیسه کې د تدریس دنده لرله او بیا مو د څو نورو ملګرو سره، لکه محترم مولوي جان محمد مدني، مرحوم مولوی محمد افغانی او مولوي محمد کریم مسعود او... سره یو ځای له امارت څخه ملاتړ وکړ او د مولوي مدنی صاحب په ابتکار او مشرتوب مو د البدر د جریدی د خپرولو تاداو کېښود وروسته مو د (الطالب) میاشتنی مجلې شل ګڼې خپرې کړي او بیا زه په ۱۴۱۸ هجری قمری کې د سعودي عربستان له خوا د افغانستان په ونډه کي د حج د مراسمو پوښښ لپاره د هغوی د (وزارت اعلام) مېلمه شوم او د عرفات له سپیڅلي غونډۍ نه مې خپل پیغام دګران هیواد افغانستان په نمایندګي په دریو ژبو: عربی، پښتو او دري باندې عالم اسلام ته ورساوو، بیا څه موده وروسته ما او مدنی صاحب ته په عربي متحده اماراتو کې د دیپلوماسی دنده راکول شوه او له محترم ورور حافظ عزیز الرحمن صاحب سره یو ځای موهغه هم د الله په مرسته په بریالیتوب سر ته ورسوله. څو چې پرهیواد امریکایي یرغل وشو او موږ ټول په ډیرو کړاوونو واوښتو په دغه موده کې ما د ځینو کتابونو ژباړل غوره وبلل او (الایمان والزنزانة المتجولة) چې ما یي نوم ایمان او ګرځنده ځیلخانه غوره کړ؛ وژباړل دغه کېسه د حضرت کعب ابن مالک رضی الله عنه هغه د تبوک له غزا څخه د ده وروسته پاتي کېدل بیانوي چي بیا وروسته هغه پخپله او د ده نور یاران او ملګري هر یو (هلا ل بن امیة رضی الله عنه) او (مرارة بن ربیع رضی الله عنه) په داسي ګرځنده ځېلخانه کي بندیان شول چي تاریخ یې هډو مثال نه دی خوندي کړی او دوی بیا په شپو، شپو د پښیمانۍ اوښکې واورولې، ځکه نو زه ورته کله د پښېمانۍ اوښکي هم وایم او مؤلف ورباندې ایمان او ګرځنده ځېلخانه نوم ایښی دی .

هو هغوی په دغه تیاکلي پنځوس ورځو کي په داسي اخلاقي مدرسه کي وروزل شول چي نور یې د پاتي ژوند په اوږدو کي له ګناهونو څخه وژغورل ... هغوی خپل مالونه او شته چي د دوی د پاتي کېدلو لامل و؛ د الله جل جلاله په لارکي ځار کړل او لکه څرنګه چي دوی په

ربښتيا ويلو نجات مونډلی وو نو تل ترتله به يې ربښتيا ويل.

بيا مي (دشيخ پندونه) هغه کېسه چې د يساربن صادق بغدادي وه او هغه داسي ستانه سړی ؤ چې پخپل نفس او هوا يې بری مونډلی ؤ.

هغه په پرهيزګاري مشهور او د الله جل جلاله په طاعت کښي را لوي شوی ؤ او د ده همزولو به ورته راهب وايو. چاوچا بيا ورته د مسجد کوتره نوم ورکړي ؤ، خودهغوی په ژوندکښي يوځل داسي بدلون راغي چې ټول ساري اوملګري"همزولي" يي هک پک حيران کړل. هغه داخروي ژوند څخه دنياوي ژوندغوره کړ،له ګټوري سوداګري اوتجارت څخه يي زيانمن تجارت پيل کړ، دسپين روبوپوهانو او بزرګانو لاره يي دچورلنډو فساقو په کوڅه بدله کړه ...

سبحان الله ثم سبحان الله، څرنګه د خلکوطبيعتونه اوړي را اړوي او بيا څنګه د ايمان ډيوه د چا او چا په سينه کښي مړ ژواندي کيږي. محمد بن اسحاق وايي زمادي قسم وي چې هغه لا تنکی ځوان وو خو دپخوانيوپوهانو کتابونه يي لوستي او دعلم او دين څخه يي بشپړه برخه ترلاسه کړي وه. هغه دحسن بصري اومالک بن دينار،طاووس اوحبيب عجمي رحمة الله عليهم په پله پل ايښي ؤ اودابو حامدغزالي کتابونه يي لوستي ووهغه به ويل څوک چه احياء (داحياء العلوم کتاب چي امام غزالي ليکلی دی) ونه وايي له احياؤ څخه نه ګڼل کيږي .

دهغه يوملګري به ويل: يسار به په ورستنيوکښي دومره پرهيزګاره وي لکه چه عبدالرحمن قس په لومړنيو پيړيوکي تير شوي دی. هغه پټ خولی او لږغږيدونکي ؤچه خبري به يي کولي ډيري ورو او په کرارسره غږيدو خو خبرويي زړونو ته لاره مونډله .دده په خبروکښي خونداوپوستوالي ؤ داسي ځانګړي سحري ښه يي درلوده چي اوريدونکي يي په منلو پړؤ ،په دي به نه پوهيدو چي

دخبرومين اوکه دخبري کوونکي ليوال دی دا کيسه ديسار غوندي پاک زړي سپيڅلي انسان ده چې يوځل يي پښه وښوئيده خوبيا دشيخ پندونو بيرته په لارکړ ډيره په زړه پوري ده .

او وروسته (ممو زين) هغه د سپيڅلي مينې کيسه چې؛ په ځمکه کښې زرغونه او په آسمان کښې پخه شوه. له عبرته ډکه کيسه چې زموږ د يو محترم مشر مرحوم مولوی اعظم ګل صاحب ډيره خوښه شوي وه بيا د(توبې ځلي) هغه حديث شريف چې دپخوانيو امتونو ديوتن کيسه کوي چي يوڅوک نه نوي (۹۹) تنه وژلی بيا سلم تن هم ديو زاهد په وژلو پوره کړي او وروسته الله تعالی ورته دتوبې توفيق ورکوی او ښښل کيږی ددې حديث شريف په اتکاء ديوې کېسې سيناريو چې داوود سليمان العبيدی ليکلی او ډيره په زړه پوري ده وژباړله بيا مي د(رسالة العلماء) تر عنوان لاندی دځينو علماوو کارنامي له عربي منابعو راټولي کړي او پرله پسی به په(الصمود) مجله کې خپريدلي بيامو دنورو ملګرو لکه محترم مولوي شهيدخيل محترم مولوي مدني محترم مولوی فريدمحمود او اروابناد محترم انجنير عبد الله ګل ريان سره په ګډه د کليوالی مدرسو دري کلن نصاب تدوين کړ چې دوه دری کاله کيږی په غټ تيراژ چاپ او توزيع کيږي او خلکوته ښه منلی دي او وروسته ما د(صفوة التفاسير) ژباړه وکړه چې دغه ليکنی ټولي د الله حمد دی تر لوستونکو ورسيدي .

د (صفوة التفاسير) ترجمې ته مي له ډيرو ستونزو سره سره اوږه ورکړه شپې اوورځي څه چې کلونه کلونه مي د هغې په ليکلو تصحيح اوسمولو کی تير کړل چا وچا چې به يی دبشپړيدلو راڅخه پوښتل ما به په ځواب کی ورته ويل چې ژوند خوهسی هم تيريږي ښه داده چی ډيره برخه يی په داسی نيک کار کی لکه دتفسير ژباړل ولګول شی .

ماپخوا هم دسپين روبو پوهانو لسګونې ليکنې اوګڼ شميرکتابونه ژباړلې وو اودا ځل مي دغه ستر کارته

دالله جل جلاله په مرسته ملا وتړله تر څوکه الله تـه ومنـل شو اوزما لپاره يي دآخرت توښه کړ، شـيخ الهنـد محمـود الحسن رحمه الله ليکي چي شاه عبد القادر رحمه الله کلـه چي دقرآنکريم ترجمه موضح القر آن ليکله نو دغه فارسـي بيت به يي په لږ تغييرکولو سره داسي وايو :

روز محشر هرکسي باخو يش دارد نامهء

من نيز حاضر ميشوم تفسير قرآن دربغل!

او زما هم دغه توقع ده چي الله جل جلاله مي دقرآن کريم له خدمت کونکو وګڼي الله جـل جلالـه ډيـر مهربانـه دی زه يي په خپلو ډيرو هيلو کی بريالی کـړی يـم ، مـاچی نسبتا يوڅه ښکلی ليک ليکلای شو زياته مينه مـی درلـوده چي قرآن کريم پخپل لاس اوقلم وليکم خو چی دکمپيـوتر دور را دبره شـو دلاس ليکـل يـی تـر خپلـو وړانګـو لانـدی کړل خو زه ددې تفسير د ژباړلو پـه تـرڅ کـی هغـې هيلـی ته هم ورسيدم او قرآن کريم می ټول ددې تفسير ليکلـو پـه وخت کی پـه لاس وليکـل مـا لـه بشـري تـوان سـره زيـار ايسـتلی چـې ښـه لـه خونـد اومعنـی ډکـه پيمانـه ژبـاړه دلوستونکو مخ ته کيـږدم چی لـه هـرډول غلطيـو خونـدي اوژغـورلی وي خـو دغـه دژونـد مقطـع دخواشـېنيو غمونـو اولالهانديو تـوره دوره وه کـه راڅخه کومـه کوتـاهي شـوي وي مه مې ملامتوئ .

په دغه موده کې مي په بلوچستان جامعة المعارف مدرسه کې د ادب او احاديثو ځيني کتابونـه هـم تدريسـول اوبيا دوه دري کاله دلـويی دورې څخـه السـنن لابـن ماجـة والسـنن للنسـائي او موطـاءان دتـدريس لپـاره راوسـپارل شول.

٥- پوښتنه: د طالـب العلمـانو لپـاره مـو د ليکـوالی، املاء، انشاء او غيـر درسـي مطـالعې پـه اړه سپارښـتني څـه دي؟ تاسو په نورو کومو ژبو ليک لوست او خبري کـولای شئ، همدارنګه د نورو ژبو زدکړه د شاګردانو لپاره څـومره مهمه ګڼئ؟

کمالزاده صاحب: طالبعلمانو ته مې سپارښـتنه داده چې د ليکوالې لپـاره ژوره مطالعـه وکـړي نـوی مونـدني لـه ځانه سره په ليکلي بڼه ياداشت کړي ځکه چې (العلم صيد والکتابة قيد) خپـل ليکلـي مضـمون څوځلـه مسـوده او بيـا پاک نويس وليکې هرځل پکې نوي ټکي زيات او کم کړي ادبـي ليکنـی او د بلاغـت کتابونـه ډيـر وګـوري د امـلاء او انشاء ښه کيدلو لپاره د مجلو او جريـدو ډيـر لوسـتل اړيـن دي، زه په دري ژبو او لغتونـو لکـه پښـتو فارسـی او عربـي بلد يم اردو لغت تر ډيره حده راته آسان دی اوشاګردانو ته د نورو ژبو زده کول ډير ضـروری بـولم ځکـه د دوي د زده کړولپاره د دوي د درسي کتابونو شروح پـه نـورو ژبـو کـي ډير پيدا کيـږي او د لوسـت پـه وخـت کـې ورسـره پريمانـه مرسته کوي .

٦- پوښتنه: د وروستی پوښتني پـه توګـه، د څـرک مجلې اداري او مجموعاً فرهنګي کميسون ته مو پيغام څـه دی، رسنيز خدمات يې څنګه ارزوئ، او د لا پرمختګ پـه اړه څه وړانديزونه ورته لرئ؟

کمالزاده صاحب: د فرهنګـی کميسـيون او د څـرک مجلې کارکونکو ملګـرو خدمتونـه بيشـکه د سـتايني وړ دي دوی په ملګرتيا کې هم رښتوني او خورا اخلاصمن دي مـا چې ورسره ملګرتيا کړي، واقعاً ځيني ممنون يم د نومـوړي کمېسـيون پـه بريـا دښـمن هـم باربـار اعتـراف کـړی او د امارت اسلامي دوه وتلي کميسيونونه چې يو يي نظـامي او بل فرهنګي دي؛ د امارت د بريالیتوب سببونه دي .

په پای کې ټولو هغو ورونوتـه چې پـه دې سرنوشـت جوړونکي مرحلـه کې پـه هـره برخـه کـې شـپه او ورځ پـه خدمت کولو بوخت دي؛ لـه الله تعـالی څخـه غـواړم چې توفيق يي رفيق کړي.

أقـول قـولي هـذا واسـتغفرالله لـي ولکـم ولسـائر المؤمنين اللهم انصرالاسلام والمسلمين اللهم ارزقنـا علمـا



نافعا وعملا مقبولا و دعاءا مستجابا إنك على كل شئ قدير وبالاجابة جدير آمين ...

د محترم کمال زاده صاحب ځیني چاپ شوي او ناچاپ آثار او ژباړې:

۱. د صفوة التفاسیر پښتو ژباړه، چاپ شوی .

۲. د مجاهد لوړه د کیسې په اسلوبو ورکوټې لیکنه.

۳. د مذهب سالار امام ابوحنیفه (ورکوټې رساله)، چاپ شوې.

٤. د شهید ارمان د کیسو په قالب کې (ورکوټې لیکنه).

۵. د توبې څلی د (جبل التوبة) پښتو ژباړه.

٦. څلویښت مبارک حدیثونه او د راویانو ژوند لیک یې چاپ ته تیار.

۷. (یادي از راد مردان) د سپین روبو د ژوند ځیني انځورونه.

۸.) ماذا یجری وراء اسوار المعتقلات) له پښتو څخه عربي ته ژباړه.

۹. حدیث الشیخ (د شیخ پندونه) پښتو ژباړه.

۱۰. ایمان او ګرځنده ځیلخانه د (الایمان والزنزانة المتجولة) پښتو ژباړه.

۱۱. (مموزین) دهغي مینې کیسه چې په ځمکه کې زرغونه او په آسمان کې پخه شوه ژباړه.

۱۲. په اسلام کې اوبه او روغتیا د ازهر پوهنتون پخواني رئیس دوکتور عبدالفتاح الحسیني الشیخ د لیکنې ژباړه چې د افغانستان لپاره د نړیوالې روغتیایي پروګرام اداري له خوا پنځه زره ټوکه چاپ او وویشل شوه .

۱۳. د ادب په پلوشو کې د ګلورینو کېسو غونډ څلور کېسې په یوه غونډ کې .

۱٤. په ادبي هار کې نبوي ملغلري، د الصابونی رح د" من کنوز السنة " شرح چاپ ته تیار.

۱۵. په اسلام کې نکاح او زموږ د ټولني نیمه خوا رواجونه. چاپ ته تیار.

۱٦. (صورمن حیاة العلماء العاملین) را ټولونه چاپ ته تیار.

۱۷ د مرګ او ژوند په پوله خاطرې چاپ ته تیار

۱۸ د تعلیم خط کتاب ګوتی چاپ .

۱۹ (ابتسم من فضلک) د نکتو، لطیفو، فکاهیاتو او د علماوو شاعرانو او ادیبانو د طرائفو مجموعه چې له عربی منابعو را ټوله شوې او ترتیب ده، خوندوره په دې چې په دغسي غمجنو حالاتو کي هم سړي په نرۍ موسکا او تبسم نازوي چاپ ته تیار.

یادونه: چاپ ته تیار ټول کتابونه که هرڅوک چاپولای شي، زه یې په یو کوچنی شرط ورسپارم ان شاءالله. والله ولي التوفیق .





■ لیکنه: موسی فرهاد

ارګ، مُحب او قمر ګله یې...!!

په تېرو دوو اونیو کې قریباً د افغانستان په لراو بر کې څو خونړې، دردوونکې، جالبې، دروغجنې او هینبسوونکې پیښې رامنځ ته شوې.

۱ - لومړۍ خونړۍ پیښه د هلمند په سنګین ولسوالۍ کې د مالدارو کلیوالو پر ګنجمیله د اردو لخوا د هاوانونو ویشتل وو، چې له امله یې پراخه ولسي مرګ ژوبله رامنځ ته کړه، نژدې ۵۰ تنه ملکي کسان یې شهیدان او ټپیان کړل. تر هغه وړاندې د جولای پر۱۹مه په بلخ کې د کابل الوتکو ښځه ښځې او ماشومان له ژونده محروم کړل. ورپسې یې په ډنډې غورې کې ۷ تنه د یوه کور غړي د ښځو او ماشومانو په ګډون شهیدان کړل، وړمه ورځ بیا د جولای پر ۲۳مه په هرات کې د دولتي الوتکو د بمبار په نتیجه کې دوې وحشیانه پیښې رامنځ ته شوې، اول په ادرسکن کې له بګرام نه د راخلاص شوي بندي پر استقبال کوونکو کلیوالو او بیا هغه ته څیرمه پر یوه واده بمبار کې څه دپاسه ۸۰ تنو ملکي وګړو ته مرګ ژوبله واوښته.

۲ – دویمه دردوونکې کیسه دا وه،،، په داسي حال کې چې د کابل اداري د ملي امنیت د کورني بلیک واټر د قطعاتو له لوري په هیواد کې ځای، ځای بمباری، چاپې او توغندیز عملیات روان وو؛ د هیواد په ختیځ کونړ کې د ګاونډي هیواد پاکستان له لوري پر ولسي خلکو ګڼ شمېر توغندیز بریدونه راپیل وو چې یو شمېر ملکي خلک پکې قرباني شول.

۳ – دریمه جالبه پیښه، څه موده وړاندې د یو سیاسي رشوتي توافق په نتیجه کې د هیواد ترټولو وتلي جنګي جنایتکار، جنګسالار رشید دوستم ته د ارګ غني لخوا د مارشالۍ مصنوعي رینک ورکول شو، دغه کار په کور دننه، یعني د غني پخپل ټیم کې هم ځینې خلک د هغه پرضد را وپاریدل، د غني د کمپاین ترټولو کلک ملاتړی د بغلان د خلکو استاځی ملک حسن خان احمدزی، د خپلو خلکو د مظلومیت او ظالم ته د مارشالي ورکولو پرضد د یوې غونډې پرمهال د ستیج پرسر خپلې جامې وایستلې، او خپل احتجاج یې د رسنیو په وړاندې ریکارډ کړ.

۴ – څلورمه دروغجنه پیښه، د غور د یوې انجلۍ ډرامه وه چې ارګ میشتې او نور دولتي چارواکو یې په ناخبرۍ کې دروغجن کیوریج ته لاس واچاوه چې ګویا قمرګلې په ټوپک پر طالب مجاهدینو ډزې کړې او دوه تنه یې شهیدان کړي. له همدې امله چارواکو هغه په الوتکو کې اخوا دیخوا وځغلوله او میډیایي ډرامې ته یې وړاندې کړه.. خو څرنګه چې مجاهدینو له وړاندې لا دا آوازه رد کړې وه؛ امریکایي ورځپاڼې یې د حقیقت موندنې په خاطر سیمې ته خبریالان ولیږل، هغوی حقیقت رابرسیره کړ، چې د چارواکو خبره یې رډ بډ دروغ ثابته کړه. انجلۍ وویل: هغې خپل میړه او د میړه اندیوال د پخوانۍ کورنۍ شخړې له امله وژلي، مطلب دا چې

له طالبانو سره د جګړې او یا د طالبانو د ویشتلو خبره یې مطلق دروغ ثابته شوه .

۵ – پنځمه هیښوونکې پیښه د غني د ملي امنیت د مشاور حمدالله محب، هغه څرګندوني وي، چې ویلي یې: د افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو جګړه د بهرنیانو لپاره نه بلکې د دغه هېواد له نوامیسو څمکنۍ بشپړتیا څخه دفاع لپاره کېږي. په داسي حال کې چې د ده خپل مشر اشرف غني احمدزي په ځلونو ځلونو ویلي چې ځواکونه یې د واشنګټن او نیویارک د امنیت لپاره جنګېږي، غني خپلو عسکرو ته وایي ستاسو له برکته په واشنګټن او نیویارک کې چاودني نه دي شوې.

محب په ننګرهار کې د یو لوړ پوړي دولتي چارواکي په توګه د افغانستان د علماؤو په نامه غږ وکړ، ویې ویل: علماء که غواړي چې امنیت یې وساتل شي، او له حکومته د ځان ساتني مطالبه کوي، نو د ده په خبره ملایان دې اول د امنیتي او دفاعي ځواکونو مذهبي ملاتړ وکړي، ګویا ملایان دې د کابل اداري د عسکرو دنده روا او جایزه وګڼي، او ملاتړ دي یې وکړي.

وروسته یې پرخپلو ځواکونو هم غږ وکړ چې په هر ډول چې کېږي د طالبانو په وړاندې خپلې مقابلې ته لا قوت ورکړي. د طالبانو په وړاندي د جګړې د تیزولو غوښتنه یې په داسي مهال وکړه، چې خپله کونړ ته د پاکستان د توغندیزو بریدونو د جواب لپاره تللی. خو د پاکستان په وړاندي یې خوله چوله نکړه، بلکې د طالبانو په مقابل کې یې د جګړې قوي کولو اعلانونه وکړل.

له پورتنیو پنځو واړو پیښو نه څو ټکي را څرګند شول:

• له لومړۍ پیښې نه دا مالومه شوه چې د کابل اداري له لوري د افغان ولس داسي بې دریغه او په بې پروایي سره بمبارول؛ ثابتوي چې دا رژیم پخپله هم په دې باور دی چې په دې ولس کې ریښه نلري، د پردیو ګوډاګی دی، او په وړاندي یې جهاد تنها د طالب نه، بلکې د ولس سراسري مقاومت بولي. ځکه یې بې توپیره د د دې ولس قتل عام ته ملاتړلې ده. څوک چې ځان د دې ولس واکمن او ولس د ځان رعیت وګڼي؛ هغه هیڅکله داسي برملا دښمنۍ ته لاس نه اچوي.

• له دویمې پیښې نه دا شی ثابت شو چې د کابل اداري د پاکستان ضد پالیسي خبري هسي یو ډرامه ده، د اغزن تار پرسر ورسره معامله کول، د طورخم دروازه رسماً ورسره پرانیستل، د عامو افغانانو په وړاندي پاکستان ته د تګ راتګ په لاره کې ستونزي قصداً اضافه کول، او بالآخره پر کونړ او ننګرهار د پاکستاني توغندیزو بریدونو ته دا ډول غبرګون ښودل، لکه د کابل د چارواکو خصوصاً کونړ کې د حمدالله محب غبرګون؛ ثابتوي چې د وطن پلورني په لاره کې دا رژیم په هیڅ هم صرفه نه کوي. پاکستان ضد میډیایي خبري یې مطلق دروغ دي.

• له دریمي پیښې نه دا خبره ثابته شوه چې د ارګ چارواکي له یوې خوا ځان د پښتون ټبر استاځي معرفي کوي، او په همدې خاطر یې په هیواد کې ژبني، قومي او سمتي مسائلو را اوچتولو ته خورا زور ورکړي، د ژبني او قومي تعصب توپیرونه چې د غني په دې څو کلنه دوره کې زیات شوي؛ په بل هیڅ وخت کې یې ساری نشته، خو له دې سره سره یې له عبدالله عبدالله سره د توافق په سلسله کې تراوسه پوري یوازي دوستم ته د مارشالۍ کار ترسره کړ، هغه څه چې ټول افغان ولس، په خاصه توګه پښتنانه یې پخپل زړه کې د خنجر وهلو په مانا ګڼي. نو متپکرغني هم ځان د نړیوالو بشري حقوقو مدافع بولي، هم ځان د پښتنو نماینده بولي او له نورو اقوامو سره یې کرکي ته وده ورکوي، خو له بلې خوا د بشریت

او پښتنو پرضد هم داسې اقدامات کوي، چې له بشري دعواوو او پښتنو سره هم ښکاره دوښمني ګڼله کېږي. او دا په مجموع کې د افغان ولس ترمنځ د کرکې او نفرتونو زیږولو یوه لویه برنامه ده چې پردې یې د غني او د هغه د ټیم غونډي کرکټرانو په مټ دلته پلي کوي.




• له څلورمې پیښې نه دا ټکی واضح شو چې د کابل اداره څومره د پستۍ او کم ظرفۍ خوا ته روانه ده، له یوې داسې پیښې نه چې یوه انجلۍ خپل میړه او د هغه ملګری، د کورني تاوتریخوالي لامله وژني. او د کابل چارواکي له خوښۍ ورته چکچکې وهي او ګمان کوي چې دغې انجلۍ د کابل ادارې په ننګه له مجاهدینو سره جګړه کړې، او طالبان یې شهیدان کړي، چارواکي څکه ورته خوښي ښکاروي چې ګونډي د ناټو د شکست خورده پوځ، ځای همدغه قمرګله ورته ونیسي، او د طالب له ګذاره دوی وساتي. نو یو خو د حکومت لپاره په دومره لوړه کچه دومره سپیره دروغ ویل، ډېر د پست فطرته خلکو نښه ده، دویم دا چې له دې نه څرګندیږي چې د کابل اداره اوس د هغه اوبو اخیستي په څیر ده چې څک ته هم لاس اچوي.

د قمرګلې د کیسې اصل حقیقت داسې دی چې د قمرګلې پلار (شاه ګل رحیمي) خپله لور قمرګله د نعیم په نامه یو کس ته په بدل کې ورکړې، نعیم ده ته خپله خور ورکړې وه. قمرګله د خپل مېړه نعیم په کور کې خوشاله وه؛ خو د نعیم خور له شاه ګل سره نه وه خوشحاله، د پلار (نعیم) په کور کې ناسته وه، نه ورته راتله، یو وخت چې کله قمرګله د پلار (شاه ګل) کور ته راغله؛ پلار یې په کور کښېنوله، بېرته یې د خپل مېړه کور ته نه پرېښودله، پدې وجه د نعیم او شاه ګل ترمنځ لانجه پیل شوه، خبره جرګې ته ولاړه، جرګې چې کومه فیصله وکړه، نعیم ونه منله، او د خپل خسر (قمرګلې پلار) پر کور یې برید وکړ، د قمرګلې مور او پلار یې ورته ووژل، قمرګلې یې په انتقام کې خپل مېړه نعیم او د هغه ملګری ووژل.

په سبا چې چارواکي خبر شول، دغه کیسه یې په طالبانو پسې وتړله، چې طالبانو پر دولتي ځواکونو برید کړی او قمرګلې طالبان ویشتلي. دا خبره ارګ ، پارلمان او نورو ډېرو چارواکو بدرګه کړه، مګر د نیویارک ټایمز خبریال چې حقیقت را وسپړه؛ د چارواکو خبره رد ښه دروغ ثابته شوه.

• له پنځمې پیښې (د حمدالله محب) له څرګندونو نه دا خبره څرګنده شوه چې یو خو په هیواد کې د علماء کرامو د ترور لړۍ د حمدالله محب د امنیتي ادارو کمال دی، څکه چې ورته وایی که علماء غواړې چې امنیت یې وساتل شي، د امنیتي ځواکونو مذهبي ملاتړ دې وکړي. دویم دا چې د حمدالله محب د دې غوښتنې مطلب دا شو چې دوی په دې یقین دی چې نظام یې له معنوي او مذهبي اړخه عاري دی. څنګه چې یې ولس د کفارو لاسپوڅې رژیم بولي؛ داسې دوی هم پر دې ټکې باوري دي. له همدې ځایه ده چې پس له شلو کالو بیا هم له علماء کرامو د امنیت ساتلو په بدل کې له هغوی نه د مذهبي ملاتړغوښتنې کوي. پای .....!

د بـدر الفـتاوى ۳ جلـد



م ـ عزيزي

څه وخت وړاندې د کابل رژيم د ولسمشر لومړي مرستيال (امرالله صالح) د افغانستان د سولې په هکله يو جوړ شوي څيړنيز کنفرانس کې په خپلو نورو بې بندوبارو او حقائق مسخه کوونکو خبرو سربيره وويل چې طالبانو په خپل وخت او دوره کې قانون او شريعت ته جوابګو محاکم او عدلي نظام نه درلود، محکمې يې د هغه په اصطلاح صحرايي، مزاجي او نظامي وې. صالح دا هم وويل: که څوک وايي چې طالبانو مستند شرعي نظام پلی کړی و او فيصلې يې شرعي وې؛ نو سند ، منهج او د خپلو کړنو کتاب او رساله دې وړاندې کړي!!

ما هڅه کوله چې د تېر اسلامي امارت د هرې برخې او ارکان د تګلارې او لاسته راوړنو په اړه مدلل او روښانه حقائق راټول او وړاندې کړم؛ چې له ډلې يې د اسلامي امارت د تير وخت د افتاء او قضاء برخې هم وې. د الله تعالی نصرت او مدد ته ګوره چې په همدې وخت کې د بدرالفتاوى ۳ ټوک چاپ شو که څه هم د بدرالفتاوى دوه ټوکونه پخوا هم چاپ شوي وو خو رانه هير وو.

کله مې چې بدرالفتاوى درېيم ټوک له سره ترپايه وکوت او پکې راوړل شوي ارزښتناک او قيمتي مباحث او درداني مې په غور وليدلې، نو ومې ويل چې امرالله صالح او نور مغرضين د تعصب او کينې په څومره لويه کنده کې پريوتي چې هڅه کوي لمر په دوو ګوتو پټ کړي.

د بدرالفتاوى د ۳ جلد په ۲۸ مخ کې مې د اسلامي امارت د مؤسس عاليقدر اميرالمؤمنين ملامحمدعمر مجاهد هغه استفتاء هم وليده چې پکې د امارت له مرکزي دارالافتاء څخه يې د قطاع الطريق، غل، زاني، لوطي او نورو بې بندوبارو په اړه د حد، زجر او د امير د صلاحيت په هکله وضاحت غوښتل شوی او د مرکزي دارالافتاء له لوري په ډېر متانت، صراحت او شرعي بصيرت پرته له دې چې د امير کوم بې ځايه لحاظ وشي، جواب ورکړل شوی، حدود او هغوی ته د زجر په برخه کې يې د امير صلاحيتونه په ګوته کړي.

دغه ډول په بدرالفتاوى کې مې د امارت د ګڼو واليانو او د مهمو ادارو د مشرانو شرعي غوښتنې وليدلې چې د استفتاوو په شکل يې د خپلو مربوطه حساسو امورو د چلند په باب له مرکزي دارالافتاء څخه کړي چې د بدرالفتاوى نيږدې ۴۴۴ مخونه په همدې مباحثو، فتواوو او شرعي لارښوونو ډک او رانغاړل شوي دي.

دغه راز په بدرالفتاوی کې د مسلمان د فردي ژوند سره د اړونـدو مسـائلو ترڅنګ د هغـو مسـائلو ځوابونـه هـم موندلی شئ، چې د یو اسلامي نظام کارکوونکي په خپل کار کې ورته اړتیا لري، لکه د ښاروالۍ اړوند مسـائل، د ګمـرک او محصول اړوند مسـائل، زنـدانیانو سـره د تعامـل او د هغـوی لـه لـوري زنـدان کې د جنجـال جوړولـو پرمهـال شـرعي برخورد، د قاچاقي مالونو سره تعامل او د نشه یـي مـوادو سـره تـر ضـبط کیـدو وروسـته د اسـلامي حکومـت تعامـل او برخورد او داسې نور...

زما په اند د بدرالفتاوی درې چاپ شوي ټوکونه او راروان ټوکونه که په همدې مفاهیمو د درنو لوستونکو لاس تـه ورشي - الله تعالی دې له څنډ او خنډ څخه لیرې وساتي - باور وکړئ چې د ابه د اسلامي امارت د تېر دیني او شـرعي عظمت او شاهکاریو د ځلیدا او خوندیتوب یو تل پاتې اصل، مصدر او مشال وي.

زه د اسلامي امارت د مرکزي دارالافتاء د مشر او د اسـلامي امـارت د تېـرې دورې د سـترې محکمې د مشـر د هیواد او سیمې په کچه د نومیالي عالم او استاد شیخ القران والحدیث مولانا مفتي نورمحمد ثاقب صـاحب حفظـه اللـه همت، اخلاص او بصیرت ته سلام کوم او د عقیـدت نـذرانې ورتـه وړانـدې کـوم چې لـه خـورا زیـاتو مصـروفیتونو او صحي ستومانیو باوجود یې د اسلامي امارت د تېر شرعي نظام مهمې فتوې او دیني پریکړې د یـوې مسـتندې علمـي سلسلې (بدرالفتاوی) ترخواږه او راښه نامه لاندې پـه کتـابي شـکل کې تمثیـل او راتلونکـو نسـلونو تـه یـې دا حقیقـت واضح او د هغو سترګو ته کېښود چې د ملامحمـدعمر مجاهـد رحمـه اللـه تـر زعامـت لانـدې راغلـی او جـوړ اسـلامي نظام یوازې د خولې او شعار خبره نه وه، بلکې یو داسې رښتینی او برحق نظام و چې له امیر څخه نیولې تـر افـرادو او منسوبینو پورې مکلف او اړ ول چې د مقدس شریعت او حنفي فقهې تـر لارښـوونو او ارشـاداتو لانـدې خپـل کـړه وړه عیار او برابر پرمخ بوزي.



د ذی الحجې د میاشتې لس ورځې او قرباني

مفتي محمدګل سعید

الله تعالی په قران کریم کې په همدې ورځو باندې قسم کړی دی. فرمايي: والفَجْر وليالٍ عَشْر. په دې آیت کې د یادوو شویو لسو ورځو په اړه لوی عالم شاه ولي الله دهلوي ﷬وايي: له [الفَجْر] څخه مراد د لوی اختر ورځ او له [وليالٍ عَشْر] څخه بيا مراد تر لوی اختر وړاندې لس ورځې دي. ابن تیمیه او ابن قیم هم همدا خبره غوره ګڼلې ده. ابن کثیر ﷬ بیا د آیت کریمه لس شپې؛ د لوی اختر لومړنۍ لس ورځې بولي. دا لس ورځې د عبادت ځانګړې ورځې دي چې باید الله جل جلاله پکې زیات یاد کړی شي او همدارنګه لوی عبادت یانې حج هم په همدې ورځو کې ادا کېږي. ستر ښښتن جَلَّجَلَالُهُ فرمايلي: وَأَذِّن فِي النَّاسِ بِالْحَجِّ يَأْتُوكَ رِجَالًا وَعَلَى كُلِّ ضَامِرٍ يَأْتِينَ مِن كُلِّ فَجٍّ عَمِيقٍ * لِيَشْهَدُوا مَنَافِعَ لَهُمْ وَيَذْكُرُوا اسْمَ اللَّهِ فِي أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ عَلَى مَا رَزَقَهُم مِّن بَهِيمَةِ الْأَنْعَامِ- (د حج سوره، ۲۸ نمبر ايت). ژباړه: او په خلګو کې د حج اعلان وکړه، نو تاته به راځي پلي او سواره په هره ګړندۍ سپرلۍ، د خپلو ګټو لپاره به له هر لرې ځای راځي، او په معلومو ورځو کې د الله جل جلاله نوم یاد کړئ په هغه څارويو چې در کړل شوي دي.ځينې دينپوهان په دې عقيده دي چې د نړۍ بهترينې ورځې د لوی اختر لومړۍ لس ورځې دي چې د عرفات ورځ هم پکې ده. عرفات هغه ورځ دی چې الله تعالی پکې د جهنم دروازې تړلې وي، د خپلو بنده ګانو دعاګانې قبلوي، د هغوئ ګناهونه بخښي او جنت ته يې دننه کوي.ډېری صحابه کرام او ستر علماء وايي چې: د أَيَّامٍ مَّعْلُومَاتٍ موخه د لوی اختر اولې لس ورځې دي. په يادو لسو روځو کې دوهمه ستره ورځ د لوی اختر ورځ ده چې نبي کریم صلی الله علیه وسلم يې په اړه فرمايي:إِنَّ أَعْظَمَ الْأَيَّامِ عِنْدَ اللَّهِ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَوْمُ النَّحْرِ ثُمَّ يَوْمُ الْقَرِّ- د ابو داود سنن . ژباړه: رښتیا هم چې الله جَلَّجَلَالُهُ ته تر ټولو ورځو غوره ورځې د قرباني او د قربانۍ تر ورځې وروسته (یانې د لوی اختر دوهمه) ورځ ده. د دې ورځې په اړه نبي کریم صلی الله علیه وسلم یو ځای داسې فرمايي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم فَقَالَ:دُلَّنِي عَلَى عَمَلٍ يَعْدِلُ الْجِهَادَ؟ قَالَ: لاَأَجِدُهُ. قَالَ:هَلْ تَسْتَطِيعُ إِذَا خَرَجَ الْمُجَاهِدُ أَنْ تَدْخُلَ مَسْجِدَكَ فَتَقُومَ وَ لاَ تَفْتُرَ، وَتَصُومَ وَ لاَ تُفْطِرَ؟ قَالَ: وَمَنْ يَسْتَطِيعُ ذَلِكَ؟ ژباړه: ابو هريرة وايي چې يوه ورځ يو سړی پيغمبر صلی الله علیه وسلم ته راغی او وېې ويل : ما ته داسې کار را وښيه چې بدله يې له جهاد سره برابره وي؟ رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وويل: چې داسې کار نشته. بيا يې ورته وويل چې: ته داسې کولی شې چې کوم وخت مجاهد له خپله کوره ووځي او ته جومات ته داخل شې، دومره لمونځ وکړې چې ستړی نشې او په دوامداره توګه پرته له ماتولو روژه ونيسې؟ هغه ځواب ور کړ چې دا د چا په وسه پوره ده؟نبي کريم صلی الله علیه وسلم د دې لسو روځو د فضيلت په اړه فرمايي: عَنْ ابْنِ عَبَّاسٍ عَنْ النَّبِيِّ عليه السلام أَنَّهُ قَالَ: مَا الْعَمَلُ فِي أَيَّامٍ أَفْضَلَ مِنْهَا فِي هَذِهِ). قَالُوا! وَلَا الْجِهَادُ ؟ قَالَ، وَلَا الْجِهَادُ، إِلَّا رَجُلٌ خَرَجَ يُجاهد بِنَفْسِهِ وَمَالِهِ فَلَمْ يَرْجِعْ بِشَيْء. ترجمه: له حضرت عبد الله بن عباس رضي الله عنه څخه روايت دی چې نبي رسول صلی الله علیه وسلم فرمايلي دي چې د الله تعالی په نزد داسې کومه ورځ نشته چې ښه او نیک عملونه دې هغه جل جلا له ته دومره خوښ وي. صحابه کرامو وويل چې؛ اې د الله رسوله: ايا جهاد هم د دې ورځو د نيکو کړنو په اندازه نه دی؟ هغه وفرمايل: هو جهاد هم پدې ورځو کې د تر سره شوي ښه کار (عمل) سره سم نه دی.لاکن پرته له هغه

کسه چې خپل سر او مال دواړه ور سره یوسي خو یو هم را نه وړي (یانې چې د الله تعالی په لاره کې شهید شي). پدې لس ورځو کې د ښه چار (عمل) بدله د الله تعالی په لاره کې تر جهاد هم ډېره ده. په دې ورځو کې بایدمسلمان پر خپلو ټولو تېرو ګناهونو د زړه له تله توبه وباسي، تسبیح، تحمید، تهلیل او په رسول الله صلی الله علیه وسلم باندې دې درود وویل شي. له ابن عمررضي الله عنه څخه حدیث روایت شوی چې: ما من ایام اعظم و لا احب الی الله العمل فیهن من هذه الایام العشر فاکثروا فیهن من التهلیل و التکبیر و التحمید-رواه احمد. امام بخاري لیکلي دي چې :کان ابن عمر وأبو هریرة یخرجان إلی السوق في أیام العشر یکبران ویکبر الناسُ بتکبیرهما. ژباړه: ابن عمر او ابو هریره (رضی الله عنهم) دواړه به په دې لسوورځو کې بازارونو ته وتل، تکبیرونه (الله أکبر الله أکبر، لا إله إلا الله، والله أکبر الله أکبر ولله الحمد) به یې ویل او نورو خلکو به هم ور سره بدرګه کول. په دې ورځو کې د روژې نیول ډېر زیات ثواب لري. د عرفات د ورځې روژه پرته له حجاجو؛ نورو مسلمانو ته سنت ده. څکه نبي کریم ﷺ یې په اړه فرمایي: صِیامُ یُومِ عَرَفَة، أَحْتَسِبُ علی اللهِ أَنْ یُکَفِّر السنَة التِي قَبْلَه، والسّنَة التِي بَعْده. ژباړه: امیدلرم چې د عرفې (عرفات) د ورځې روژه به د تېر او راتلونکي کال ټولو ګناهونو ته بدله وي. له حفصې رض څخه روایت شوی دی چې: رسول الله صلی الله علیه وسلم د عاشورا د ورځې، د دغو لسو ورځو او د هرې میاشتې د دریو ورځو روژې نه پرېښودې.

همدارنګه قرباني هم یو مهم عبادت دی چې د اسلام د شعائرو څخه دی د جاهلیت په زمانه کښې هم دا عبادت ګڼل کیدی خو د بتانو په نوم به قرباني کیدې، تر اوسه په نورو مذهبونو کې د یو دود او رواج په توګه سره اداء کیږي، د بتانو په نوم یا د حضرت عیسی علیه السلام په نامه قرباني کیږي.

الله تعالی په سورت کوثر کې نبی کریم صلی الله علیه وسلم ته حکم کوي چې لکه څرنګه چې لمونځ د الله تعالی څخه ماسوا د بل چا لپاره نشي کیدی نو قرباني هم باید د الله تعالی په مقدس نامه وشي د (فصل لربک وانحر) همدا مفهوم دی په یو بل آیت کې هم دغه مفهوم په بل عنوان سره داسې بیان شویدی: ان صلاتی ونسکی ومحیایی ومماتی لله رب العالمین. ژباړه: بې شکه زما لمونځ، زما قرباني، زما ژوند او زما مرګ خاص د الله جل جلاله لپاره دی.

نبی کریم صلی الله علیه وسلم لس کاله په مدینه منوره کې تېر کړي دي او هر کال به یې قرباني کوله. ددې څخه معلومه شوه چې قرباني یواځې د مکې معظمې سره تړاو نلري، بلکې په هرځای کې، په هر ښار کې د شرائطو د پوره کیدو وروسته واجب دی. نبی کریم صلی الله علیه وسلم به مسلمانانو ته د قرباني په کولو تاکید کاوه له همدې کبله د جمهورو مسلمانانو په نزد د قربانۍ کول واجب دی.

قرباني لکه د لمانځه په څېر ځانته وخت لري تر هغه وخت مخکې د قرباني کول جواز نلري ، د اختر د ورځې د سهار تر داخلیدو مخکې قرباني کول نه صحیح کیږي ، کله چې سهار داخل شي، نو د قرباني وخت هم شروع کیږي او اخیري نیټه یې د اختر دریمه ورځ ده. مطلب دا چې د قرباني وخت درې ورځې او دوه شپې دی . البته بهتره داده چې د ورځې وي ، د شپې مکروه بلل کیږي ، دارنګه په ورځو کې ړومبۍ ورځ تر نورو ډیره بهتره او د اجر په اعتبار زیاته ده. په بدایع الصنایع کې دي: فَلَا یَجُوزُ لِأَحَدٍ أَنْ یُضَحِّيَ قَبْلَ طُلُوعِ الْفَجْرِ الثَّانِي مِنْ الْیَوْمِ الْأَوَّلِ مِنْ أَیَّامِ النَّحْرِ وَیَجُوزُ بَعْدَ طُلُوعِهِ سَوَاءٌ کَانَ مِنْ أَهْلِ الْمِصْرِ أَوْ مِنْ أَهْلِ الْقُرَی ، غَیْرَ أَنَّ لِلْجَوَازِ فِي حَقِّ أَهْلِ الْمِصْرِ شَرْطًا زَائِدًا وَهُوَ أَنْ یَکُونَ بَعْدَ صَلَاةِ الْعِیدِ ، لَا یَجُوزُ تَقْدِیمُهَا عَلَیْهِ عِنْدَنَا .

قرباني پر هر مسلمان که نر وي او که ښځه وي چې عاقل بالغ او مقیم وی، واجب دی . په داسې حال کې چې (۲۰۰) درهم ولري، چې دا (۵۲ نیمې) تولې سپین زر کیږی یا ددې قیمت ولري یا نور سامان ولري او یا څمکه ولري چې قیمت ئې (۲۰۰) درهمو ته رسیږي او ترحاجت اصلي یې زیات وي. په اوسنی وخت کې د حنفي فقهي پربنسټ (۵۲نیمی) تولې سپین زر (۷۰۰ ګرامه) سپین زر کیږی، نو په هر وخت او هره زمانه کښی یو مسلمان دا کولای شی چی ددې سپینو زرو قیمت معلوم کړي چې دا د قرباني

او زکات نصاب دی. زکات کال تېرېدل غواړي او قرباني کال تیریدل نه غواړي که یو څوک د اختر په ورځ نصاب پوره کړي لا به قرباني کوي. درې جامې په حاجت کې داخلې او څلورمه یې تر ضرورت زیاته ګڼل کیږي ، د سکونت او استوګنې له کورڅخه پرته بل کور تر ضرورت زیات دئ . په یوه سرائ کې تر دووه خونو زیاتې غرفې او کوټې تر حاجت زیاتې دي ، دارنګه تر حاجت زیاتې غالۍ هم په نصاب کې شمېرل کیږي. دارنګه هغه څوک چې کتابونه ولري ، که دده د خپلې مطالعې لپاره ؤ، نو هغه کتاب په نصاب کې داخلیږي کوم چې له ده سره د هغه بله نسخه هم موجوده وي ، او که یو چا د نورو د مطالعې لپاره کتابونه ایښي ؤ، نو دا هم په نصاب کې شامليږي . پر هغه ښځه هم قرباني شته چې مهر یې معجل وي ، او په مهر مؤجل کې قرباني نشته. نابالغ او مجنون که د نصاب خاوند ؤ ، نو پدې اړه صحیح قول دادئ چې پر دوی قرباني کول واجب نه دي. پلار او وَلي یې نشي کولائ چې د هغوی له مال څخه قرباني وکړي ، البته له خپل مال څخه یې کولائ سي . دارنګه پر مسافر هم قرباني کول واجب نه دي، البته مستحب کار دئ چې وېې کړي ، که مسافر د قرباني په ورځو کې مقیم شو ، که څه هم د اخیرې ورځې یوه ګنټه پاته وي قرباني وربانديې واجب ګرځي . و في المبسوط : قَالَ (وَهِيَ وَاجِبَةٌ عَلَى الْمَيَاسِيرِ وَالْمُقِيمِينَ عِنْدَنَا) وايضا فيه: «وَإِنْ كَانَ لِلصَّبِيِّ مَالٌ فَقَالَ بَعْضُ مَشَايِخِنَا عَلَى الْأَبِ وَالْوَصِيِّ أَنْ يُضَحِّيَ مِنْ مَالِهِ عِنْدَ أَبِي حَنِيفَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ عَلَى قِيَاسِ صَدَقَةِ الْفِطْرِ الْأَصَحُّ أَنَّهُ لَا يَجِبُ ذَلِكَ ، وَلَيْسَ لَهُ أَنْ يَفْعَلَهُ مِنْ مَالِهِ . فقهاءکرامو لیکلي دي چې د قبرو د زیارت لپاره څلور ورځې تر ټولو بهترې ورځې دي : (دوشنبه ، پنجشنبه ، جمعه او هفته). همدارنګه په هغو وختونو کې زیارت کول ډیر فضیلت لري کوم چې شریعت له برکته ډک وختونه بللي دي، لکه د برائت شپه، د ذی الحجې د میاشتې اولنی لس ورځې ، ددواړو اخترونو ورځې ، او د محرم لسمه. له دې څخه معلومه شوه چې د اختر په ورځ د وفات شویو قریبانو مقبرې ته تلل ، او دعا ورته کول مستحب او افضل کار دئ. قال في الهندية: وأفضل أيام الزيارة أربعة يوم الاثنين والخميس والجمعة والسبت والزيارة يوم الجمعة بعد الصلاة حسن ويوم السبت إلى طلوع الشمس ويوم الخميس في أول النهار وقيل في آخر النهار وكذا في الليالي المتبركة لا سيما ليلة براءة وكذلك في الأزمنة المتبركة كعشر ذي الحجة والعيدين وعاشوراء وسائر المواسم كذا في الغرائب.

هغه څوک چې له ده څخه داختر په لمانځه کې د اول رکعت تکبیرونه فوت شي ، او امام قرائت وايي ، نو دی به له تکبیر تحریمه وروسته درې تکبیره ووايي ، او همدا ډول دې له امام سره شریک شي. هغه څوک چې له امام سره د رکوع په حال کې یو ځای شي، نو که دده په فکر درې واړه تکبیرونه په ولاړه ادا کولائ شي ، او له امام سره یې رکوع نیولئ شوائ ، نو په ولاړه دې تکبیرونه ووايي لاسونه دې غوږنو ته وړي ، او که د رکوع د تیریدو ویره وه ، نو په رکوع کې به درې تکبیره ووايي ، خو لاسونه به غوږو ته نه پورته کوي. او که له یو یا دوو تکبیرونو ویلو وروسته سملاسي امام پورته شو ، نو له ده څخه پاته تکبیرونه ساقطیږي ،او که یو څوک له امام سره د اول رکعت د قومې په حال کې یو ځای شو ، نو هغه به اول رکعت سره له تکبیرونو راګرځوي .(إذا أدرك الإمام في صلاة العيد بعد ما تشهد الإمام قبل أن يسلم أو بعدما سلم قبل أن يسجد للسهو أو بعدما سجد للسهو ولم يسلم الإمام فإنه يقوم ويقضي صلاة العيد) .

دلوی اخترپه ورځ سهار وختي راپورته کیدل ، غسل او مسواک وهل ، پاکې، ستره او عمده جامې اغوستل ، عطر او خوشبويي لګول، د اختر تر لمانځه مخکې خوراک نه کول ، عید ګاه ته د تلو په وخت په لوړ اواز تکبیرونه ویل مستحب دي .

قرباني ته د فقهې په اصطلاح کې «اضحیه» ویل کیږي ، اضحیه د هجرت په دوهم کال مشروع شوې ده ، په همدغه کال د دواړو اخترنو لمونځ او زکات هم مشروع ګرځیدلي دي. فقهاء کرامو د اضحيې د ثبوت لپاره له قرآن څخه دغه مبارک آیت وړاندې کوي ، چې الله پاک فرمایي : فَصَلِّ لِرَبِّكَ وَانْحَرْ (الكوثر ۲) . ځینو مفسرینو ددې تفسیر پدې ډول کړی دی چې په دې آیت کې له لمانځه څخه د اختر لمونځ او له نحر څخه قرباني کول مراد دي . او په احادیثو کې د قرباني د ثبوت لپاره ډیر دلایل

موجود دي، چې یوځو یې دادي: عَنْ أَنَسٍ قَالَ ضَحَّى النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِكَبْشَيْنِ أَمْلَحَيْنِ أَقْرَنَيْنِ ذَبَحَهُمَا بِيَدِهِ وَسَمَّى وَكَبَّرَ وَوَضَعَ رِجْلَهُ عَلَى صِفَاحِهِمَا. ژباړه: له حضرت أنس څخه روایت دئ چې رسول الله ﷺدوه سپین رنگي پسونه چې ښکرونه یې درلودل پخپل لاس، پدا ډول ذبح کړل چې خپله مبارکه پښه یې د هغه د غاړې پر طرف کیښودله او بسم الله او الله اکبر یې وواېه.

عن أبي هريرة أن رسول الله قال: من كان له سعة، ولم يضح، فلا يقربّن مصلاّنا. یعني هغه څوک چې شتمن وي او قرباني ونکړي ، هغه دې خامخاضرور زموږ عیدگاه ته نه حاضریږي . دارنگه روایت دئ چې د قربانۍ په ورځو کي الله تعالی ته قرباني تر هر نیک کار ډیره زیاته خوښه او بهتره ده ، د قرباني د هر وینبته او وړۍ په بدل کې قرباني کونکي ته یوه نیکي ورکول کیږي . د قرباني د وینې څاڅکئ مځکې له دې چې مځکې ته رسیږي، د الله په دربار کې قبوله گرځي. قرباني واجب عمل دی اوبهتره داده چې د قرباني حیوان پخپل لاس ذبحه کړای شي ، او یا د قرباني د ذبحې په وخت کې حاضر اوسي ، او د ذبحې آله باید ښه پرې کونکې او تیره وي ، او مذبوح ته تر هغه باید انتظار وکاږي تر څو یې له ټول جسد څخه حیات ووځي او د قرباني د غوښو په اړه مناسب طریقه داده چې درې برخې کړی شي ، یوه برخه یې د ځان لپاره راوگرځول شي ، دوهمه خیرات او دریمه یې پر قریبانو وویشل شي ، که څه هم هغوۍ ځانته قرباني کړې وي.

قرباني یو عظیم الشان عبادت دی. د حضرت ادم علیه السلام د زمانې د شروع څخه تر امت محمدﷺ پوري مشروع را روانه ده، په هر مذهب او ملت کې پر دې (قرباني باندي) عمل کیږي. په قران کریم کې وایي:(و لكل امة جعلنا منسكا ليذ كروا اسم الله علي مارزقهم من بهيمة الانعام) الاية. (الحج) ژباړه: موږ د هر امت لپاره قرباني مقرر کړل، چې هغه په مخصوص حیواناتو باندي د الله نوم واخلي کوم چې الله تعالی ورکړی دي.

د قرباني عمل که څه هم په هر امت کې جاري ؤ، خو د حضرت ابراهیم علیه سلام په وخت کې یې خاص ارزښت ترلاسه کړی دی. په همدې وجه ورته سنت ابراهیمي ویل کیږي. ځکه حضرت ابراهیم د الله تعالی د رضامندي په خاطر خپل زوی حضرت اسماعیل د قرباني لپاره وړاندي کړی دی. د دغه عمل په یاد کې هر کال مسلمان قرباني کوي. په دغه قرباني سره یو اطاعت شعار مسلمان ته دا درس ورکول کیږي چې هغه د خپل رب د رضامندي په خاطر هر ډول اطاعت ته تیار دی. د خپل مال او متاع حب یې ترک کړی او خالص د الله تعالی حب یې په زړه کې ځای نیولی دی.

په حدیث شریف کې دي: عن زيد ابن ارقم رضي الله عنه قال قال اصحاب رسول اللهﷺ يا رسول الله! ما هذه الاضاحىّ قال سنة ابيكم ابراهيم عليه سلام قالو فما لنا فيها يارسول الله قال بكل شعرة حسنة قالو فالصرف يارسول الاه قال بكل شعرة من الصوف حسنة. سنن ابن ماجه.

ژباړه: حضرت زید بن ارقم رضی الله عنه وویل چې د رسول الله ﷺ څخه صحابه ؤ سوال وکړي چې یارسول الله ﷺ دا قرباني څه ده؟ (یعني د قرباني حیثیت څه دی؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: ستاسو د پلار حضرت ابراهیم علیه سلام سنت (طریقه) ده. صحابه ؤ پوښتنه وکړه چې په دې سره موږ ته څه ترلاسه کیږي؟ رسول الله ﷺ وفرمایل: د هر وریښتي په بدل کې یوه نیکي ده. صحابه ؤ بیا سوال وکړي چې یارسول الله ﷺ د وړۍ (په بدله کې څه ترلاسه کیږي؟) رسول الله ﷺ وفرمایل: د وړۍ په هر وریښتي باندي نیکي ده.

همدارنگه په بل روایت کې دي: عن عايشه رضي الله عنها ان رسول الله ﷺ قال : ما عمل ادمى من عمل يوم النحر احب الى الله من اهراق الدم انه اليتاتى يوم القيامة بقروبها و اشعارها واظلافيها وان الدم يقع من الله بمكان قبل ان يقع من الارض فطيبوا بها نفسا. ژباړه: د عید الاضحی په ورځ د الله تعالی په وړاندي تر قرباني د وینو د بهېدلو څخه بل نیک کار محبوب نه دی، او د قیامت په ورځ به د قرباني حیوان د خپلو وېښتانو، ښکرو او اظلافو سره راځي، او د قرباني وینې په ځمکه د لوېدو

څخه مخکې الله تعالی یې قبوله کوي، نو په دې خاطر تاسو په ښه زړه سره قرباني کوئ.

همدارنګه په بل حدیث شریف کې دي: عن ابن عباس ﷺ قال قال رسول الله ﷺ: ما انفقت الورق فی شی افضل من نحیرة فی یوم العید. ژباړه: د حضرت ان عباس ﷺ څخه روایت دی چې رسول الله ﷺ وفرمایل: هیڅ مصرف د الله په وړاندې دومره فضیلت نه لري لکه هغه مصرف چې د عیدالضحی په ورځ په قرباني باندې وشي.

مسئله: پر ښځه هم قرباني واجب دی چې تر حاجت زیات مال او روپۍ و لري چې اندازه ئې (۷ نیمی) تولی سره زر او یا هم (۵۲ نیمی) تولی سپین زرو ته ورسیږی، باید د سپینو زرو د قیمت د مقدار معلومات وشی چې څومره روپې یې کیږي، دا ځکه چې یو وخت په یوه قیمت وی او بل وخت په بل قیمت وي. په اوس وخت کې د سپینو زرو له قراره که چا ۴۰۰۰۰ افغانۍ یا ۷۷۰۰۰ پاکستانۍ روپۍ درلودې پر هغه قرباني واجب ده.

مسئله: د سرو یا سپینو زرو غاړکۍ، غوږوالۍ، بنګړی او یا هم نور زیورات که څه هم استعمالیږی چې مقدار ئې و شرعی اندازی ته ورسیږی نو قرباني، سرسایه او زکات واجب دی (بهشتی زیور ص ۲۹)

مسئله: که یو سړی یا یوه ښځه د درو جوړو کالیو څخه زیات د اغوستلو کالی ولری او قیمت ئې و نصاب ته ورسیږی نو بیا پر دواړو قرباني او سرسایه واجب ده. (شامی ج ۵ص ۲۱۹، هندیه ج۵ص ۲۹۳)

مسئله: د کوچنی هلک او کوچنی انجلی چې نابالغه وی په مال کی قرباني نشته، که څه هم ډیری روپۍ ولري. (کفایت المفتی ج۸ ص ۱۷۶، شامی ج ۵ ص ۲۲۳)

مسئله: که یو سړی د تجارت لپاره مځکه، دکان، سرای او نور سامان ولري چې قیمت یې نصاب ته رسیږي قرباني پرې واجب ده. (احسن الفتاوی ج۷ مخ ۷۰۶)

مسئله: که یو سړي دوکانونه درلودل او په کرایه یې ورکړي وه او یایي مځکه او باغ درلوده نو د شیخینو په نزد یې قیمت معتبر دی که قیمت یي نصاب ته رسیږي نو قرباني پرې واجب ده او که قیمت یي نصاب ته نه رسیږي نو بیا قرباني پرې واجب نه ده او امام محمد صاحب وایي چې حاصل یې معتبر دی، نو که جایداد یي دده او دده د عیال د یوه کال نفقه ورکوله بیا قرباني پرې واجب ده او که یي د یوه کال نفقه نه ورکوله نو بیا قرباني پرې واجب نه ده او فتوا د امام محمد صاحب پر قول ده. (ردالمحتار ج۲ص۷۱، هندیه ج۶ ص ۲۸۷)

مسئله: که چیرې د یوه سړي ښځه، بالغان زامن او لونې ئې دومره مال ولري چې قرباني پرې کیږی نو دوی به قرباني کوي، د ښځې قرباني پر خاوند او د زوئ قرباني پر پلار واجب نه دی، که چیرې دوئ خپله شتمن وي، همدا شان پر زامنو د مور او پلارقرباني واجب نه ده خو که چیری یو زوی د مور او پلار لپاره قرباني کوي بیا څه خبره نشته، چې ددې قرباني ثواب زوی ته هم رسیږی، او که چیری اولاد ئې نابالغه وی نو بیا یی قرباني نه پر پلار شته او نه خپله پر دوی شته ده. (کفایت المفتی ج۸ مخ ۱۷۳)،(ردالمحتار ج ۵ مخ ۲۲۲).

مسئله: په حرام مال کې نه زکات شته، نه قرباني او نه هم سرسایه شته، لکه د سود په مال کې، د غلا، غصب، او که فرضا یو مسلمان داسې حرام مال ولري، نو پکار داده چې ټول خیرات کړي او مسکینانو ته ئې ورکړي. (احسن الفتاوی ج۷ ص ۵۰۶، شامی ج۲ ص ۲۸).

مسئله: که پر یو سړي پور(قرض) باندی وی مثلا ۵ لکه، او له ده سره ۴ یا۵ لکه روپی وی نو پر دغه سړی باندی قرباني نشته خپل پور دی اداء کړی. (الدرالمختار ج۲ ص ۵)

مسئله: پر مسافر باندې قرباني واجبه نه ده که څه هم روپۍ ولري. (الدرالمختارعلی هامش شامی ج ۵ ص ۲۲۲).

مسئله: که یو سړی کافر ؤ، مسافر ؤ او یا فقیر ؤ او د اختر په دریمه ورځ یا مسلمان شو، یا غنی شو، او یا هم مقیم شو پر هر یوه قرباني واجب دی .(ردالمحتار ج۵ ص ۲۲۲).



دچین او ایران ترمنځ

د اوږدمهالې اقتصادي ملګرتیا هوکړه!

ارمان

په وروستیوکې دایران اوچین ترمنځ ناڅاپه اړیکې سره ډېرخواږه شول، د خبري راپورونوله مخې: ایران موده وړاندې له هند سره د«چاه بهاربندرګاه» جوړولو تړون لغوه کړ او د هغه نه وروسته یې چین سره د«چاه بهار»په اړه نوی تړون لاسلیک کړ، دکوم په ترڅ کې به چې په راتلونکي کې یوخوا دچین او ایران ترمنځ اړیکې نورهم پراخ او خواږه شي خو دهندوستان لپاره به له دې پلوه حوصله ماتوونکی ثابت شي چې ددینه وړاندې یې هغه سره په ۲۰۱۶ زکې ورته تړون امضاء کړی و .

دایران اوچین ترمنځ ددې نوي تړون اهمیت له دې څخه هم ښکاري چې دټولې نړۍ خبري چینلونو اومیډیا ورته دمعمول نه هم زیات اهمیت ورکړپه نړۍ کې دکرونا وایروس لپاره دګرو کړای شوې میډیا لخوا په لویو ورځپاڼو او رسنیوکې خپورکړای شو، اوددې تړون ځانګړې خبره داده چې لږترلږه دراتلونکې پېړۍ ترڅلورومې یعنې تر۲۰۵۰ زیږدې ورباندې عمل کېږي، چې ددې ستراتیژیک تړون اوسوداګرۍ په وجه به په سیمه کې لوی بدلونونه رامنځته شي، زکه په دې کې دامریکا اوهند دواړو ګټې اغېزمنې کیدای شي اوچین به وړاندې لاړشي اوپه سیمه کې به دخپلې برلاسۍ پیداکولو صلاحیتونه نورهم ترلاسه کړي .

ددې تړون څخه څو ورځې وروسته جوته شوه چې ایران دچاه بهار، دریل ګاډي اوګازو دتړون څخه هند بهر کړی دی،ایران ددې وجه په ظاهره داښودلې چې هند ونکړی شول په ټاکلي وخت کې دخپلې ژمنې سره سم پیسې برابرې کړي، د یادونې وړده چې کله په ۲۰۱۶ زکې دایران، هند او افغانستان ترمنځ په دې اړه تړون لاسلیک کړای شو دهندلخوا اعلان شوی وچې دچاه بهارنه تر زاهدان پورې دریل ګاډي پټلۍ غځوي او پکې زیاته پانګونه به هندوستان کوي خواوس ایران پخپله دریل ګاډي پټلۍ غځولو فیصله کړې ده دایران اوچین ترمنځ تازه لاس لیک شوي تړون لاندې به چین په ایران کې دڅلورسوه میلیارد ډالرپه ارزښت پانګونه کوي او ددې په عوض کې به ایران چین ته په راتلونکوپنځه ویشت کلوکې په ډېره ارزانه بیه خام تېل ورکوي.

دخوند خبره پکې داده چې اوس مهال امریکا،هند اونور هیوادونه دکرونا وایروس په وړاندې قرارلري او دهغه په مخنیوي لګیادي او ایران اوچین بیا په ډېره چوپتیا سره دومره مهم پرمختګ وکړ،دکتونکوپه نظراوس امریکا سیوا ددینه بله چاره نلري چې بندیزونه لګول اوګواښونه ورکول شروع کړي خوعملاً نه امریکا اونه هند ددې وړتیا لري چې دایران اوچین لپاره لویې ستونزې پیداکړای شي .

ددې تړون به ډېرپراخ اوترلري پورې نتایج ښکاره شي زکه د تړون چې کوم تفصیلات خپاره شوي دي هغه

تر ګټوبرخوغځېدلې دي اوپه راتلونکو۲۵ کلونوکې به ترنورو برخوهم وغځول شي.

تردې پورې چې ښکاري داسې ایران اوچین به ډېرنیږدې ملګري شي چې په دې سره به ضرورهندوستان له یواځیتوب سره مخ شي ممکن دچین او ایران ترمنځ دانوې دوستۍ اسراییل لپاره هم دزغم وړنه وي اوپه اړه یې خپله ناخوښي وښیي.

بل داسې معلومېږي چې هرڅومره امریکاپه افغانستان کې خپله بستره ټول کوي اوخپل پوځیان وباسي چین او دسیمې ګاونډي هیوادوپه خولو کې لاړې تیرېږي،اودامریکا دخوښې پرته یوبل ته نږدې کېږي ترونونه لاسلیکوي .

په دې ترون باندې دامریکا لخوا بندیزونه هم شاید زیات تاثیر ونلري زکه ددینه وړاندې دامریکایي بندیزونوپه وجه په ایران کې بهرنۍ پانګونه بیخې کمه شوې وه اوس چې دچین لخوا هلته نوې پانګونه شروع شي نو دایران اقتصاد به په پښوودرېږي، دیادولو وړده چې نن سبا په نړۍ کې چین هغه هیواد دی چې ترټولو زیات خام تېل اخلي او ایران لپاره چین له دې پلوه ارزښت لري چې یوخوډېرو تېلوته ضرورت لري اوبل ایران ته دجغرافیې له پلوه هم لنډ پروت دی.

بل داسې معلومېږي چې هرڅومره امریکاپه افغانستان کې خپله بستره ټول کوي اوخپل پوځیان وباسي چین او دسیمې ګاونډیو هیوادوپه خولو کې لاړې تیرېږي، او دامریکا دخوښې پرته یوبل ته سره نږدې کېږي خپلمنځي ترونونه لاسلیکوي.

اوس په دې ترون سره به چین ته په یوه سیمه کې دوه آبې بندرګاوې په لاس ورشي دګوادر ترڅنګ چاه بهاربه هم په لاس ورشي هرچې افغانستان دی دهغه لپاره هم امتحان دی چې دامریکا اوهند سره درېږي اوکه دچین او ایران سره؟ دابه راتلونکی وښیي داسې ښکاري چې روسیه به هم دچین او ایران سره ودرېږي په ورته ډول دسیمې نور هیوادونه هم شاید دچین اوایران دترون څخه ملاتړو کړي.

په مجموع کې دسیمې دهیوادونو ترمنځ خپلمنځي اقتصادي ملګرتیاوې اوشراکتونه دسیمې په امنیت اوثبات باندې هم مثبت اغېز درلودلی شي ،پکاردی دسیمې نورهم هیوادونه ځانونه ددې پرځای چې دامریکا اویانورو لري پرتو قوتونو شریکان اوملګري کړي باید دمنطقې هیوادونوسره اقتصادي شراکتونواوملګرتیاوو ته ترجیح ورکړي او په دې لړکې ټولوته دچین او ایران دانوی ګام یو ښه مثال دی . پای

ای ابو بکره!

ابو بکر الصدیق (رضي الله عنه) به هر سهار د لمانځه نه وروسته د مدینې منورې نه بهر ووت، څوک نه پوهیدل چې چېرته ځي، د حضرت عمر الفاروق (رضي الله عنه) ورته اند ېښنه شوه چې دی به څه کوي، یوه ورځ یې تعقیب کړ، ویې لیدل چې یو کور ته ننوځي او لږ وروسته بیرته راوځي. کله چې ابو بکر الصدیق (رضي الله عنه) له کوره راووت او لاړ، حضرت عمر فاروق ورغی. په کور کې یې یوه زړه ښځه ولیده، په دواړو سترګو ړنده وه او په ډېر کمزوري حالت کې وه. حضرت عمر رضي الله عنه ترې پوښتنه وکړه چې دغه سړی دلته د څه لپاره راځي؟ ښځې ورته وویل: زه یې نه پیژنم، خو هر سهار راځي، کور راته جارو کوي، ډوډۍ راته تیاروي او بیرته ځي.

حضرت عمر فاروق چې دا خبره واورېده، ځای په ځای کېناست، سخت یې وژړل او ویې ویل: «ای ابو بکره! هغو خلیفه ګانو ته دې څومره ستړیا جوړه کړه چې تر تا وروسته راځي!»

مفتي محمدگل سعید

د مظلوم آه



عبد الله طاهر چې کله د خراسان امیر ؤ، او دارالحکومت یې نیشاپور کې ؤ. نو یو آهنگر له هرات نه نیشاپور ته په سفر لاړ او یو څو ورځې یې هلته خپل کاروبار کاوه. بیا له خپل اهل وعیال سره د ملاقات په هوډ خپل وطن ته روان شو. آهنگر د شپې سفر پیل کړ او د خپل کور په لور روان شو. په دې ورځ کې امیر خپلو عسکرو ته امر کړی ؤ چې د ښار د لارو ساتنه وکړئ او مسافرو ته تکلیف ونه رسیږي. اتفاقا داسې وشو چې په دې شپه عسکرو غله ونیول او د خراسان امیر ته هم دا خبر ورسید. لیکن ناګهانه په دې غلو کې یو غل وتښتیده؛ عسکر وویریدل چې که امیر خبر شو نو موږ ته به سزا راکړي. عسکر د غله په لټه کې ؤ، چې ناګهانه یې نظر په آهنګر پریوت. عسکرو د خپل ځان د ساتنې په خاطر دا بې ګناه سړی ونیوه او له نورو غلو سره یې هغه هم یو ځای محبس ته روان کړ. او بیا یې له هغو سره یو ځای د امیر حضور ته پیش کړ.

د خراسان امیر پوهه شو چې دا ټول غله دي او د همدې امله نیول شوي دي، نو ځکه یې تفتیش ونکړ. نیک سیرت آهنگر پوهه شو چې اوس خو معامله ځما یواځې له الله سره ده او هغه به یې حل کوي او زما مقصد هم د هغه له کرم څخه حاصلیږي. نو اودس یې وکړ او د محبس په یوه کونج کې په لمانځه ودریده . دوه رکعته لمونځ یې وکړ، بیا یې سر په سجده کیښود . د هرو دوه رکعتونو نه وروسته یې سر په سجده کیښود او په ډیر عاجزۍ سره یې دعاګانې وکړې. او په دعا کې یې وویل: ای زما مالکه! ته ښه خبر یې چې په ما کې قصور نشته.

کله چې شپه شوه عبدالله طاهر په خوب کې ويني چې څلور پهلوانان سړي دده کټ رااخلي او په سختۍ سره يې له څلور واړو پښو څخه نيسي او پړمخې يې غورځوي، چې په همدې وخت کې له خوب نه راويښ شو، فورا يې (لاحول ولاقوة الا بالله) وويل، بيا يې اودس وکړ او دوه رکعته نفل لمونځ يې ادا کړ. رب ته بادشاه او ګدا ټول د خپلو پريشانيو د حل لپاره رجوع کوي. بيرته دوباره ويده شو بيا يې هماغه خوب وليده. دا عمل ورسره څلور ځله وشو د خراسان امير ددې واقعې په ليدلو سره زيات وويريده او دا يقين يې پيدا شو چې ضرور د کوم مظلوم آه راپسې دی.

نکند صد ہزار تیر و تبر

آنچہ یک پیرہ زن کند بہ سحر

ای بسا نیزۂ عدد شکناں

ریزہ گشت از دعاے پیر زناں

د خراسان امير په همدې شپه کې د محبس مشر راوغوښت او پوښتنه يې ورڅخه وکړه چې رښتيا ووايه! تاسې خو به کوم يو مظلوم نه وي بندي کړی، د محبس مسئول وفرمايل: عالي جناب! نه پوهيږم چې مظلوم به څوک وي؛ ليکن دومره خبره ده چې په محبس کې يو کس شته دی چې ټوله شپه يې ژړاګانې کولې او لمونځونه يې اداکول او په ډيرې عاجزۍ سره ي دعاګانې کولې. امير حکم وکړ چې دا کس فوراً را حاضر کړئ . کله چې دا کس د امير په مخ کې حاضر کړی شو . نو امير دده د معاملې تحقيق شروع کړ. بالاخره ورته معلومه شوه چې دا سړی بې ګناه

ده. امیر ورته معذرت وړاندې کړ او ورته ویې ویل: چې له ماسره به درې خبرې خامخا تسلیموې:

۱ـ ماته به معافي کوې.

۲ـ زما لخوا نه به زر دیناره قبلوې.

۳ـ چې کله هم څه قسم پریشاني درته ورسیږي ، نو ماته به راځې ددې لپاره چې زه درسره همکاري وکړم.

آهنګر ورته وووېل: ستا لومړۍ خبره چې ماته معافي وکړه، نو ما ته معاف کړی یاست. او هر څه ستا دوهمه خبره چې ستالخوانه زر دیناره قبول کړم، نو هغه هم ماقبول کړل. لیکن کومه دریمه خبره چې تا وکړه چې ماته به خپل مشکلات وړاندې کوې، نو دا له ماڅخه نشي کیدای.

امیر ورته وویل: دا ولې؟ نو دې سړي ځواب ورکړ چې هغه خالق او مالک ذات چې زما په څیر فقیر لپاره یې د ستا په څیر د بادشاه تخت په یوه شپه کې څلور ځله په بل مخ واړاوه، نو هغه ذات پرېښودل او خپل مشکل بل چاته وړاندې کول د ژوند له اصولو نه خلاف کار دی. زما هیڅ داسې مشکل نشته چې د لمانځه له اداکولو سره حل شوي نه وي. یعنې ځما ټول کارونه له لمانځه سره پوره کیږي نو ماته د بل چا دربار ته د تللو اړتیا نشته.

نجیب وتښتید !!

هغه طالب چې د وژونکو تدبیرونو او ګردابونو نه سالم او فاتح راووت هغه پکې د پیغمبر د سیاسي ژوند نه د اګاه طالب ژور درک و چې دا ټول پړاونه یې په یوه تنګه جغرافیه کې په متانت او تحمل سره وزغمل.

د رسول الله په شمول ټول صحابه کرام له ډیرو تعذیبونو او تکالیفو وروسته مجبور شول چې د مدینې په لور هجرت وکړي ځکه د مکې ځمکه پل پر پل سور اور ګرځیدلې وه.

خو د وخت په تېریدو سره داسې تحول راغی چې د مکي مشرکین په ځغاسته او د خدای پیغمبر پکې د تکبیر په داسې بدرګو؛ چې د تېر پېړ اسلام د تطبیق په تصور کې چا دا درک هم نشو کولای.

د طالب تصویر هم په یوه اړخ کې همداسې دردونکی انځور له ځاننه سره لري برخلیک یې دومره وینه زبیښونکی و چې آن د طالب په تصور کې د عادي ډیرور افغان لپاره د استوګنې ځای هم هغه لیرې وحشي جزیره وه.

اوس هغه وخت رارسیدلی دی چې د نجیب ننګیال په څېر د غرب کثیف مزدوران د خپل ژوند د تضمین لپاره د خپلو بادارانو په سوړو ننوځي.

دا د تاریخ په پیر کې له پتمنو پړاونو څخه یو پړاو دی چې د اشغال پر ضد مبارزینو مقدر سرلوړي او د ولسونو لخوا داسې تقدیریږي چې د ډیرو لپاره یې تصور هم ناشونې دی خو برعکس د کفر په نیلی سواره غلامان سپک او رټل کیږي. و قل جاءالحق و زهق الباطل ان باطل کان زهوقا



۲۱ مه پېړۍ او

د چین بې ساري نظامي پرمختګونه

حسن زوی

په ۱۸ مې پېړۍ کې دبرتانې اوچین ترمنځ درامنځته شوي جنګ پرمهال دچین دفوځ شمېر نېږدې ۲۲۵ زرو ته رسېدلو خوبیایې هم د برتانې د۱۹زره مجهز فوځ په مقابل کې ماتې وخوړه اوچین اړ شو چې برتانې ته سرټېټ کړي ؛ دا پېړۍ چینایانو دځان لپاره دذلت پېړۍ بلله.

په ۲۰مې پېړۍ کې چې په چین کې کمونستي انقلاب رامنځته شو نو چینايي فوځ تر ډېره حده ځواکمن شو؛ او د ډېرو کورنیو جنګونو له امله چې چینايي فوځ یوتجربه کار او دجنګي فنونو سره اشنا شوی و نو په ۱۹۶۲م کال کې یې دهند سره په رامنځته شوي جنګ کې په ډېرې اسانۍ هند ته تاریخي ماتې ورکړه ؛ هندي فوځ دهماغې ماتې نه پس دچین دفوځ نه داسې مرعوب شو چې تر ننه پرې دچین دفوځ خوف اورعب پروت دی او د ۲۰۲۰م کال په ۱۵ مې نېټې چې په لداخ کې ددواړو لوریو ترمنځ شخړه رامنځته شوه چینايي فوځیانو په کاڼو اوکوتکونو دیو افسر په ګډون ۲۰ هندي فوځیان ووژل.

وړاندې دچین فوځ په څو سترو واحدونو ویشل شوی وچې هرواحدیې زیات خپور او حرکت یې سست و خو له تېرو ۵ کلونو راهیسې چین په خپل فوځي نظام کې دبدلون راوستلو په لړ کې دخپل فوځ واحدونه کوچني اوپه ترټولوعصري وسلوسمبال کړل ترڅو یې خپراوی کم ، حرکت یې سریع او دجنګ میدان کې ددښمن سره یې مقابله مؤثره شي.

چین تر ډېرې مودې دجاپان اولویدیځ تر استعمار لاندې پاتې شویدی خوچین پخپله کله دچاپرضد تجاوز ندی کړی نو ځکه ترې ګاونډیان او دسیمې هېوادونه دا وېره نه لري چې په راتلونکي کې به استعماري ځواک وګرځي .

دروانې ۲۱ مې پېړۍ په پیل کې چین په سترو اقتصادي ځواکونو کې داخل شوی و خو کله یې دخپل نظامي ځواک دښکاره کولو کوښښ نه وکړی ځکه چې دچین په دولتي پالیسۍ کې داسې لیکل شوي (چین یوهېوادهم په سیاسي ، نظامي ،اقتصادي اوټولنیز ډول تر خپل واک لاندې راوستل نه غواړي ؛ دچین فوځي ټولې هلې ځلې یواځې دفاعي دي چې دا یې اساسي حق دی)

چین په جبوتي کې فوځي اډه جوړه کړیده خو هغه هم ددفاعی هدف لپاره ده ؛ دچین مدعا داده چې دا یې ددې لپاره جوړه کړیده چې په بحر هند کې یې دتجارتي هلو ځلو حفاظت وشي اوڅوک ورته ضرر ونه رسوي .

سره له دې چې چين تر ډېره حده د اقتصاد ترځنګ په فوځي لحاظ هم پياوړی شوی او خو د جنګونو نه دځان ساتنې پر پاليسۍ ټينګ ولاړ او تر دې چې د۲۱ مې پېړۍ په دوهمې لسيزې کې امريکا چين ونګاوه نو چين محسوسه کړه چې اوس دجنګ نه دځان ساتنې دپاليسۍ وخت تېر دی نو ځکه يې دخپل اقتصاد ترځنګ خپلې فوځي پياوړتيا ته هم په بې ساري ډول پاملرنه زياته کړه.

په تېره چې بيا شي جن پنګ دچين ولمشر شوی نوچين دخپل فوځ دښه مجهز کولو لپاره ډېرجامع او وسيع پلان په کار اچولی دی ځکه چې امريکا پدې بريالۍ شويده چې دچين پرضد اتحاد کې هند ، جاپان ، تايوان او آستراليا ورداخل کړي چې دا د چين لپاره ډېره دتشويش وړ خبره ده .

تايوان ،جاپان او آستراليا درې واړه دچين سره ګڼې ستونزې لري خويو هم دچين سره ښکر په ښکر کېدل نه غواړي ؛ په اوس وخت کې هند دچين لپاره اصل ستونزه ده ؛له ۲۰۱۴م کال نه چې پر هند دنريندر مودي په مشرۍ کې متعصب هندوان مسلط شويدي نو دهند بهرنـي سياست کې هم تغير راغلی دی ؛ نريندر مودي او ډله يې په هندوانو کـې دخپـل محبوبيـت پيـداکولو پـه موخـه دخپـل نظـامي ځواک په اړه دمبالغې نه کار اخلي او داسې ښکاره کوي لکه چې کمزوري ګاونډي هېوادونه له ستوني تېرولای او دچين په څېر دقوي هېواد نه ځايونه نيولای يا لږ تر لږه ورسره مقابله کولای شي؛ هند دچين سره کابو ۴زره کيلو متـره ګـډه پولـه لـري چـې د ۲۰ ځـايونو پـه اړه ددواړو هېوادونو ترمنځ نزاع شتون لري .

پدې ۲۰ ځايونو کې دواړه هېوادونه دخپلې سلطې دثابتولو اومضبوتولو لپاره سرکونه پلونه اوفوځي چونې جوړوي ،په همدې لړ کې يو پر بل باندې دحدودو نه دتجاوزتورونه هم لګوي چې له امله يې کوچني نظامي برخوردونه رامنځته کېږي لکه دجون په ۱۵ مې نېټې چې په لداخ سيمه کې ددواړو فوځونو ترمنځ شخړه رامنځته شوه ؛چينايي فوځيانو دټوپک يو ډز هم ونکړ په کوتکونو اوتيګو يې ديو افسر په ګډون ۲۰ هندي فوځيان ووژل.

خو دا د هند ستره اشتباه ده چې چين ورسره داړيکو دښه کولو کوښښونه کوي اوپه پرله پسې ډول له هند نه غواړي چې حالات دې نه خرابوي خو د مودي دولت دخپل محبوبيت دپيداکولو او دغرب د خوشالولو لپاره دنورو ګاونډيانو په څېر چين سره هم دروابطو خرابولوته پلمې ګوري او پرځای ددې چې ددې ستر ګاونډي هېواد نه ددوستۍ په صورت کې ګټه پورته کړي ورسره دښمني کوي حال داچې چين يوازې په اقتصادي ډګر کې نه بلکې په نظامي ډګر کې هم له هند نه ډېر وړاندې دی؛ چين اوس دخپل نظامي قوت دپياوړ تيا لپاره انقلابي اقدامات کوي او د دې لپاره په مليادرونو ډالر مصرفوي.

هند په تېرو ۷۳ کلونو کې پدې ونه توانېد چې په خپل هېوادکې دفقر کچه راکمه کړي بلکې غريب خلک پکې لازيات غريب او بډای پکې لازيات بډای شول.

دملګرو ملتونو له لورې په تازه خپرې شوې سروې کې راغلي دي چې دهند ۲۸ سلنه نفوس يانې کابو۵ سوه مليونه انسانان دفقر دحالت سره مخامخ دي چې ددوئ بنسټيزې اړتياوې نه پوره کېږي؛ په دوئ کې زياتره دځنباک دپاکو اوبونه بې برخې دي، وګي بيده کېږي اوزړې جامې اغوندي خو چين په تېرو ۴۰ کلونو کې دفقرنه دخپل ولس په راويستلو وتوانېد.

دامريکا جي ډي پي(دخپلو ملکي عوايدونه ترلاسه شوې پيسې) ۲۱ ټريليونه ډالر دي؛ چين په ټولې نړۍ کې دامريکا نه پس لويه يانې ۱۴ ټريليونه ډالر جی ډي پي لري خوهند چې د نړۍ پنځم ستر اقتصاد دی جي ډي پي يې ايله ۲۵/۳ ټريليونه ډالر ده يانې دچين دځلورمې

برخې نه هم کم دی ؛ د امریکا نظامي بودیجه ۷۲۱ ملیارده ډالر ده؛ په اوس وخت کې دامریکا نه پس دچین فوځي بودیجه په ټولې نړۍ کې تر ټولو ستره یانې ۲۶۱ ملیارده ډالر ده.

دهند فوځي بودیجه ۷۱ ملیارده ډالر ده ؛ داپه نړۍ کې تر ټولو ستره دریمه فوځي بودیجه ده خو بیا هم دچین دفوځي بودیجې دریمې برخې ته نه رسېږي او مهمه داچې د ا بودیجه په هندي ولس ډېر ستر بوج او په فقر کې یې دزیاتوالي د راتلو یوستر لامل دی .

دچین ولسمشر شی جنګ پنګ په فوځ کې دتبدیلیو په لړ کې دځمکني فوځ شمېر ددې لپاره د۱۳ لکو نه لس نیم لکو ته راکوز کړچې دکم شمېر فوځي ډلګیو کې تېزي زیاته او په حرکت کې یې اسانتیا وي؛ خودشمېر دکموالي سره یوځای یې په موډرنې ټیکنالوژۍ اوعصري وسلو دفوځ سمبالولو ته ډېره توجو کړیده ؛اوس دچین فوځ په غرونو کې دسفر او اوسېدو ترټولو زیاته وړتیا لري.

همداراز دچین سمندري ځواکونه هم دتېرو۶ کلونو راهیسې ډېر ځواکمن شویدي ؛چین اوس په ټولې نړۍ کې تر ټولو زیات جنګي جازونه لري ؛ چین د طیارو وړونکو ستروکښتیو ،جنګي سمندري جازونو او اوبتلونو جوړولو ته ډېره توجو کړیده چې ورسره په بحر الکاهل اوبحرهند کې دخپلو ګټو دساتنې او دخپلو حریفانو دمقابلې پوره جوګه شویدی.

دچین لویه تبدیلي د وسلو جوړولو په صنعت کې خودکفا کېدل دي ؛ په ماضي کې چین دنورې نړۍ نه وسلې اخستلې خو دچین دولسمشر دسترو تبدیلیو په لړ کې هغه دساینس اوټیکنالوژۍ پرمختګ ته ۱۵سوه ملیارده ډالر مختص کړل ،نتیجه داشوه چې اوس چین ټولې وړې اولویې وسلې پخپله جوړوي ؛ په ګڼو هېوادونو وسلې پلوري او اوس دامریکا نه پس دنړۍ تر ټولو ستر وسله جوړونکی هېواد ګرځېدلی دی.

دچین دفوځ په اړه دېرېکړو اختیاردمرکزي فوځي کمیسون په لاس کې دی چې دچین ولسمشرشی جن پنګ ددې کمیسون مشر دی او دا دچین لومړی ولسمشر دی چې ددې کمیسون مشري کوي ؛ پدې توګه دفوځ اصل حاکم دچین ولسمشر دی.

ولسمشر دچین توغندویې نظام ډېر فعال اوموډرن کړیدی؛ ډی ایف ۱۷ اود هوا نه په هوا کې هدف ویشتونکي پي آی ۲۱ یې ډېر پرمختللي توغندي دي ؛ چین اوس دخپل دې پرمختللي توغندویې نظام پرمټ په ډېرې اسانۍ دخپلو ټولو حریفانو مقابله کولای شي ؛ ولسمشر په ۲۰۱۵م کال کې دراکټ فورس په نوم دخپل توغندویې نظام لپاره دفوځ مستقله څانګه جوړه کړه چې ورسره دټولو فوځیانوشمېر ۱۲۵زرو ته رسېږي .

همدا راز ولسمشر شی جن پنګ په ۲۰۱۵م کال کې د اسټرټیجیک سپورټ فورس په نوم هم یو مستقل فوځ جوړ کړ چې شمېر یې ۱۵۰ زرو ته رسېږي ؛ دافوځ به دجنګ حالت کې ددښمن ستراتیجیک اهداف په نښه کوي ؛ عصري وسایل به یې مفلوجوي او په رواني لحاظ به دښمن ته ماتې ورکوي ؛ په ټولې نړۍ کې یو هېواد هم داسې خصوصي فوځ نه لري .

همدا راز یې د۲۰۱۶م کال په جنورۍ کې دلاجسټک سپورټ فورس په نوم هم یو ځانګړي فوځ جوړ کړی چې دجنګ او امن دواړو حالتونو کې فوځ ته دوسلو اوجنګي مهماتو رسول یې مسئولیت دی ؛ همدا فوځ وچې اوس یې په لداخ کې درامنځته شوي جنګي حالت پرمهال په ډېرې تېزۍ خپل فوځ ته وسلې اوجنګي مهمات ورسول.

دچین پورته یادې شوې انقلابي تبدیلۍ که په پام کې ونیول شي نودا ویل به مبالغه نه وي دا هېواد به په راتلونکویو څوکلونو کې که دامریکا سره برابر نه وي نو دامریکا نه پس به دنړۍ ترټولو ستر نظامي ځواک شي .

له شیخ الحدیث مولوي محمد عمرجان اخندزاده صاحب

سره د څرک مجلې ځانګړې مرکه

د څرک مجلې درنو لوستونکو! د هیواد له نومیالیو علماء کرامو او مشایخو سره د علمي، جهادي، ټولنیزو او شخصي مسایلو په اړه د مرکو په لړ کې مو دا ځل له نامتو عالم، شیخ الحدیث، خلیفه حضرت مولانا محمد عمرجان اخندزاده صاحب سره مرکه کړې؛ چې لوستلو ته یې تاسو رابولو.

۱ - پوښتنه: ډېر قدرمن شیخ صاحب! السلام علیکم ورحمة الله وبرکاته!

د مرکو د معمول مطابق که شفقت وکړئ لومړی د خپل ژوند مختصر معلومات له درنو لوستونکو سره شریک کړئ، خوشحاله به شو، چې دې فاني دنیا ته مو چیرته او کوم کال سترګې رڼې کړې، ابتدایي، منځنۍ زدکړې مو چیرته ترلاسه او بالآخره فراغت مو چیرته وشو ؟

= شیخ صاحب: الحمدلله الذي خلق الانسان واکرمه، وعلمه البیان واخلفه، والصلوة علی من جعل الله افضل الانبیاء، وامته خیر الامم، وعلی اله واصحابه کاشفی الظلم وبعد.

ستاسو د پوښتنې تر ځواب ویلو مخکې د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسون د ټولو غړو او همکارانو منندوی یم چې په دې سختو حالاتو کې مو خپل قلمي جهاد ته په ښه توګه ادامه ورکړې، او خصوصا د څرک مجلې د کارکوونکو څخه ډېره مننه کوم، چې ما ته مو له علماء کرامو سره د مرکو په دې زرینه او ارزښتناکه لړۍ کې ځای راکړ، د ژوند په ټولو چارو کې مو سرلوړي او بریالي غواړم.

د خپل ځان د پیژندنې په اړه به دومره درته ووایم: زما نوم محمدعمرجان د مرحوم حضرت مولانا عنایت الله صاحب چې مشهور په اخنداده صاحب غبرګي، زوی او د مرحوم حضرت مولانا عبدالرزاق صاحب لمسی په کال ۱۳۴۴ هـ ش، کې مې د زابل ولایت د شاجوی ولسوالي په غبرګي کلي دې نیمګړې نړۍ ته سترګې وغړولې.

ابتدائي زدکړې مو د والد صاحب تر څارنه لاندې د نوموړي له شاګردانو څخه پیل کړې، له هغه وروسته چې کله د ثور کرغېړن او منحوس انقلاب رامنځته شو، پر افغانستان د کمونستانو واکمنې پیل شوه، دیني مدارس او مرکزونه تعطیل شول، نو مې د مرحوم والد صاحب څخه درسونه پیل کړل، ترڅو چې په کال (۱۴۰۴هـ ق) مطابق (۱۳۶۲ هـ ش) کې پاکستان ته په هجرت کولو اړ شو، له هغه نه وروسته مو د هجرت په دیار کې په بېلابېلو مدارسو کې د مروجه فنونو د زدکړو لړۍ پر خپل والد صاحب پای ته ورسوله، په (۱۴۱۱ ه ق) مطابق (۱۳٦۹ ه ش) د دورة الحدیث څخه فارغ شوم، له دستاربندۍ وروسته مې پرته له ځنډه د تدریس لړۍ پیل کړه، چې آن تر اوسه په دې علمي خدمت بوخت یم، په ۱۴۳۴ه ق مدرسه نورالمدارس کې رب متعال د حدیثو د خدمت توفیق راکړ، چې حالاً هم د نبوي احادیثو په همدې چوپړ بوخت یم.

۲ - پوښتنه: ستاسو د مرحوم والد، استاذکل غبرګي اخندزاده صاحب د علمي، جهادي او اجتماعي ژوند او خدمتونو په اړه هم، که لږ رڼا واچوئ؛ خوشحاله به شو؟

= شیخ صاحب: زموږ والد رح یو جهادي، علمي شخصیت او داخلاص یوه نمونه وه، چې هیڅکله یې د طالبانو په روزنه کې کوم تقصیر نه دی کړی، حتی چې د ژوند په اخرنی شپږو کې د سختې ناروغۍ په حالت کې هم تر درسګاه ځان رساوه ، او د نزع تر ورځې پورې یې سبق قضاء نه کړ، او والد صیب مرحوم به علماوو ته دا خبره په تکرار سره توصیه کوله چې:

" یو څوک چې خپل خراب ساعت د جوړونې لپاره ساعت ساز ته ورکړي، او هغه یې په جوړولو کې اخلاص ونکړي، ساعت ته یې لا تاوان ورسوي، نو یقیني خبره ده چې دا د مالک د خپګان لامل ګرځي، انسان چې د الله تعالی، مکرم محترم مخلوق دی؛ دا چې کله موږ ته حواله شي، او موږ ورسره د لاپرواهي او بې باکي چلند وکړو، نو متعال رب به دا عمل څومره ناراضه کړي"

نو د همدې اخلاص پایله وه چې زموږ د والد ماجد له شاګردانو څخه با استعداده او د ټولنې په کار خلک جوړ شول، رب متعال دې دا اخلاص قبول او صدقه جاریه وګرځوي، زموږ والد صیب پر ښه علمیت برسېره سیاسي درایت لرونکی جهادي شخصیت هم و، کله چې په ۱۳۵۷ ه ش، کې د نور محمد ترکي د واکمنۍ اعلان وشو، نو ټول شاګردان او متعلقین

يې تنبيه کړل چې دا کس زه پېژنم، دا کمیونسټ دی، نور به هرڅه پرېږدو، او د جهاد سنګر په تود ساتو، او د کمیونستي رژیم په خلاف يې د خفیه تحرکاتو پیل وکړ، ترڅو چې يې د سیمې خلګ له کورونو څخه د وسلو راغونډولو ته وهڅول، يو جهادي جبهه يې جوړه کړله، او د حکومت هغه عمومي لاره چې سیمې ته راغلې وه، هلته يې خزې (سنګرونه) جوړ کړل، چې آن تر اوسه يې هم آثار شته. زموږ والد صیب چې د خپل فراست او سیاسي بصیرت لمخې ډېرې ربښتونې پېشګویانې درلودې، يو له هغو دا وه، چې د جهاد په دوران کې به والد صیب ویل، چې روسان به د ماتې سره مخ شي، او د مجاهدینو جهاد به بریا مومي، د جهاد په صفونو کې طالبان او صالحان به ډېر شهیدان شي، او څه چې پاته شي هغه به بې وسه شي، قدرت به ناپوهو عوامو ته په لاس ورشي، بیا به ملوک الطوائفي او انارشي پیل شي، نو تر هرڅه مهمه دا ده، چې نوي نسل ته په مفتوحه سیمو کې حجرې او مدرسې جوړې شي، او دا به يې ویل چې طالبانو ته د دې جاهلو قومندانانو په مقابل کې هرو مرو ضرورت پیدا کیږي، نو ځکه يې د ولایت په ټولو ولسوالیو کې د حجرو او مدارسو د جوړښت ګام واخست، حتی چې ګاونډیو ولایتونو ته يې هم سفرونه وکړل، او د والد صیب د خپل اعتبار او رسوخ له امله دا کار ډېر بریالی و ، بالاخر همداسي وشول، چې قومندانانو پاټکونه جوړ کړل، ډول ډول ظلمونه يې شروع کړل، چې بیا له همدې مدارسو څخه طالبان را ووتل، او يو خوځښت پیل شو، او دا اسلامي تحریک اصلا زموږ له ولسوالۍ څخه شروع شو، وروسته له کندهار څخه عمومي تحریک پیل شو.

د والد صیب بله پېشګوئي دا وه، چې د تحریک تر پیل کېدلو يو کال وړاندې د افغانستان د علماؤ په استازولي د افغانستان لپاره د ملل متحد استازی محمود مستري دا پوښتنه وکړه چې: افغانستان ته سوله او آرامي څنګه راتلای شي، د دې پوښتنې د ځواب په اړه والد صیب وویل، چې یوازینی حل لاره دا ده چې: د واک واګې او چارې د افغانستان علماؤ ته وسپارلي شي، ځکه چې د دې هیواد خلګ تر هر چا زیات علماؤ ته معتقد دي، او همداسي وشول چې په ډېر لږ وخت کې د علماؤ په قیادت کې د افغانستان ډېرې سیمې د امارت تر واکمنی لاندي راغلې، حضرت والد صیب د تحریک په ابتداء کې په کندهار، هلمند، زابل، غزني کې تحریک ته د جلب لپاره د برسر اقتدار قومندانانو سره ملاقاتونه کول، بیا څه وخت په کندهار کې د ملي امنیت د ریاست پر وظیفه پاتې شو، د کابل له فتحې وروسته يې د سترې محکمې د کفیل په حیث وظیفه ادا کوله، وروسته يې امیر المؤمنین ته د یوې لویې جهادي مدرسې جوړولو وړاندېز وکړ، چې همدا غوښتنه يې ومنل شوه او مدرسې باندې کار پیل شو، چې حضرت والد صیب د امارت تر سقوطه په همدې مدرسه کې د تعلیم او تدریس په چارو بوخت و.

۳- پوښتنه: څرنګه چې ستاسو والد مرحوم اخندزاده صاحب، يو بابصیرته عالم او د ټولو خلکو استاذ و؛ نو ستاسي په ګډون د خپلو اولادونو او لمسیانو په باب د ده تمنا او ارزو څه وه، چې څنګه زدکړې وکړي او څه ډول شخصیتونه ترې جوړشي؟

= شیخ صاحب: زما والد صېب یوازې خپلو اولادونو ته نه بلکې د هر مسلمان نسل ته يې توجه وه او دا يې د زړه هیله وه چې د مسلمان بچی باید يو با استعداده شخصیت وي، جاه طلبه، عیش پرست نه وي، له غربت سره اشنا وي قُوت لایمُوت د ځان لپار کافي وګنيي، له بې ګټې اختلافاتو، بې ځایه مناظرو څخه ډډه وکړي او ځان په دیني زدکړه او تربیه باندې بوخت وساتي.

۴- پوښتنه: که د خپلو څو تنو هغو استادانو نومونه راته واخلئ چې پوهیږی علمي فیض او برکت مو زیات ورڅخه اخیستی دی او د هغوی خلوص او لورېیني مو اوس هم په زړه او ذهن کې نقش دي ؟

= شیخ صاحب: زما د ظاهري علومو استاذ یواځې خپل والد صېب و. د طریقت او تصوف مربي مې حضرت شیخ المشایخ رحمه الله دی چې د کستیم په خلیفه صیب مشهور و او ده راته د طریقت اجازه کړې ده، نو څه چې راته فیض شوي او یا مو څه زده او زدکړي دي له همدې دوو استاذانو څخه مې اخذ کړي دي .

۵- پوښتنه: د تدریس په اړه که راته ووایی، تدریس مو تر فراغت وړاندې پیل کړی او که وروسته؟ ویل کیږي چې شاګردان مو له درس ویلو ډېر خوشحاله دي، نو د دې کامیاب تدریس راز مو په څه کې وو (مطالعه ، د استاذانو دعاګاني او که بل څه) ؟!

= شیخ صاحب: باید ووایم چې، تر فراغت وړاندې مې هم د خپلو زدکړو تر څنګ څه نا څه تدریس کاوه. خو د تدریس په ډګر کې مې د بریا مهم لامل دعاوې وې، کله چې فارغ شوم پر خپل ځان مې د درس کولو باور کم و خو ډېرې دعاګانې به مې کولې چې لوی رب راته د ښه تدریس کولو توفیق راکړي او الله تعالی مې همدا دعاوې قبولې کړې.

دوهم آساسي لامل يې، زه فکر کوم دا و چې: دا يو منلی شوی حقیقت دی چې اولاد ته د پلار تګلاره تر هر څه خوښه او مهمه وي دا چې زما والد صېب د تدریس په میدان کې نه ستړې کېدونکې هلې ځلې او اخلاص کاوه، د ده دا عمل د دې لامل شو چې زه يې ښې مطالعې ته وهڅولم او د تدریس سره مې بې کچې مینه پیدا شوه چې له امله يې تکړه شاګردان پرې راغونډ شو.

۶- پوښتنه: د دارالعلوم دیوبند اړوند وفاقي مدرسو او جامعاتو، د فنونو ډېری کتابونه له نصابه ایستلي، دوی وايي چې د منطقو، فلسفي او نورو

فنونو ځیني کتابونو لوستل په موجوده وخت کې بې ګټې دی، وخت ضایع کوي، په دې اړه ستاسي نظر څه دی؟

= شیخ صاحب: د وفاق المدارس نصابِ تعلیم، د سترو شیوخو او تکړه علماوو د فکر په پایله کې مختصر شوی دی، کېدای شي چې ډېر مصالح پکې نغښتي وي خو تر څنګ یې ځینې تاوانونه هم کړي دي، هغه دا چې په پخواني نصابِ تعلیم کې د ېبلا بېلو فنونو ګران کتابونه شامل وو چې په لوستلو سره یې د زدکوونکو استعدادونه او صلاحیتونه قوي کېدل یعنې د پخواني نصابِ تعلیم فارغ التحصیل بـه دا صلاحیت درلود چې قوي تصنیف وکړي، پخوانی عربي فتاواوې، تفاسیر مطالعه او ښه ګټه ترې واخلي. مګر اوسني نصابِ تعلیم، زدکوونکي د اذهانو له پلوه کمزوري کړل، د هغوی استعدادونه یې متحرک نشوای کړای چې له امله یې د نوي نصاب فارغ التحصیل له عربي فتاواوو او تفاسیرو کماحقه ګټه نشي-اخیستلای، فقط د معاصرو علماوو څخه او یا پخپله مورنی ژبه لیکل شویو کتابونو او رسالو څخه استفاده کوي، چې د لاسرسي چاره هم نن سبا ښه ورته آسانه شوې، نتیجه یې دا شوه چې د فتوا ورکولو په میدان کې نن سبا یو قسم ګډوډي ترسترګو کیږي، ځکه چې زیاتره مسایل پرته له تحقیقه بیانیږي.

۷- پوښتنه: هرکال زرګونه علمای کرام له مدارسو فارغیږي خو د تدریس او تألیف میدان ته ډېر لږ خلک تیاریږي؛ آیا تاسې دغه کار علمي انحطاط نه ګڼئ؟ او د نقص ځای یې چیرته وینی؟

= شیخ صاحب: هو! دا سل سلنه علمي انحطاط او تنزل دی د دې ناخوالې یو لامل ته مو وړاندې هم اشاره وکړه چې اوسني فارغ شوي علماء ډېر کمزوري دي او دا طبعي خبره ده چې کوم کس په یو کار کې کمزوری وي نو له هغه کار سره یې شوق او رغبت هم کم وي.

فکر کوم بل لامل یې دا دی چې: اوس د پخوا په پرتله مصارف، خواهشات او اړتیاوې ډېرې شوې چې د امامت او مدرسې په تنخوا او معاش هغه نه شي پوره کېدلای، ځکه خو نوي علماء د تدریس او امامت پر ځای نورو دنیوي کارونو ته لاس اچوي.

۸- پوښتنه: د خپلو تجربو په رڼا کې د اوس دور طالب العلمانو ته مو نصائح څه دي؛ چې څنګه له وخت څخه کماحقه استفاده وکړای شي؟ او څنګه له نامطلوبو عقایدو، نظریاتو او د مخربو کتابونو له مطالعې څخه ځان وساتلای شي.؟

= شیخ صاحب: دا چې وخت په ټولو نعمتونو کې ستر نعمت دی ځکه چې هر ډول قیمتي شی د وخت په وسیله لاس ته راتلای شي خو د نړۍ په هیڅ قیمت او څېز وخت نه شي تر لاسه کېدلای.

که موږ د خپلو اسلافو تاریخ وګورو نو پوه به شو چې هغوی څومره د وخت قدر کاوه او څومره ګټه یې ترې اخیستې د بیلګې په ډول: علامه عبد الحی لکنوي رحمه الله په ۳۹ کلنۍ کې وفات شوی او ده له همدې لنډ عمر نه دومره ستره ګټه اخیستې چې علماء د ده اړوند وایې چې: که د ده د تصنیفاتو پاڼې د ده د عمر پر ورځو وویشل شي نو پاڼې به یې د عمر تر ورځو ډېرې شي. همدا ډول نور علما د ده په شان حیرانووکي داستانونه او تاریخونه لري.

امام ثوري رحمه الله د وخت اړوند وایي چې: "من لعب عمره ضیع ایام حرثه و من ضیع ایام حرثه ندم ایام حصاده " او امام حسن بصري رحمه الله وایي: "یا ابن آدم انما انت ایام فاذا ذهب یوم ذهب بعضک "

حضرت اما شافعي رحمه الله فرمایي: د صوفیاء کرامو له مجلس او صحبت نه مې دوې خبرې زده کړې: چې یوه یې دا ده: "الوقت سیف فان لم تقطعه قطعک " په اوسني وخت کې د دې قیمتي او ستر نعمت د ضیاع مهم لامل ځیرک موبایلونه دي، که چیرې زدکوونکي د زدکړو پر مهال د ځیرک موبایل له کارولو ډډه وکړي نو د خپل عمر ډېرې ورځې او شیبې به یې له ضیاع نه ژغورلې وي او په دې برخه کې د مدارسو د منتظمینو ځانګړې پاملرنې ته اړتیا ده.د خواله رسنیو له پراختیا سره جوخت د باطلو عقایدو، پوچو افکارو او تخریبي کتابونو یو سیلاب هم را مات شو چې له امله یې ځوان کهول ورسره واخیست او فکراً یې یرغمل کړ.

زه ګمان کوم د دې ناخوالې د مخنیوی ځینې حللارې دا دي چې:

۱- ځوانان دې په خواله رسنیو کې د بې دینو او لا مذهبه خلګو له صحبت او ملګری نه لاس واخلي ځکه کله چې اذهان خام او خالي وي نو ژر نور فکرونه قبلوي او ترې متاثره کیږي.

۲- ځوانان دې د ملحدینو او مسلمان مبارزینو تر منځ مناظرې او مباحث نه ګوري ځکه ځوانان ذهناً خام دي او کیدای شي چې د بحث پر مهال مخالفې خبرې پرې اغېز وکړي. او نه دې د فروعي مسایلو اړوند مناظرې ځاري ځکه داسې مناظرې ډېرې ټولنیزې ستونزې زیږوي او باید د داسې مناظرو او بې ځایه مباحثو پر کنټرول جدي غور وکړل شي.

۳- ځوان کهول دې د ستر پیغمبر صلی الله علیه وسلم او صحابه کرامو سیرت په دوامداره توګه مطالعه کوي او تل باید اسلامي تاریخ او د اسلافو د شخصیت او کردار تاریخونه مطالعه کړي چې له امله به یې له خپلو اسلافو سره معنوي تعلق برقراره پاته وي.

۴- له خپلو اوسنیو اکابرو او استاذانو سره دې اړیکې وساتي، د هغوی مجلسونو ته دې ورځي او له هغوی څخه دې د توصیو او سپارښتنو غوښتنه کوي.

۹ - پوښتنه: که د خپلو تألیفاتو په اړه هم څه راته وویاست، آیا تاسو د تدریس ترڅنګ کوم تألیفات هم کړي کنه، او که وي هغه کوم کتابونه مو لیکلي؟

= شیخ صاحب: متاسفانه چې د ډېرو بوختیاوو او مشاغلو له امله مې د تالیف او تصنیف لپاره ډېر وخت نه دی پیدا کړی خو بیا هم ځینې لاندیني ناچاپ شوي اثار لرم.

۱: فضل من الله شرح کندیا ۲: احسن التحقیقات فی اثبات الکواکب تحت السموات ۳: تحفة الاناث في مسائل الحیض والنفاس. ۴: قلة البضاعة فی مسائل الرضاعة . ۵: الحواشي علی مسلم الثبوت ۶:البضاعة المزجات فی اصلاح التجارات.

۹ - پوښتنه: ستاسي په اند علمای کرام د تالیف او ترجمې برخې ته باید څومره وخت ورکړي، ستاسي په نظر دا کار څومره مهم دی؟

= شیخ صاحب: زه فکر کوم چې علماء کرام باید تر تالیف او تصنیف ډېره توجه تدریس او تعلیم ته وکړي خو باید په څنګ کې ورسره د تالیف او ترجمې کار هم په معیاري او کره ډول وشي نه داسې لکه نن سبا چې ډېری کتابونه او ژباړې د تجارت په موخه لیکل کیږي او هیڅ علمي معیار او تحقیقي مقام نه لري.

۱۰ - پوښتنه: عصري علومو ته په کوم نظر ګورئ، په ټولنه کې د هغوی اړتیا څومره محسوسوئ، یو طالب العلم چې د عصري پوهې کمال هم له ځان سره ولري؛ دیني خدمات یې څومره مؤثر واقع کیدلای شی.؟

همدا رنګه د یو ډاکتر، انجنیر او معلم لپاره چې په ټولني کې د خدمت ښه مصدر وګرځي؛ دیني زدکړو ته څومره اړتیا لري؟

په آخر کې که د څرک مجلې او په مجموع کې د فرهنګي کمیسون کارکوونکو ته د فرهنګي اومطبوعاتي امورو د نور پرمختګ په باب څه مشوري او لارښووني ولرئ؛ مهرباني به مو وي.؟!

= شیخ صاحب: د دې پوښتنې ځواب خو ډېر تفصیل ته اړتیا لري، کېدای شي چې د مجلې تر ظرفیت لوړ وي، خو په لنډ ډول به داسې ووایم چې: د عصري علومو او فنونو زدکړه ډېره اړینه ده ځکه چې: د هر ملت د بریا او پرمختګ لپاره اقتصادپوهانو، ساینسپوهانو، انجینرانو، سیاست پوهانو او نورو معاصرو کمالدارو کسانو ته اړتیا ده خو که نن سبا موږ په اسلامي او نوره نړۍ کې د عصري زدکړو ادارو او مرکزونو ته دقت وکړو نو هغوی ټول د غربي کلتور او فکر تر چتر لاندې تنظیم شوي دي چې په پایله کې یې چې کله زموږ مسلمان ځوانان د زدکړو لپاره سر وردننه کړي نو له هغې خوا نه چې راووځي د یو معاصر پوه، ډاکتر، ساینسپوه او سیاست پوه پرځای د اسلامي عقایدو منتقد او د غربي افکارو او کلتور ترویجوونکی ترې جوړ شوی وي، ځکه خو لکه څنګه چې اسلامي ټولنه معاصرو علومو ته اړتیا لري همداسې د دې علومو لپاره یو سالم نصابِ تعلیم، مناسب چاپیریال او ښه مدیریت ته اړتیا ده ترڅو موږ ته یو داسې معاصر محصل تربیه کړي چې هم یې عصري فنون زده او هم د اسلامي تهذیب او ارزښتونو منونکی او یو سوچه متدین ځوان وي.

او بل پلو که نن موږ او تاسو دې ته وګورو ، کله چې مخالفین اسلامي عقاید او افکار ننګوي نو ټوله تکیه یې پر ساینس او نورو عصري علومو باندې وي ځکه خو موږ باید په دې برخه کې خلګ ولرو چې اسلامي عقاید او افکار له چیلنجونو وژغوري او مخالفینو ته د هغوی په ژبه ځواب ووایي. لکه: کله چې پخوا اسلامي عقاید د یوناني علومو او فلسفې په مټ تر ګوزار لاندې وو نو اسلامي مفکرینو، علماوو د دې لپاره چې د اسلامي عقایدو او نظریاتو خلاف د دوی د ننګونو مخه ونیسي نو یې نصاب تعلیم ته عقلي او فلسفي فنون ور زیات کړل او د علم الکلام بنسټ یې کېښود .

۱۱ - پوښتنه: په آخر کې که د څرک مجلې او په مجموع کې د فرهنګي کمیسون کارکوونکو ته د فرهنګي اومطبوعاتي امورو د نور پرمختګ په باب څه مشوري او لارښووني ولرئ؛ مهرباني به مو وي.؟!

= شیخ صاحب: د اسلامي امارت د فرهنګي چارو کمیسون کار کوونکو ته دا ویل غواړم چې: الله تعالی تاسو ته د علم د خپراوي تر څنګ د قلمي جهاد موقع درکړې ده او ستا په لاس کې چې کوم قلم دی دا ډېر لوړ او عظیم مقام لري ځکه الله تعالی پخپل کتاب کې پرې قسم خوړلی او الله تعالی چې په کوم شي قسم واخلي په دې کې د هغه شي عظمت ته اشاره وي.

د قلم د ګټو د کثرت اړوند که ووایو چې د توري په وسیله چې څومره کفارو د جهالت او کفر له تیارو خلاصون موندلی، تر دې ډېر خلګ د قلم د زرینو کرښو په وسیله د جهالت له تورو تیارو څخه راوتلي دي، نو دا به له حقیقته لري نه وي. لهذا له تاسو نه مو غوښتنه دا ده چې: د لوی رب شکر وباسئ او په دې عظیم جهاد کې مو نیتونه یوازې د الله تعالی رضا وګرځوئ!

او د لیکنو او مقالو په لیکنو کې ډېر احتیاط او دقت کوئ ځکه علماوو لیکلي چې: د قلم غیبت، د قلم دروغ، په قلم د یو چا ځورونه او داسې نور ګناهونه چې د قلم په وسیله سره تر سره کیږي؛ د ژبې تر ګناهونو سخت او لوی دي، ځکه چې د قلم ګناهونه د ژبې په نسبت اوږد مهالي وي او همداسې په لیکنو او قلمي جهاد کې پوره هڅه کوئ چې د قلم له څوکې مو نفرتونه خپاره نه شي بلکې دې ته مو باید جدي توجه وي چې مینه وروړلي خپره کړئ او خلګ پر ځانونو راغونډ او جلب کړئ.

وفقکم الله لما یحب ویرضی.

پای ......

ليکنه .....ظهورالحق رحيمي

ښځينه مرستيالاني او شريعت

نحمده ونصلی علی رسوله الکريم:

امّابعد ـ دکابل ناکامه او بل واکه اداره لله الحمد ورځ تربلې خپلې ماتې ته متوجه کيږي او لاره تری خطاء کيږي کله يوطرفه ته خپی وهي کله بل طرف ته لکه ذبح کړی چرگ داچې باداران يې دوتلو په حالت کې دي نو دوی دخپلو بادارانود پاته کيدو او دمذاکراتو دبهير دناکامه کيدولپاره قسم قسم حربی اختياروي کله په بی گناه هيواد والو اوددوی په گنجونو باندې توغندی واروي اوکله کله د بی گناه وگړو کورونه بمباروي اوکله دمظلومو بند يانو ازادې ځنډوي دکوم له کبله چې سپيڅلې مذاکرات زيانمن کيږي

دا ټول ددی لپار ترڅوبيا دمظلوم اولس وينه توی اوخپلی شخصی گټې يې ورغوې خو لله الحمد هيواد وال مو هوښيار اوورته متوجه دی او داسلامی امارت مجاهدين ددوی هرناوړه پلان په وخت شنډوي ....

ددی حربو په سلسله کې اجير اودوه سرې حکومت يوه بله لار خپل کړې کوم چې نه شرعي اړخ لري اونه عقلې اونه هم افغانيت ته دمنلو وړ دی .

هغه د هر ولايت دمفسدو واليانو دپاره ښځينه مرستياليانې ټاکل دي.

ديادونې وړده څو ورځې مخکې ددوی په اړه دهمجنس بازی يو راپور بی .بی .سی هم جوړ کړی وو.

داچې په دی ورځوکې دښځو دواکمنی په اړه بحثونه گرم دي نو راځو ددی شرعي اړخ وگورو چې ايا په شريعت کې دښځينه واکمنی څه حيثيت دی په دی اگرچې دقرآن سنت اواجماع امت احکامات واضح دې ليکن يو څه خلک ددی باوجود ديته دجواز ددلائلو موندلو کوشش کوې ترڅو خپل مغربي بادارن خوشحاله اودهغوی دتهذيب پيروي وکړي...

په اسلام کې دهری مسئلی دثبوت لپاره څلور اصول ددليل په طور استعماليږي (۱) قرآن کريم (۲) حديث نبوی ص (۳) اجماع دامت (۴) اجتهاد اوقياس.

(۱):): قران کريم الله ج په قرآن کريم کې په ډيرو ځايونو کې د نارينه اودښځې په مينځ دحقوقو اودفرائضو ويش واضح کړی ـ دواکمنی تصور په اسلام کې دخلافت دی اوپه انسانې معاشره کې واکمن خودمختاره نه وي بلکه واکمنې دالله ج نيابت وي چې کله دانبياؤ عليهم السلام سلسله دبعثت جاري شوه نودامنصب ددوی سره وو په دی هکله دبخارې شريف په کتاب الامارة کې دابوهريره رض څخه يو روايت رانقل شوی دی ـ چې په بنی اسرائيلو کې دسياسې قيادت فريضه پيغمبرانو ع په مخ وړله چې کله يو نبی تللو نوبل به دهغه په ځای راتلی ليکن زما نه وروسته کوم يونبی نشته البته زما نه وروسته خلفآء راځي ـ نوپه دی دنيا کې چې څومره پيغمبران راغلې نارينه وه ـ دالله ج يوقول دی وَمَا ارسلْنا من قبلک الارجالاً نوحی اليهم ـ

يعنې موږ ستا نه وړاندي رسول نه دی ليږلی مګرصرف نارينه دي کومو ته چې موږ وحی ليږو...

دوهم ايت: الّرجال قوّامون علی النساء بمافضّل اللّه بعضهم علی بعضٍ ـ يعنې نارينه واکمن دي په ښځو باندي ځکه چې الله ج بعضوته په بعضو فضيلت ورکړی .

(۲) : حديث نبوی ص همدارنګه خوږ نبي حضوراکرم ص په خپل ډيرو ارشاداتوکې ددی خبرې وضاحت کړی چې دښځې واکمني صرف هلاکت اوناکامې نه ده البته دنارينه دپاره بدترين مرګ دی ـ

امام بخاري رح کتاب المغازی کې دحضرت ابوبکر رض څخه رانقل کړي کله چې حضور ص دفارس خلکو ته خبرورکړ هغه وخت چې دوی دکسری لور خپله واکمنه ټاکلي وه.

لَن يّفلح قوم وّلَوْ امرهم امرأة ـ يعنې هغه قوم هيڅکله نه کاميابيږي چاچې خپله واکمنه ښځه جوړه کړه.

بل حديث مبارک دی: هلکتِ الرّجال حِين أطاعتِ النّساء (مستدرک حاکم ج ۴ص ۲۹۱)

يعنې چې سړی کله دښځې طاعت قبول کړې نوپه هلاکت کې غورځيږي ـ

بل حديث دی: لايُقدس الله أمة قادتهم امرأة (مجمع الزوائدج۵ص۲۱۰) الله ج هغه قوم ته پاکيزګې نه ورکوي دچاچې قيادت ښځه کوي ـ

(۳) : دامت اجماع دخلفاؤ راشيدينو ددور څخه ترنن پوري دامت مسلمه اجماعي تعامل په دی دی چې ښځه دمسلمانانو په هيڅ يوه خطّه کې واکمنه مه جوړه وی په دی باره کې دامت لويو هستيو اقوال.

امام شاه ولی الله دهلوی رح: اجمع المسلمون عليه (حجة الله البالغة ج۲ ص۱۴۹)

(۴)اجتهاد اوقياس: په شريعت کې څلورمه درجه دقياس اواجتهاد ده ددی اصل اګرکه په په غيرمنصوصی دمسائلو دی ليکن ددی اجازه حضور اکرم ص کړی ده ـ

اجتهاد فقه حنفی: لايصح تقرير المراة وی وظيفة الامامة (شامی ج ۴ ص۳۹۵ج ۱ص ۵۱۲)

فقه شافعی: القضاء لايجوز لامراة ـ فقه حنبلی: المراة لاتصلح للامامة ولالتولية البلدان ولهذا لم يول النبی ص ولااحدمن خلفاء الخ ... فقه مالکی: فيشترط فيه العدالة والذکورة والفطنة والعلم ـ

اهل حديث: فيه دليل علی ان لمراة ليست من اهل الولايات ولايحل لقوم توليتها (نيل الاوطارج۸ ص۲۸۴)

ددی دومره دلائلو مخالفت کوې صرف دمغرب دتقليد لپاره ..و ما علينا الا البلغ

جالبه

د انسان په معده کې هر ډول خوراک هضم کيږي، لکن معده پخپله نه هضم کيږي، ځکه چې په معده کې اللّه جل جلاله د (ميوکس) Miucus نظام تخليق کړی، يعنې په معده stomach کې داسې قدرتي تيزاب شته چې هغه فقط خوراک هضم کوي.
له هغه تيزابو څخه خپل وجود ژغورلو لپاره معده له درې ورځو وروسته نوی نوی پوټکی (استر) پخپله جوړوي او خپل سابقه استر ضايع کوي.دا ده هغه رب حکمتونو دي چې د (کن فيکون) تر منشاء لاندې داسې عجيبه نظامونه تخليق کوي.
هَٰذَا خَلْقُ اللَّهِ فَأَرُونِي مَاذَا خَلَقَ الَّذِينَ مِن دُونِهِ

د امام صاحب نه مخکې خلک د چا په مذهب وو!

دڅلورو امامانو څخه چې کوم خلك مخکې تېرشوي دي يا دامام ابوحنيفه رحمه الله څخه مخکې خلك دچا په مذهب وو؟ يعنې صحابه رضی الله عنهم دچا په مذهب وو؟

جواب:

داسوال هم په اصل کې شيعه ګانو اومنکرينو دحديثونوکړی وو.

منکرين دحديثو وائي چې دصحابه وو اودتابعينو په زمانه کې خو بخاري، مسلم، ترمذي وغيره نه وو نوهغوئ په څه شي عمل کولو؟

(۲) جواب : دصحابه وو تعداد له سلو زرو (۱۰۰۰۰۰)څخه زيات وو، شاولي الله رحمه الله فرمايي: چې دا ټول صحابه دوه ډلې وو، يوه ډله دمجتهدينو وه بله ډله دمقلدينو وه، دابن القيم په قول مجتهدين اصحاب کرام پکې يوسل او نه څلوېښت (۱٤۹) وو، باقي ټول مقلدين وو.

بيا دا مجتهدين درې ډلې وو:

(۱) مکثرين: يعنې هغه صحابه چې ډېرې فتوې به يې ورکولې ددوی تعداد شپږ (۶) دی:

حضرت علی، حضرت عبدالله بن مسعود ،حضرت عمر ،حضرت زيدبن ثابت، حضرت ابو الدرداء ،حضرت ابی بن کعب رضی الله عنهم اجمعين .

(۲) متوسطين: يعنې هغه صحابه چې درميانه فتوې به يې ورکولې، ددې صحابه وو تعداد شل (۲۰) وو.

(۳) مقللين: يعنې هغه صحابه چې لږې فتوې به يې ورکولې ددې صحابه وو تعداد يوسل اودرويشت (۱۲۳) وو.

ددې صحابه وو په زرګونو فتوې

په مصنف عبدالرزاق ،تهذيب الاثار، اومعانی الاثار وغيره کتابونو کې ذکر دي.

يواځې په مصنف عبدالرزاق کې تقريباًاويا زره فتوې دي، مقلدينو صحابه وو به پوښتنه کوله او مجتهدينو صحابه وو به جواب ورکولو، نه به مستفتي مطالبه ددليل کوله اونه به مفتي ورته دمسئلې سره دليل ذکر کولو صرف په دې اعتماد به منل کېده چې پدې مسئله دمفتی سره دليل شته چې همدې ته تقليد وايي، نو يواځې په مصنف عبدالرزاق کې د تقليد اويا زره (۷۰۰۰۰) دلائل دي.

ددغه مجتهدينو صحابه وو په باره کې شاه ولي الله رحمه الله فرمائي:

ثُمَّ اِنَّهُمْ تَفَرَّقُوْافِي الْبِلَادِ وصَارَ كُلُّ وَاحِدٍ مُقْتَدٰي نَاحِيَةٍ مِنَ النَّوَاحِيْ

يعنې بيا دغه مجتهدين صحابه رضی الله عنهم په مختلفو وطنونو کې خپاره شول او دهرې علاقې خلکو ديو يو صحابي تقليد شروع کړو .

۱. دمکې مکرمې صحابه کرامو اوتابعينو به دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما تقليد شخصي کولو، دده معمول داوو چې اول به يې په قرآن فيصله کوله، که هلته به يې مسئله پيدا نکړه نو بيا به يئ په سنت درسول الله فيصله کوله، که په سنت کې به هم پيدانه شوه نو بيا به يئ دحضرت ابوبکر اوعمر رضی الله عنهما په فيصلو باندې فيصله کوله اوکه دهغوئ فيصله به هم پيدانشوه نو په اخرکې به ئې په خپله رائه او اجتهاد باندې فيصله کوله .

دعبدالله بن عباس رضی الله عنهما ډيرى فتوې په مصنف عبدالرزاق اوپه مصنف ابن ابی شيبه کې ذکر دي مطالبه ددليل ورسره نده ذکر چې همدې ته تقليدوايي.

دمدينې منورې صحابه کرامو او تابعينو به دحضرت زيدبن ثابت> تقليد شخصي کولو حتی چې اهل مدينه وو به عبدالله بن عباس رضی الله عنهما ته فرمايل: لَانَاْخُذُ بِقَوْلِكَ وَنَدَعُ قَوْلَ زَيْدٍ

يعنې ستا دقول په مقابل کې مونږ دزيد> قول نه پرېږدو، دوي مکمل دزيد بن ثابت> تقليدشخصي کولو، شارحين ددې په ترجمه کې ليکي چې :

لَانُتَابِعُكَ يَابْنَ عَبَّاسٍ وَاَنْتَ تُخَالِفُ زَيْداً اوچې کله به يې فتوی ورکوله نو دقرآن اود حديث څخه به چې ثبوت پيدانشو نو فرمايل به يې: اِنَّمَا اَقُوْلُ بِرَائِیْ

۳. ديمن صحابه ؤ او تابعينو به دمعاذ > تقليد شخصي کولو.

٤. دبصرې صحابه وو؟ او تابعينو به دانس> تقليد شخصي کولو.

٥. دکوفې خلکو به دعبدالله بن مسعود تقليد شخصي کولو، دعبدالله بن مسعود > منشور داوو: فَمَنْ عَرَضَ لَه مِنْكُمْ قَضَاءً فَلْيَقْضِ بِمَا فِیْ كِتَابِ اللهِ فَاِنْ جَاءَ اَمْرٌ لَيْسَ فِیْ كِتَابِ اللهِ فَلْيَقْضِ بِمَا قَضٰى بِهِ نَبِيُّهُ فَاِنْ جَاءَ اَمْرٌ لَيْسَ فِیْ كِتَابِ اللهِ وَلَاقَضٰى بِهِ نَبِيُّهُ فَلْيَقْضِ بِمَا قَضٰى بِهِ الصَّالِحُوْنَ، فَاِنْ جَاءَ اَمْرٌلَيْسَ فِیْ كِتَابِ اللهِ وَلَاقَضٰى بِهِ نَبِيُّهُ. وَلَاقَضٰى بِهِ الصَّالِحُوْنَ فَلْيَجْتَهِدْ بِرَاْيِهِ (والحديث جيد)

د دارمي الفاظ داسې دي:

٦. فَاِنْ لَمْ يَكُنْ فِيْمَا اجْتَمَعَ عَلَيْهِ الْمُسْلِمُوْنَ فَاجْتَهِدْ بِرَأْيِكَ (ج۱ ص۶۱).

وَعَنْ ابْنِ مَسْعُوْد> اِنَّهُ قَالَ فِیْ غَيْرِ مَا مسئلة اَقُوْلُ فِيْهِ بِرَأْيِ .

يعنې اول فيصله په کتاب الله ده، بيا په سنت الرسول ده، بيا په اجماع دصحابه وو ده، که په دې کې پيدانشوه بيا حکم اوفيصله په خپل اجتهاد ده. نو درسول الله • څخه وروسته ددغو صحابه وو تقليد کېدلو د صحابه وو رضی الله عنهم څخه وروسته دتابعينو زمانه شوه. شاه ولی الله رحمه الله فرمايي:فَعِنْدَ ذٰلِكَ صَارَ لِكُلِّ عَالِمٍ مِنَ التَّابِعِيْنَ مَذْهَبٌ عَلٰى حِيَالِهٖ فَانْتَصَبَ فِیْ كُلِّ بَلَدٍ اِمَامٌ .

يعنې هرتابعي عالم ځانته مذهب جوړ کړو اوپه هرښار کې يو يو تابعي عالم امام جوړ شو. صدر الائمه مکي فرمايي: چې يوه ورځ حضرت عطاء رحمه الله دخليفه هشام بن عبدالملك په خدمت کې حاضر شوخليفه ترېنه پوښتنه وکړه، چې ته داسلامي ښارونو امامان پېژنې؟ حضرت عطاء رحمه الله وويل هو!

۱. دمدينې منورې دخلکو امام حضرت نافع رح دی.

۲. دمکې مکرمې دخلکو امام حضرت عطاء رح دی .

۳. ديمن دخلکوامام حضرت طاوس رح دی.

٤. ديمامې دخلکو امام يحيی ابن کثير رح دی.

٥. دشام دخلکو امام حضرت مکحول رح دی.

٦. دعراق دخلکو امام حضرت ميمون بن مهران رح دی.

۷. دخراسان دخلکو امام حضرت ضحاك بن مزاحم رح دی.

۸. دبصرې دخلکو امام حضرت حسن بصري رح دی.

۹. دکوفې دخلکو امام حضرت ابراهيم نخعي رح دی..

نوهېڅ دور په تاريخ داسلام کې داسې ندي تېرشوي چې صرف يوکس دې په کې غير مقلد وي.

امام غزالي رح فرمايي:په تقليد باندې دټولو صحابه وو اجماع ده ، اود صحابه وو په دور کې دا په تواتر ثابت وو .

شاه ولي الله رح دشيخ عزالدين بن سلام رح څخه نقل کوي:

اَنَّ النَّاسَ لَمْ يَزَالُوْ عَنْ زَمَنِ الصَّحَابَةِ رَضِیَ اللهُ عَنْهُمْ اِلٰى اَنْ ظَهَرَتِ الْمَذَاهِبُ الْاَرْبَعَةَ يُقَلِّدُوْنَ مَنْ اِتَّفَقَ مِنَ الْعُلَمَاءِ مِنْ غَيْرِ نَكِيْرٍ مِنْ اَحَدٍ يَعْتَبِرُ اِنْكَارُهُ وَلَوْكَانَ ذٰلِكَ بَاطِلاً لَاَنْكَرُوْهُ .

بيا فرمايي:فَهَذَا كَيْفَ يُنْكِرُهُ مَعَ اَنَّ الاِسْتِفْتَاءَ لَمْ يَزَلْ بَيْنَ الْمُسْلِمِيْنَ مِنْ عَهْدِالنَّبِیِّ • وَلَافَرْقَ بَيْنَ اَنْ يَسْتَفْتِیَ هٰذَا دَائِمًا وَيَسْتَفْتِیَ هٰذَا حِيْناً بَعْدَ اَنْ يَكُوْنَ مَجْمَعٌ عَلٰى مَاذَكَرْنَا.

يعنې تقليد دصحابه وو رض د دور څخه شروع دی، (اودهغه وخت څخه تر شاه ولی الله رحمه الله پورې هېڅ غير مقلد نه وو) بيادې څلورو امامانو دصحابه؟ وو او د تابعينو رحمهم الله فتوې راجمع او مدونې يې کړې. اوترتيب يې ورکړو او په بعضو ځايونو کې يې خپل اجتهاد وکړو.

له دې وجهې ټول خلك په دې څلورو مذهبونو کې داخل شول.

لکه احاديث چې دصحابه وو او دتابعينو په دور کې وو لېکن بخاري اومسلم وغيره کتابونه نه وو. بيا

وروسته امام بخاری، مسلم، وغیره دااحادیث مرتب کړه لدې وجهې ورته دبخاري ، مسلم، ترمذي وغیره حدیث وایي حالانکه دصحابه کرامو؟ اودتابعینو په وخت کې نه بخاري وه نه مسلم اونه نور، نو همداشان دځلورو مذهبونو مسائل وو لیکن مرتب نه وو .بیا امام صاحب وغیره مجتهدینو مرتب کړل له دې وجې دې امامانو ته منسوبیږي.

مصادر ومراجع:

- حاکم فی معرفة علوم الحدیث ص ۱۹۸، مناقب موافق ج۱ص۷ .
- الانصاف ص۷
- شذرات الذهب لابن العماد ص۱۴۸ج۱.
- جامع بیان العلم ج۲ص۵۲، طبقات ابن سعد ج۳ص ۱۳۶.
- جامع بیان العلم ج۲ ص۵۶ او۵۷ او۵۸ او۵۹. باب اجتهاد الرأی علی الاصول ص ۸٤٦ دار ابن الجوزي.
- اعلام الموقعین ج۱ ص۷.(فضل عمر بن الخطاب)
- اعلام الموقعین ج۱ ص۷
- اعلام الموقعین ج۱ ص۸ (فضل ابن عباس)
- جامع بیان العلم ج۲ص۶۱وص۶۴
- تذکرة الحفاظ ج ۱ / ص ۷۴ داراحیاء التراث العربی
- تذکرة الحافظ ج ۱/ ۷۸ داراحیاء التراث العربی
- تذکرة الحافظ ج ۱ / ص ۱۷۴ داراحیاء التراث العربی
- اعلام الموقعین فصل فضل عمربن الخطاب ج ۱ / ص ۲۷.
-اعلام الموقعین فصل الصحابة الذین انتشرعنهم الدین ج ۱ / ص ۳۰.
- مجموعة الفتاوی ج ۳۲/ ص ۶۶ مکتبة العبیکان
-شرح المذهب فصل فی اداب المستفتی ج ۱ / ص ۸۸ دارالفکر بیروت
- حاشیه حسن المساعي ص۶۹.
- الاحکام فی اصول الاحکام ج ۴ / ص ۱۹۸ مؤسسة الحلبی القاهره
- ج۱ص ۴۸ او۵۳۲.
- قرة العینین ص ۲۵۱.
- طبقات ابن سعد ج ۲ ص۵۲
- الانصاف ص۳
- دارمي ج۱ ص ۵۹ ،مستدرك وقال الحاکم صحیح ج۱ ص ۳۴۰ دارمي ج۱ ص ۵۹، سنن بیهقي ج۱ص۲۲۵، جامع بیان العلم ص۵۷، ۵۸ ج ۲.
- بخاري ج۱ ص۲۳۷
- عمدة القاري ج۴ ص ۴۷۷ فتح الباري ج۳ ص ۴۶۳ .
- جامع بیان العلم ج۲ص ۵۸. بیهقي ج۱ص ۱۵۵.
- نسائی ص ۲۶۴ باب الحکم باتفاق اهل العلم .- جامع بیان العلم ج۲ص۵۷
- الانصاف ص۶
- مناقب موفق ص۷ج ۱ دا واقعه حاکم هم ذکر کړیده په معرفة علوم الحدیث کې صفحه ۱۹۸.
- المستصفی ج۲ ص۳۸۵.
- عقد الجید ص ۳۶
- عقد الجید ص ۳۹

دارالافتاء لغمان وریښمین تنګی

باید څنګه او کومې خبرې وکړو؟

استاذم محترم شیخ الاسلام مفتي محمدتقي عثماني حفظه الله فرمایي: چې زما والد مرحوم (مفتي اعظم مفتي محمدشفیع رحمه الله به فرمایل: کومه خبره چې کوې له هغې مخکې باید فکر وکړې چې که ددې خبرې په هکله زه عدالت او څارنوالۍ ته وغوښتل سم ایا دا خبره زه په ثبوت رسولی سم که نه؟ که دې په ثبوت رسولی سوه،بیا یې وکړه کنې مه یې کوه؛ دا ځکه چې ددې دنیا ورها خوا یوه بله دنیا سته او هلته خورا ستره او داسي څارنوالي او عدالت سته چې د عدل او انصاف پرته پکې بل څه نسته،هلته به د هر قول او عمل په اړه در څخه پوښتنه کیږي. الله دې راته د صحیح قول و عمل توفیق راکړي. آمین

د ذوالحجة د لومړۍ لسيزې فضائل

د اسلام سايټ څخه په مننه

که له يوه پلوه متعال خدای جل جلاله دي امت ته دنورو امتونو په پرتله مختصره اوکوتاه،زندګي ورکړي خو له بل پلوه يې ورسره بی ساري او عظيم احسانونه کړي چې په نورو امتونوکي هغه ډير کم ترسترګو کيږی ، ددی سترو او لويو احسانونو له جملی نه يو داده چې الله تبارک وتعالی ددي اخېرني امت لپاره داسي خاص اوځانګړي مواقع اووختونه ټاکلي او پيدا کړي چې په هغو کي په ډير کم بدني اويامالی عباداتو،متعال خدای (جل جلاله) خپل بنده ته بې شميره اجرونه أو ثوابونه ور کوي او سبب دعفوي دزياتو ګناهونو بې ګرزوي، دالله جل جلاله) دقرب او سبب دوصول د لازياتونعمتونو اوهم سبب دخاتمې په ايمان ګرزوي ، اوپه دی سربيره ددنيا اواخرت نوري ګڼې منافع اوګټې په کښی نغښتي اوپرتي دي ،له همدي جملي نه يو هم دذي الحجة لمړۍ لسيزه ده ، چې الله رب العزت خپلو بندګانوته په خپل مقدس کتاب قرأن کريم کي اوهم دخپل محبوب پيغمبرحضرت محمد صلي الله عليه و اله وسلم په خوله مبارک ښودلي دي ،اوديته يې هڅه ولي چې دغه مبارکي شپې دالله تعالی په عبادت په پوره خلوص اوتوجه دزړه سره ژوندي وساتي ، ترڅو مستحق اومصدر دزيات اجر اوثواب وګرزي ، فقهاؤدمذهب هم ددغو شپو عبادت مستحب بللی،کما ذکرفی کتب الفقه غيرمرة،فتاوی محموديه۲/۳۳۵

وفي الحديث ،عن ابن عباس رضی الله عنه)قال رسول الله صلی الله عليه وسلم ، ما من ايام العمل الصالح فيهن احب الی الله من هذه الايام العشرة ، رواه البخاری.


ترجمه ،رسول الله صلی الله عليه وسلم وفرمايل ،څومره چې نيک اعمال الله تعالی ته پدی لسو ورځو کی محبوب دې په نورو ورځو کی ورته دومره محبوب ندې ، مولانا رفعت قاسمی ددې حديث په تشريح کی ليکی ، لکه څنګه چي دهفتي په اوو(۷) ورځو کی جمعه ، دکال په دولسو(۱۲) مياشتوکی روژه د روژي په درو (۳)عشرو کی اخېره عشره يو خاص فضيلت لری همدا شان الله تعالی دذي الحجة لومړی لس(۱۰) ورځي هم دفضل او رحمت خاص اوځانګړی ورځې ټاکلې دي حج يی هم په همدی ورځو کی مقرر کړی دی بهرحال دادالله تعالی درحمت يوه ځانګړی عشره ده په دی ورځو کی الله جل جلاله) ته دبنده هرنيک عمل زيات محبوب اود الله په نزد ستر اوعظيم ارزښت لری ، رسايل مولانا رفعت ج۳-ص۱۱- بحواله معارف الحديث ج۳-ص۴۱۷——

و روي عن معاذ بن جبل)رضی الله عنه (قال،قال رسول الله) صلی الله عليه وسلم (قال من أحيأ الليالي الخمس وجبت له الجنة ليلة التروية وليلة العرفة وليلة النحروليلةالفطروليلة النصف من الشعبان ،رواه الاصفهاني الترغيب والترهيب۲۸۰ / ۱

ترجمه ، له معاذ بن جبل رضی الله عنه څخه روايت ده فرمايي چې رسول الله صلی الله وسلم وفرمائل، کوم څوک چې ژوندی کړي دغه پنځه(۵) شپې په عبادت سره دهغه لپاره به جنت واجب شی)له هغو پنځو شپو څخه يوه هم دترويې (يعنی د أتم شپه ده ،دويم، دعرفات شپه ده ،اودريم، دلويې أختر شپه ده ،او څلرم، دکوچنی أختر شپه ده ،او پنځمه ،پنځلسم (۱۵) دشعبان يعنی دبرات پنځلسمه شپه ده ... وايضا فی الحديث ، عن ابی امامة رضی الله عنه)عن النبی صلی الله عليه وسلم ، من قام ليلتی العيدين محتسبا لم يمت قلبه يوم تموت القلوب ، رواه ابن ماجه ، الترغيب والتر هيب ج ۱-ص ۲۸۰].

ابی امامة رض) روايت کوی فرمايې رسول الله صلی الله عليه وسلم ، وفرمايل ، څوک چي داخترونو دواړې شپې داجر اوثواب په اميد اوهيله په عبادت ژوندی کړي دهغه زړه به په هغه ورځ ونه مرې په کومه ورځ چې دخلګو زړونه (له ويری اوهيبت دقيامت) مرې،

علماء فرمايي دقيامت ورځ هغه له هيبته او ويری ډکه ورځ ده چې خلګ به دزياتې ويری له امله مرګ ته تر ژوند ترجيح ورکوی خو کوم څوک چې ددي ورځو په مبارکو شپو کي خپل زړه دالله تعالی په ذکر او عبادت ژوندی وساتي دقيامت په ورځ به ورته له مذکوره خوف اوويری آمن اوسکون ور په برخه شې ،،اللهم ثبت اقدامنا، علی الصراط يوم تز ل الا قدام ،وبيض وجوهنا يوم تسود الوجوه. امين



پر پلار د زوی حقونه

عمر بن الخطاب رضي الله عنه ته یو سړی راغی، ورسره خپل زوی ته یې اشاره وکړه او عمر ته یې وویل: دا زوی مې عاق دی یعني زما خبره نه مني، عمر یې زوی ته وویل: ته له الله نه، نه وېرېږې چې د خپل پلار نافرماني کوې؟! ځکه پلار دومره او دومره حقونه لري، زوی یې عمر ته وویل: اې امیر المؤمنین! ایا زوی هم پر پلار حقونه لري؟

عمر رضي الله عنه ورته وویل: هو، زوی پر پلار حقونه لري او هغه دا چې باید ښه مور ورته غوره کړي، څو یې خلک اولاد ته د مور پېغور ورنه کړي. بل دا چې پلار باید ښه نوم پرې کېږدي او دریم حق یې دا دی چې باید قران ورزده کړي، یعني علم وروښیي.

زوی یې عمر ته وویل: په الله قسم کوم چې پلار مې زما لپاره ښه مور نه ده غوره کړې، یوه سندۍ یې په څلور سوه درهمه اخیستې وه. او نه یې پر ما ښه نوم ایښی دی، بلکې پر ما یې جُعل (نر خفاش) نوم ایښی. او نه یې د قران یو ایت رازده کړی.

عمر رضي الله عنه یې پلار ته وکتل او ورته ویې ویل: ته وایې زوی مې خبره نه مني او عاق دی؟! هغه خو تا د هغه له عاق کیدلو مخکې عاق کړی دی، یعني تا اول هغه ته د هغه حقوق نه دي ورکړي، ولاړ یېره ... البصائر في تذکیر العشائر لمحمد عبدالحي السَّورَتيّ. تنبیه الغافلین لابي اللیث السمرقندي ص٦٩}.





Srak Magazine

